# ميسوري




# د موټر چلوونکي لارښود

## د ميسوري د نقليه وسايلو پر قوانينو او د جواز پر اړتياوو د پوهېدو لارښود

په اکتوبر 2021 نېټه بيا وکتل شو

This independent translation is not affiliated with the State of Missouri or any of its agencies.
دا خپلواکه ژباړه د ميسوري ايالت يا د هغي کومي اداري پوري تړاو نلري.

د دوه ژبو نړیوال مرستیال خدمتونه، یوه 501 (c) (3) غیر انتفاعي ایجنسي چې په میسوري کې کډوالو او مهاجرینو ته خدمت کوي، د عملیاتو د متحدینو د ښه راغلاست په ملاتړ کې د مستقیمې ژبې سرچینې چمتو کولو لپاره دا ژباړه دنده ترسره کړې، د امریکې عملیات د زیان منونکو افغانانو امریکې ته هرکلی کوي. موږ هیله لرو چې دا سند به د میسوري د موټر چلولو اجازه نامې ازموینې لپاره زده کولو کې مرسته وکړي او د میسوري کاري ځواک ته د نوي راغلو افغانانو راتګ اسانه کولو کې مرسته وکړي. دا سند د ډاونلوډ، بیا تولید او شریکولو لپاره وړیا دی.

دا ژباړه د دوه ژبو نړیوالو مرستیالو خدمتونو (bilingualstl.org) لخوا کمېشن شوی او د یوه خیریه بنسټ د سخاوتمند ملاتړ له لارې ممکنه شوې. د دې خپلواکې ژباړې د تولید لپاره هیڅ مالیه ورکوونکي فنډونه ندي کارول شوي، او نه هم د میسوري ایالت یا د هغې کومې ایجنسي د دې ژباړې غوښتنه، ویټ یا منظور کړې.

موږ باور لرو چې دا سند به د مارچ 1، 2022 پورې د میسوري موټر چلوونکي لاسي کتاب یوه سمه او وفاداره پښتو ژباړه وي. مهرباني وکړئ تاسو ته مشوره درکړل کیږي چې دا ژباړه ممکن د دې نیټې وروسته د میسوري ایالت لخوا د سرچینې سند کې تازه معلومات یا بدلونونه په نښه نکړي. د دې سند کاروونکي په دي پوهیږي چې دا لاسي کتاب یوازې د میسوري ایالت لپاره پلي کیږي نه د نورو ایالتونو لارښودونو یا قوانینو لپاره. کاروونکي نور پوهیږي چې دا ژباړه یوازې د معلوماتو هدفونو لپاره ده، وړیا ویشل کیږي، او موافق دي چې دوی به ایجنسي نه نیسي، د هغې ژباړونکي، یا د میسوري ریاست کوم دفتر د کومې ریښتینې یا لیدل شوي غلطۍ یا غلط ارتباط لپاره.

جیسن بیکر، اجرایوي مدیر

ربیکا نیډنر، د ژبو خدمتونو مدیر

دوه ژبې نړیوال مرستیال خدمتونه

Bilingual International Assistant Services, a 501(c)(3) not-for-profit agency serving immigrants and refugees in Missouri, has commissioned this translation to provide direct language resources in support of Operation Allies Welcome, the U.S. operation welcoming vulnerable Afghans to the United States. We hope that this document will assist with learning for the Missouri Driver Permit Exam and help ease the transition for new Afghan arrivals into the Missouri workforce. This document is free to download, reproduce, and share.

This translation was commissioned by Bilingual International Assistant Services (bilingualstl.org) and made possible through the generous support of a charitable foundation. No taxpayer funds were used to produce this independent translation, nor did the State of Missouri or any of its agencies request, vet, or approve this translation.

We believe this document to be an accurate and faithful Pashto translation of the Missouri Driver Handbook as of March 1, 2022. Please be advised that this translation may not address updates or changes made to the source document by the State of Missouri after this date. Users of this document understand that this handbook applies only to the State of Missouri and not to the guidelines or laws of other states. Users further understand that this translation is for informational purposes only, is being distributed free of charge, and agree that they will not hold the agency, its translators, or any State of Missouri office liable for any real or perceived error or miscommunication.

Jason Baker, Executive Director

Rebecca Niedner, Language Services Director

Bilingual International Assistant Services

## د مطالبو لړلیک


| | | |
|---|---|---|
| 1 څپرکی — | د میسوري د موټر چلوونکی جواز | 3 مخ |
| 2 څپرکی — | د موټر چلوونکي ازمویل | 18 مخ |
| 3 څپرکی — | د سړک اصول | 22 مخ |
| 4 څپرکی — | د سړک شریکول | 28 مخ |
| 5 څپرکی — | پارکېنګ | 35 مخ |
| 6 څپرکی — | پر لویه لاره موټر چلول | 37 مخ |
| 7 څپرکی — | د سړک د سر کرښې، ترافیکي نښې او سېګنالونه | 42 مخ |
| 8 څپرکی — | د هرې ورځې موټر چلونې لپاره د خوندي موټرچلونې لارښوونې | 55 مخ |
| 9 څپرکی — | د موټر چلونې د ځانګړو حالاتو لپاره د خوندي موټر چلونې لارښوونې | 63 مخ |
| 10 څپرکی — | الکول، نشه يي توکي او موټر چلونه | 68 مخ |
| 11 څپرکی — | د نقطي سیستم | 74 مخ |
| 12 څپرکی — | د موټر عنوان او راجستر کول | 76 مخ |
| 13 څپرکی — | الزامي بیمه | 80 مخ |
| 14 څپرکی — | د خوندیتوب او اخراجو کنټنې او اړین وسایل | 84 مخ |
| 15 څپرکی — | سوداګریز موټرونه | 88 مخ |
| ضمیمه | | 93 مخ |
| د اړیکي معلومات | | 96 مخ |


یادښت: د ایالت د نقلیه وسایطو قوانین چې په دې لارښود کې روښانه شوي دي، په بشپړه توګه خپاره شوي نه دي او عبارتونه یو ډول نه دي. د فدرال او ایالتي قوانینو د احتمالي بدلونونو او د عایداتو د ډیپارټمنټ د پالیسۍ له مخې، ښایي په دې لارښود کې شته معلومات تل اوسني نه وي. وزارت به خپله ټوله هڅه وکړي چې هر ډول بدولون پر خپل وخت ژر تر ژره عملي کړي.مهرباني وکړئ د نویو نسخو په اړه زموږ وېب سایټ وګورئ.

د میسوري د موټر چلونې لارښود د میسوري د عایداتو د ریاست له لوري خپور شوی دی.

**د میسوري د موټر چلونې د لاربښود په دقت سره لوستل به د موټر چلونې په برخه کې پر ځان ستاسو باور ډېر کړي او د میسوري د ترافیکي قوانینو په اړه به ستاسو د پوهاوي کچه لوړه کړي. هر څومره چې ستاسو پوهه زیات وي، په هماغه کچه خوندي یاست!**

د ترافیکي قوانینو په اړه د خپلې پوهې د ازمویلو لپاره تاسو اړتیا لرئ د 25 دقیقو یوه لیکلې ازموینه ورکړئ چې پوښتنې به یې څو ځوابه وي. د دې لاربښود مطالعه کول به تاسو ازموینې ته چمتو کړي. تاسو باید 20 پوښتنو ته په سمه توګه ځوابونه ورکړئ تر څو په ازموینه کې بریالي شئ. د ازموینې ټولې پوښتنې په مستقیم ډول له هغو معلوماتو څخه راځي چې په دې لاربښود کې موجود دي. هېڅ چال پوښتنې پکې نشته.

د خپل د موټر چلونې د مهارت د ازمویلو لپاره باید تاسو د موټر چلونې یوه ازموینه ورکړئ. ستاسو ازموینه اخیستونکی پوهېږي چې د موټر چلونې ازموینه به ستاسو لپاره یوه غیرعادي تجربه وي او تاسوممکن غوسه او نارامه شئ. که غوسه شوئ یا ووېرېدئ، په مهربانۍ سره په یاد ولرئ چې ستاسو ازموینې اخیستونکي ستاسو په څېر له ډېرو کسانو سره ملګرتیا کړې ده، او هغه د دې لپاره له تاسو سره په موټر کې کېني تر څو ډاډ حاصل کړي چې تاسو وکولای شئ خپل موټر کنټرول کړئ او د خوندیتوب اصول مراعات کړئ. ستاسو ازموینه اخیستونکی به په هېڅ ډول هڅه ونکړي چې سربداله مو کړي. په یاد ولرئ چې هر کال زرګونه خلک دغه ازموینه ورکوي او د موټر چلونې جواز ترلاسه کوي. که هغوی دا کار کولای شي، نو تاسو یې هم کولای شئ! یوازې ارام اوسئ او خپله ټوله هڅه ترسره کړئ.

موږ غواړو په دې لاربښود کې د شته موادو په اړه تبصرې او پوښتنې اورو:

| | |
|---|---|
| <u>پته:</u> | Driver License Bureau<br>P.O. Box 200<br>Jefferson City, MO 65105-0200 |
| <u>ټلیفون:</u> | (573) 526-2407 |
| <u>فکس:</u> | (573) 522-8174 |
| <u>برېښنالیک:</u> | **dlbmail@dor.mo.gov** |
| <u>وېب سایټ:</u> | **http://dor.mo.gov/** |

د نورو اړوندو اېجنسیو او ادارو نومونه او د ټلیفون شمېرې د دې لاربښود په وروستي مخ کې موجودې دي.

د میسوري د سوداګریزو موټرونو د چلونې د جواز لاربښود او د موټر سایکل چلونې لاربښود زموږ پر وېب سایټ **http://dor.mo.gov/** پوست شوي دي. تاسو همدارنګه کولای شئ د میسوري ایالت د لویې لارې له ګشت (MSHP) او یا د نقلیه وسایطو د چلونې د جواز ورکړې له بلې هرې اداري څخه یوه کاپي وغواړئ.

# 1 څپرکی - د میسوري د موټر چلوني جواز

هر څوک چې د میسوري په عامه سړکونو نقلیه وسیله او یا موټرسایکل چلوي، د هغوی د موټر چلوني یوه معتبر جواز ته اړتیا لري. تاسو کولای شئ د میسوري د موټر چلوني جواز د میسوري د جواز ورکولو له هرې دفتر څخه ترلاسه کړئ.

تاسو باید د میسوري د موټر چلوني جواز ولرئ که چېرته:

- تاسو په میسوري کې اوسېږئ، عمر مو 16 کاله یا تر دې لوړ دی او غواړئ موټر وچلوئ.
- تاسو د میسوري نوی اوسیدونکی یاست او غواړئ موټر وچلوئ، ان که تاسو د نورو ایالتونو د موټر چلوني جواز هم ولرئ.
- تاسو له ایالت څخه بهر د سوداګریز موټر چلوونکی یاست او په تېرو 30 ورځو کې میسوري ته راغلي یاست. (په مهربانۍ سره د میسوري د سوداګریز موټر چلوني د جواز لارښود ته مراجعه وکړئ.)
- تاسو د میسوري د موټر چلوني جواز ته اړتیا نلرئ، که چېرته:
- تاسو د وسله والو ځواکونو غړی یاست او له خپل اصلي ایالت څخه د موټر چلوني یو معتبر جواز لرئ.
- تاسو یو بشپړ وخت زده کوونکی یاست او له خپل اصلي ایالت څخه د موټر چلوني یو معتبر جواز لرئ.
- تاسو د کروندې ټراکتور چلوئ یا یې په موقتي ډول چلوئ او یا د کرنیزو موخو لپاره پر لویو لارو سفر کوئ.

تاسو اړیاست چې د موټر چلوني پر مهال د موټر چلوني جواز او یا اجازه لیک له ځان سره ولېږدوئ. که چېرته د قانون د پلي کولو کوم افسر له تاسو څخه غواړي چې د موټر چلوني جوازیا اجازه لیک مو ور وښایاست، نو تاسو باید دا کار وکړئ. که تاسو کوم چا ته اجازه ورکړئ چې ستاسو د موټر چلوني له جواز او یا اجازه لیک څخه ګټه واخلي، نو دا د قانون خلاف عمل دی.

نکته**!** هر څوک چې نوی جواز او یا اجازه لیک ترلاسه کوي، اړتیا لري د قانوني وضعیت تصدیق، هویت (بشپړ قانوني نوم)، د ټولنیز امنیت شمېره او د میسوري اقامت وښیي. دغه اړتیاوې په جزئیاتو سره وروسته په دې څپرکي کې روښانه شوې دي.

**د اجازه لیکونو ډولونه**

که ستاسو عمر له 21 کلونو څخه کم وي، نو یو اجازه لیک به درکړل شي چې تاسو د صغیر په توګه معرفي کوي.

**د لارښووني اجازه لیک - پر شرایطو برابر سن: 15**

دا د ځوانو موټر چلوونکو لپاره د میسوري د موټر چلوني د فراغت د جواز د پروګرام لومړنی ګام دی. په عمومي توګه دا یوه ځوان شخص ته فرصت ورکوي تر څو د یوه مجوزبالغ کس تر نظارت لاندې موټرچلول زده کړي. دا معلومات له نورو جزئیاتو سره وروسته په دې څپرکي کې وګورئ.

مهم یادښت: د ازمویني هغه فورم چې د میسوري ایالت د لویې لارې د ګشت له خوا ورکړل شوی دی، هغه د اجازه لیک او یا جواز په توګه اعتبار نلري. تاسو باید د ریښتیني اجازه لیک او یا جواز د غوښتنې لپاره د ازمویني فورم خپل د جواز ځایي دفتر ته وسپارئ تر څو د GDL او حقوقي اپراتور اړتیاوې بشپړې کړئ.

**د موټرسایکل چلوني د زده کړې اجازه لیک - پر شرایطو برابر سن: 15½ یا 16**

تاسو کولای شئ د موټرسایکل چلوني د زده کړې اجازه لیک ته نوم لیکنه وکړئ تر څو زده کړئ چې موټرسایکل او یا درې ټایره موټرسایکل څه ډول وچلوئ. ستاسو لپاره د نوم لیکنې پر شرایطو برابر سن 15½ یا 16 کاله دی، لکه لاندې چې شرح شوی دی.

- <u>15½ کاله عمر (15 کاله او 182 ورځې)</u>

د موټر سایکل چلوني د زده کړې اجازه لیک به یوازې په هغه صورت کې درکړل شي چې تاسو د موټر سایکل چلوني یو منل شوی روزنیز کورس په بریالیتوب سره بشپړ کړئ. تاسو باید د F او M ټولګیو لیکلي، بصري او د سړک د نښو ازمویني بشپړې کړئ.

تاسو باید د خپل پلار او یا قانوني سرپرست لیکلی رضایت هم ولرئ. دغه اجازه لیک یوازې په ورځ کې، د کور د شعاع په 50 مایلي کې، یا داسې موټرسایکل د چلونې اجازه ورکوي چې له 250 سي سي څخه لوی نه وي او بله سورلۍ هم ونلري.

- <u>16 کالهعمر او یا تر دې لوړ وي</u>

که ستاسو عمر 16 کاله او یا تر دې لوړ وي کولای شئ د موټرسایکل د زده کړې اجازه لیک ته نوم لیکنه وکړئ، مګر د موټرسایکل چلونې د زده کړې کورس اړین نه دی. که تاسو د موټر چلونې یو معتبر جواز نلرئ، باید د F او M ټولګیو لیکلي ازموینې ورکړئ تر څو د موټرسایکل د زده کړې اجازه لیک ترلاسه کړئ.

کله چې تاسو چمتو شوئ، کولای شئ د موټرسایکل چلونې ازموینه ورکړئ او یوه مناسبه اندازه فیس تادیه کړئ تر څو د موټرسایکل لپاره پر شرایطو برابر شئ.

د میسوري د موټرسایکل د قوانینو په اړه د نورو معلوماتو لپاره د موټرسایکل چلوونکي لارښوود وګورئ چې زموږ پر ویب سایټ **http://dor .mo .gov/** پوسټ شوی دی. تاسو همدارنګه کولای شئ یوه کاپي یې له MSHP او یا د جواز له هرې اداري څخه وغواړئ.

**د جوازونو ډولونه**

که ستاسو عمر له 21 کلونو څخه کم وي، نو یو جواز به درکړل شي چې تاسو د صغیر په توګه معرفي کوي. کله چې ستاسو عمر 21 کلونو ته ورسېد، کولای شئ د موټر چلونې یوه بل جواز ته نوم لیکنه وکړئ او پیسې تادیه کړئ (د صغارت له څرګندولو پرته) او یا صبر وکړئ چې ستاسو تر 21 کلنۍ بښکته جواز د اعتبار موده پای ته ورسېږي.

**د منځنۍ کچې جواز (F ټولګی) ـ پر شرایطو برابر سن: 16**

دا د ځوانو موټر چلوونکو لپاره د میسوري د موټر چلونې د فراغت د جواز د پروګرام (GDL) دویم ګام دی. په عمومي توګه دغه جواز یوه ځوان شخص ته د موټر چلونځینې محدود امتیازات ورکوي. دا معلومات له نورو جزئیاتو سره وروسته په دې څپرکي کې وګورئ.

**د موټر چلونې بشپړ جواز (F ټولګی) ـ پر شرایطو برابر سن: 18**

دا د موټر چلونې یو بنسټیز جواز دی، د اپرېټور جواز یې هم بولي. د نقلیه واسطې د چلولو لپاره باید تاسو د F ټولګي جواز ولرئ (پرته له دې چې له تاسو څخه

د A، B، C او یا E ټولګیو جواز وغواړي.) د F ټولګي جواز تاسو ته د موټر سایکل د چلولو اجازه نه درکوي، مګر دا چې جواز د

موټرسایکل (M) تایید څرګند کړي. د تاییدونو په اړه به د دې څپرکي په وروستیو برخو کې بحث وشي. تاسو باید د F ټولګي لیکلي، بصرید چلونې، او د سړک د نښو ازموینې بشپړې کړئ.

**د ګومارنې لپاره جواز (د E ټولګی) ـ پر شرایطو برابر سن: 18**

کله چې تاسو د E ټولګي د جواز ازموینه ورکوئ، په لیکنۍ ازموینه کې به د موټر چلونې له ټول لارښود پر بنسټ پوښتې راشي، مګر ډېری پوښتنې به د 15 څپرکي څخه وي (سوداګریز موټرونه). تاسو باید لیدنۍ او د سړک د نښو ازموینې هم ورکړئ. که تاسو له مخکې نه د F ټولګي جواز لرئ، د موټر چلونې ازموینې ته اړتیا نشته.په هرصورت، که تاسو په 18 کلنۍ کې د E ټولګي جواز ته نوم لیکنه کوئ، باید د بشپړ جواز لپاره (18 مخ وګورئ) له 21 کلنۍ څخه ښکته شرایط بشپړ کړئ. ډېر دلایل شته چې ښایي تاسو وغواړئ د E ټولګي جواز ترلاسه کړئ، لکه:

- که تاسو د موټر چلولو له درکه پیسې ترلاسه کوئ او له 14 تنو څخه کم سورلي لېږدوئ (لکه د ورځنۍ پاملرنې د مرکز موټر چلوونکی).
- که چېرته تاسو د پیسو په بدل کې او یا د خپلې دندې د یوې برخې په توګه توکي لېږدوئ (لکه د ګلونو د پلورنځي موټرچلوونکی).
- که تاسو په منظم ډول د خپلې دندې لپاره یو موټر چلوئ چې په بل چا پورې اړه لري او د دې لپاره دی چې بار او توکي پکې ولېږدول شي. د موټر ناخالص وزن باید 26,000 پونډه یا تر دې کم او (GVWR) وي او د خطر د خبرداري د شعارونو لېږدولو ته اړتیا ونلري.

د **387 .438 RSMo** مطابق له لاندې اشخاصو څخه باید و نه غوښتل شي چې د ګومارنې لپاره (د E ټولګي) جواز ترلاسه کړي.

- هغه اشخاص چې 12,000 پونډه یا تر دې کم وزن لرونکی موټر د ترانسپورټي خدمتونو د چمتو کولو په موخه د ترانسپورټي شبکې د کمپنۍ لپاره پر شرایطو د برابر شخص او یا د ټکسي چلوونکي په توګه چلوي؛ یا

- هغه اشخاص د فسټ فوډ رسټورانټونو، د خواړو د پلورنځیو او نورو هغو مرکزونو لپاره ترانسپورټي خدمتونه وړاندې کوي چې له خپلې ساحې څخه ور هاخوا چمتو شوي خواړه استوي.

**د موټرسايکل جواز (د M ټولګی) ـ پر شرايطو برابر سن: 16**

که تاسو پر عامه سړکونو موټرسايکل او يا درې ټايره موټرسايکل چلوئ، بايد د M ټولګي جواز ولرئ (او يا بايد له M تاييدي سره د موټر چلوني جواز ولرئ). تاسو به اړتيا ولرئ چې د F او M ټولګيو ليکنی، ليدنی، د سړک نښو او موټرسايکل د مهارتونو ازموينې پاس کړئ. د GDL اړتياوې به د M ټولګي د جواز پر هغو متقاضيانو پلې کېږي چې عمرونه يې د 16 او 18 کلونو تر منځ وي. د GDL

شرايط وروسته په دې څپرکي کې وګورئ. هغه چلوونکي چې موټر لرونکی سايکل چلوي، اړتيا نلري چې د موټرسايکل چلوني تاييديه ترلاسه کړي، مګر هغوی بايد د اپرېټور (يا تر دې لوړ) جواز له ځان سره وګرځوي.

د ميسوري د موټرسايکل د قوانينو په اړه د نورو معلوماتو لپاره د موټرسايکل چلوونکي لارښوود وګورئ چې زموږ پر وېب سايټ **http://dor .mo .gov/** پوسټ شوی دی. تاسو همدارنګه کولای شئ يوه کاپي يې له MSHP او يا د جواز له هرې اداري څخه وغواړئ.

**د سوداګريز موټر چلوني جواز (A، B يا C ټولګي)**

تاسو بايد د خپل سوداګريز موټر د ډول پر بنسټ د سوداګريز موټر چلولو جواز له ځان سره ولرئ. CDL ته د نوم ليکنې لپاره بايد ستاسو عمر لږ تر لږه 18 کاله وي او له خطرناکو توکو سره د CDL او د ښوونځي د بس د تاييدي د ترلاسه کولو لپاره مو بايد عمر 21 کاله وي. که په 18 کلنی کې CDL ته نوم ليکنه کوئ، نو بايد لا هم تر 21 کلنی څخه ښکته شرايط بشپړ کړئ.

د ميسوري د سوداګريزو موټر چلولو د قوانينو په اړه د نورو معلوماتو لپاره د سوداګريز موټر چلوونکي د جواز لارښوود وګورئ چې زموږ پر وېب سايټ **http://dor .mo .gov/** پوسټ شوی دی. تاسو همدارنګه کولای شئ يوه کاپي يې له MSHP او يا د جواز له هرې اداري څخه وغواړئ. د موټر نه چلولو جواز/ د هويت کارډ (**ND** ټولګی)

تاسوممکن به د هويت د پېژندنې په موخه د موټر نه چلولو داسې جواز ترلاسه کړئ چې انځور ولري. ستاسو

د موټر نه چلولو جواز ستاسو له نوم ليکنې شپږ کاله وروسته ستاسو د زېږېدنې پر نېټه پای ته رسېږي. که ستاسو عمر د 70 کالو او يا تر دې لوړ وي، نو د موټر نه چلوني نه منقضي کېدونکی جواز به درکړل شي.
استثنا: د موټر نه چلولو د جواز هغه متقاضيان چې عمرونه يې 70 کاله يا تر هغې لوړ وي او د REAL ID په برابر کارت او يا يې د کډوالۍ د سند د وضعيت د کتنې پر بنسټ د کمې دورې لپاره غوښتنه کړې وي، هغوی ته به داسې سند ورکړل شي چې د اعتبار موده يې شپږ کاله وي.

**د جواز او يا اجازه ليک د ترلاسه کولو اړتياوې.**

ستاسو عمر ته په کتو، که چېرته تاسو نوی جواز يا اجازه ليک ترلاسه کوئ، که يې تجديدوئ، او يا نوي ميسوري ته را لېږديدلي ياست، د جواز د ترلاسه کولو اړتياوې لږ توپير لري.

- که تاسو له 15 څخه تر 21 کلنی پورې موټر چلوونکي ياست، پر تاسو د GDL پروګرام پلی کېږي. د نورو معلوماتو لپاره په دې څپرکي کې د GDL برخه وګورئ. تاسو بايد پر شرايطو د برابرتيا لپاره د قانوني وضعيت د تصديق، د هويت پاڼې (بايد بشپړ قانوني نوم او د زېږېدو نېټه پکې وي)، د ټولنيز امنيت شمېره، د نوم بدلون کې يې امکان وي او د ميسوري د استوګنې کارت (په دې څپرکي کې يې جزئيات موجود دي) وښاياست.
- که تاسو د ميسوري موټر چلوونکی ياست له تاسو څخهغوښتنه کيږي د قانوني وضعيت يو تصديق، د هويت پاڼه (بايد بشپړ قانوني نوم او د زېږيدو نېټه پکې وي)،
- د ټولنيز امنيت شمېره، د نوم بدلون که يې امکان وي او د ميسوري د استوګنې کارتته اړتيا وي هرکله چې تاسو د موټر چلولو جواز، غير موټر چلونکي جواز، يا لارښووني جواز نوي کولو لپاره غوښتنه وکړئ. تاسو بايد خپل پخوانی جواز هم درسره ولرئ.
- که تاسو د ميسوري نوی جواز اخلئ، نو بايد د قانوني وضعيت د تصديق، د هويت پاڼې (بايد بشپړ قانوني نوم او د زېږيدو نېټه پکې وي)، د ټولنيز امنيت شمېره، د نوم بدلون کې يې امکان وي او د ميسوري د استوګنې کارت وښاياست.

تاسو باید د موټر چلونې ازموینه ورکړئ چې ځلور برخې لري. په ځلور برخیزه ازموینه کې لیکنی، لیدنی، د سړک د نښو او د موټر چلونې د مهارتونو ازموینې شاملې دي. (د نورو معلوماتو لپاره 2 څپرکی وګورئ.)

- که تاسو نوي میسوري ته راغلي یاست او له ایالت څخه بهر جواز له ځان سره ګرځوئ، نو تاسو به اړ یاست چې د قانوني وضعیت د تصدیق، د هویت پاڼې (باید بشپړ قانوني نوم او د زیږیدو نیټه پکې وي)، د ټولنیز امنیت شمېره، د نوم بدلون کې یې امکان وي او د میسوري د استوګنې کارت، د پوست بکس بته وښایاست که چېرته د استوګنې له پتې څخه متفاوته وي. تاسو باید همدارنګه د خپل مخکینې ایالت د موټر چلونې جواز ورکړئ او لیدنی او د سړک د نښو ازموینې هم ورکړئ. ستاسو له ایالت څخه بهر جواز په لېږدولو سره به د موټر چلونې هر جواز، اجازه لیک او یا د نه چلولو جواز چې په بل ایالت کې درکړل شوی وي، هغه به نامعتبر شي.
- که له لاندې مواردو څخه یو پر تاسو پلی کېږي، نو باید ځلور برخیزهد چلونې ازموینه ورکړئ (جزئیات په 2 څپرکي کې دي):
  - تاسو د میسوري دچلوونکی نوي جواز لپاره نوم لیکنه کوئ.
  - له شپږ میاشتو (184 ورځو) څخه زیاته موده کېږي چې ستاسو د میسوري د موټر چلونې جواز منقضي شوی دی.
  - ستاسو له ایالت څخه بهر جواز د منقضي کېدو څخه تر 184 ورځو ډېره موده تېره شوې وي.
  - ستاسو جواز له دې امله لغوه شوی و چې تاسو د خپل موټر چلونې په ریکارډ کې ډېرې نقطې لرلئ (11 څپرکی وګورئ) او یا د اداري الکولو د الغاء له امله لغوه شوی دی (10 څپرکی وګورئ).
  - د عوایدو د برخې ډایرکټر به له تاسو څخه وغواړي چې ازموینه ورکړئ، ان که اوسنید موټر چلولو جواز هم ولرئ.

**اړین سندونه**

کله چې تاسو جواز اخلئ یا یې نوی کوئ، اجازه لیک او نه د نه چلولو سند اخلئ، نو تاسو به اړ یاست چې د قانوني وضعیت د تصدیق، د هویت پاڼې (باید بشپړ قانوني نوم او د زیږیدو نیټه پکې وي)، د ټولنیز امنیت شمېره، د نوم بدلون کې یې امکان وي او د میسوري د استوګنې کارت، د پوست بکس پته وښایاست که چېرته د استوګنې له پتې څخه متفاوته وي.

د استوګنې پته تاسو به همدارنګه اړ یاست چې خپل اوسنی جواز، اجازه او یا د نه چلولو جواز وښایاست او تسلیم یې کړئ. د دغو اړینو سندونو جزئیات لاندې ذکر شوي دي. د نورو معلوماتو لپاره **http://dor .mo .gov/** ته مراجعه وکړئ.

- قانوني وضعیت: د متحده ایالات استوګن کېدای شي د متحده ایالاتو د زیږیدنې کارټ وښیي (له یوه برجسته مهر سره تایید شوی وي او یا د حیاتي سوابقو د اېجنسۍ له لوري مهر او ورکړل شوی وي. د روغتون د زوکړې کارتونه او د زوکړې د راجسترېشن کارتونه نه منل کېږي.) د متحده ایالاتو یو معتبر پاسپورټ چې د اعتبار موده یې پای ته نه وي رسېدلې. د تابعیت سند، د تابعیت د منلو سند او یا له هېواد څخه بهر د زوکړې کارټ. د متحده ایالاتو د د زوکړې د سند یوه کاپي (چې د حیاتي سوابقو د اېجنسۍ له لوري ورکړل شوی وي او د متحده ایالاتو د هویت پوځي کارټ او یا ترخیص کاغذونه. د قانوني وضعیت دغه سند د REAL ID له سند سره برابر د منلو نه دی. هغه کسان چې د متحده ایالاتو اتباع نه دي، باید د کډوالۍ داسې مناسب سند وښیي چې د متقاضي وضعیت څرګندوي. له REAL ID سره د برابر او یا REAL ID سره د نابرابر کارت د ترلاسه کولو لپاره د اړتیا وړ ټولو سندونو لېست و ارزوئ.
  **http://dor .mo .gov/drivers/idrequirements .php**.

د 65 کلنی او یا تر هغې لوړ عمر مستثنا دی ــ که تاسو یو غیر REAL

ID سره برابر سند، غیرسوداګریزه اجازه پاڼه او یا د موټر چلونې جواز او یا نه چلونې جواز بیا نوی کوئ، او عمر مو 65 کاله یا تر دې لوړ وي، نو تاسو به د زوکړې د ځای د سند له ښودلو څخه مستثنا وګڼل شئ.

- هویت: هغه سندونه چې ستاسو د هویت د څرګندولو لپاره کارول کېږي، باید ستاسو بشپړ قانوني نوم او د زوکړې نېټه پکې وي. ډېری د قانوني وضعیت سندونه هم هویت څرګندوي، نورې بېلګې عبارت دي له: د دندې د مجوز سند، له REAL ID سره برابر او یا غیر REAL ID جواز، ایا بهرنی پاسپورټ چې د متحده ایالاتو له **I-94** سره پرې وهل شوی وي.

- د میسوري استوګنه: تاسو د خپل اوسني پتې د ثابتولو لپاره ډېرې لارې لرئ. په بېلګو کې د ښاري خدمتونو (لکه ټلیفون، برښنا، ګاز، اوبه او کېبل) دوه اوسني بیلونه، د کور د مالیې رسید، د رایې ورکولو کارت، او یا بل هر ډول رسمي سند شاملېږي چې په تېرو 90 ورځو کې د بل ایالت، ځایي حکومت او یا بلې فدرالي اېجنسۍ له لوري د هغې په رسمي عنوان سره ورکړل شوی وي. د دې لپاره چې د REAL ID برابر سند ترلاسه کړئ، تاسو باید یو سند چمتو کړئ چې د میسوري استوګنه تصدیقوي. د دې لپاره چې د غیر REAL ID برابر سند ترلاسه کړئ، تاسو باید دوه سندونه چمتو کړئ چې د میسوري استوګنه تصدیقوي. که تاسو جلا پوستي پته لرئ، باید داسې سند چمتو کړئ چې پوستي پته تاییدوي.

یادښت: د پوستي دفتر بکس د استوګنې د پتې په توګه د منلو وړ نه دی. تاسو باید د استوګنې د پتې سند او د پوستي بدیله پته وښایاست (که یې امکان وي.) اوسنۍ پتې اړینې دي! ستاسو جواز به په هغه پتې در واستول شي چې موږ ته را کړېشوي ده.

  - که ستاسو عمر له 21 کلنۍ څخه کم وي او نشئ کولای د میسوري د استوګنې دېتو سندونو له لېست څخه یو چمتو کړئ، نو ستاسو والدین یا قانوني سرپرست کولای شي چې ستاسو په استازولۍ دغه ډول سند چمتو کړي. د منلو وړ سندونو بشپړ لېست ته په لاندې وېب سایټ کې مراجعه وکړئ **www .dor .mo .gov**. د REAL ID برابر سند ته د نوم لیکنې لپاره د هغه سند کارول چې د والدینو یا سرپرست له لوري تحویل شوی وي، یوازې د استوګنې د تصدیق له دوه سندونو څخه د یوه په توګه د منلو وړ دی.
    - د استوګنې پته هغه ځای دی چې یو شخص په فزیکي دول پکې اوسېږي، او هغه شخص یې د خپل کور بولي. د استوګنې پته د یوه شخص ربښتینی، ثابت، اصلي او دایمي استوګنځی دی چې که شخص ځیني وخت بل چېرته هم د یو څه وخت لپاره اوسېږي نو بیا به هم هوډ لري چې دې ځای ته را ګرځي او پکې استوګن کېږي به.

- **د ټولنیز امنیت شمېره**

د ایالتي قانون تاسوته اړتیا لري چې خپل د ټولنیز امنیت شمېره (SSN) په خپل غوښتلیک کې ولیکئ تر څو د میسوري جواز او یا اجازه پاڼه ترلاسه کړئ. SSN به د ټولنیز امنیت د کارت (باید اصلي وي، لاسلیک شوی وي او طبقه بندي شوی نه وي)،W-2 تنخواه او مالیې د سټېټمنټ، 1099 فورم او د ادایني د ادایني د یوه چېک په ښودلو سره چمتو شي خو په دې شرط چې په دغه چېک کې د ټولنیز امنیت شمېره لیکل شوې وي. د میسوري د موټر چلونې د اوسني جواز، د موټر نه چلولو د جواز او یا اجازه لیک متقاضیان چې پخوای یې خپله SSN تصدیق کړې وه، کېدای شي د دې وړ وي چې خپله شمېره د تصدیق په موخه په شفاهي ډول ارائه کړي.

که تاسو د ټولنیز امنیت شمېره نلرئ:

  - تاسو باید د خپل ټولنیز امنیت د شمېرې د وضعیت په اړه د ټولنیز امنیت له اداری (SSA) څخه یو لیک ارائه کړئ.
  - هغه متقاضیان چې د ټولنیز امنیت شمېره نلري، د قانوني وضعیت د تصدیق سندونو ته په کتو کېدای شي هغوی د REAL ID د برابر سند لپاره پر شرایطو برابر نه وي.

  یادښت: که تاسو یو غیرکډوال بهرنی زده کوونکی یاست چې په متحده ایالاتو کې د کار کولو اجازه نلرئ، له SSA څخه د یوه لیک ارائه کولو ته اړتیا نشته. (تاسو او یا ستاسو د خپلوانو د کډوالۍ سند باید د F یا J په کچه وي.)

  - له ټولنیز امنیت پرته جواز او یا اجازهلیک غوښتنلیک له چاپ او استول کېدو مخکې د مرکز دفتر له لوریممکن بیا وکتل شي.

- په نوم کې بدلونونه ـ که ستاسو اوسنی نوم له هغو نومونو سره متفاوت وي چې د هویت په سند او یا د قانوني وضعیت په سند کې درج دي، او یا ستاسو په ټولو سندونو کې یو ډول نه وي، یو له لاندې سندونو څخه ارائه کړئ چې ستاسو اوسنیسم نوم تری څرګندیږي.
- د وروستي نوم بدلون- تایید شوی نکاح خط، تایید شوی طلاق پاڼه، د محکمې تایید شوی امر، د محکمې له لوري صادر شوی د فرزندۍ نیونې تایید شوی خط او یا د زیږیدنې اصلاح شوی کارټ.
- د لومړي نوم بدلون- تایید شوی د محکمې حکم.
- د منځنی نوم بدلون- تایید شوی د محکمې حکم.

نکته! مخکې له دې چې تاسو د خپل جواز دفتر ته لاړ شئ، ډاډ ترلاسه کړئ چې ټول اړین سندونه درسره دي. دا به ستاسو او ستاسو د ملګرو پیرودونکو وخت وسپموي!

**د اجازه پاڼې فیسونه**

د اجازه پاڼې فیسونه او موده د متقاضي د عمر او د معاملې په وخت پورې اړه لري. د نوم لیکنې د ازموینې فیس پکې نه شاملیږي.

| نوي اجازه پاڼه/بیا نوي کول | | | |
|---|---|---|---|
| ډول | لږ تر لږه عمر | لګښت | اعتبار لري تر ... |
| د زده کوونکي اجازه پاڼه | 15 | $1.00 | د منل شوي کورس موده |
| د زده کړې اجازه پاڼه | 15 | $7.00 | 0–12 میاشتې |
| د موټرسایکل اجازه پاڼه | 15½ یا 16 | $9.75 یا $7.00 | 0–6 میاشتې (182 ورځې) |
| د سوداګریزو زده کوونکو اجازه پاڼه | 18 | $16.00 | 1 کال (360 ورځې او یا تر دې کم) د نوي کېدو وړ نه دی |

**د جواز فیسونه**

د جواز فیسونه او موده د متقاضي د عمر او د معاملې په وخت پورې اړه لري. د نوم لیکنې د ازموینې فیس پکې نه شاملیږي.

| نوی جواز/ بیا نوي کول | | | |
|---|---|---|---|
| ډول | لږ تر لږه عمر | لګښت | اعتبار لري تر ... |
| د منځنی کچې جواز | 16 | $11.00 | 0–2 کلونه |
| بشپړ جواز (F ټولګی) | 18 | 13.50$ یا $27.00 | 0–3 کلونه* یا 0–6 کلونه* |
| د ګومارنې لپاره جواز 18 | یا | 21.00$ یا $42.00 | 0–3 کلونه* (د E ټولګی) 0–6 کلونه* |
| | | د 70 کلنی سن له ښوونځي سره د بس تصدیق نوی: $11.00 بیا نوي کول: $6.00 | 0–1 کال |
| د موټر چلونې سوداګریز جواز (د A، B یا C ټولګی) | 18 | 26.00$ یا $52.00 | 0–3 کلونه* یا 0–6 کلونه* |
| | | د 70 کلنی سن له ښوونځي سره د بس تصدیق نوی: $13.50 بیا نوي کول: $6.00 | 0–1 کال |
| موټرسایکل یوازې جواز (M ټولګی) | 16 | 13.50$ یا $27.00 | 0–3 کلونه* یا 0–6 کلونه |
| د موټر نه چلولو جواز (ID کارټ) | هر عمر | $18.00 $0.00 | 0–6 کلونه* یا نه منقضي کېدونکی |
| د موټر نه چلولو جواز (یوازې د رایې ورکولو لپاره) | 17'/ | | 0–6 کلونه* یا نه منقضي کېدونکی |

*د معاملې پر مهال د متقاضي د عمر او یا سند د تصدیق د وضعیت پر بنسټ.

**محدودیتونه**

که تاسو د موټر چلوني لړه تجربه لرئ یا داسي روغتیايي ستونزه لرئ چي په خوندي ډول ستاسو د موټر چلوني پر وړتیا اغېزه کوي، نو کېدای شي یو محدود جواز درکړل شي چي تاسو ته تر مشخصو شرایطو لاندې د موټر چلوني اجازه درکوي. که تاسو یو محدود جواز لرئ، دا به یو یا زیات د محدودیت کوډونه ولري چي لاندې ښکاري.
د دې لپاره چي ستاسو له جواز څخه محدودیت لرې، نو باید ازموینه ورکړئ. که تاسو له محدودیتونو څخه سرغړونه وکړئ، نو کېدای شي له جواز پرته په موټر چلوني تورن شئ او که چېرته محکوم شئ، نو ستاسو د موټر چلوني په سوابقو کي به نقطي ځای پر ځای شي. که تاسو ډېرې نقطي ترلاسه کړئ (11 څپرکی وګورئ)، نو کېدای شي چي جواز مو وځنډېږي او یا لغوه شي.

**د محدودیت کوډونه**

- A اصلاحي لېنزونه
- B بېروني د شا هېنداره
- C یوازې په ورځ کي موټر چلول
- D خپلکاره ترانس/ برېښنايي سټرېنګ
- E له لاسي CMV ګېربکس پرته
- F محدود شوی تر 45 مایله پر ساعت پورې
- G 25 مایله شعاع
- H ځانګړې لاسي الې
- I د منځنی کچې جواز
- J د الکترونیکي لاربښودونو څراغ
- K یوازې په ایالت کي دننه موټر چلول ((CDL
- L له هوايي برېک پرته CMV
- M له A ټولګي سورلۍ موټر پرته
- N د سورلۍ له A یا B ټولګي موټر پرته
- O له ټراکټور - CMV ټرېلر پرته
- P په CMV بس کي د سورلۍ نشتون
- Q له پنځه محدودیتونو څخه زیات
- R د څوکۍ ځانګړې پوښ
- T د ښي اړخ بېروني هېنداره
- U له کوډونو پرته محدودیت*
- V طبي توپیر
- W د کروندې ابطال
- X په CMVټانك موټر کي چي کارګو نه وي
- Y د کیڼ اړخ بېروني هېنداره
- Z پر هوايي برېک له سمبال CMV پرته

*یو بې کوډه محدودیت هغه محدودیت دی چي دلته لیست شوی نه دی. یو بې کوډه محدودیت به د موټر چلوني د جواز او یا اجازه پاڼي د محدودیت په ساحه کي د "U" په توګه ولیکل شي او شرح به یې د سند پر شا، په مجوزه ساحه کي را څرګنده شي. د قانون پلي کولو هر افسر، قاضي یا ډاکټر کولای شي له وزارت څخه وغواړي چي ستاسو پر جواز محدودیتونه ولګوي.

**طبي مراجعه**

دوه دلیلونه شته چي تاسو به یې له مخې مکلف یاست تر څو د عاید ډیپارټمنټته د ډاکټر بیانیه وړاندې کړئ:

- تاسو جواز ته تر نوملیکني وړاندې په شپږ میاشت کي د مغزي شوک، اختلال تجربه کړی وي او یا مو حافظې موقتاً کار پرېښی وي.
- د موټر چلوني ممتحن، د جواز کاتب، د کورنۍ غړی، د قانون پلي کولو افسر، ډاکټر، فیزیوتراپیسټ، روغتیايي کارکوونکی، کایروپرکټیک متخصص، راجسټر شوی نرس، اروا پوه، ټولنیز کارکوونکی یا د بېړنیو روغتیايي حالاتو تکنیشن باور ولري چي تاسو داسي روغتیايي حالت لرئ چي کولای شي له تاسو څخه یو ناخوندي موټر چلوونکی جوړ کړي. دغه شخص باید د موټر چلوونکي د وضعیت راپور بشپړ کړي (**Form 4319**) او ډیپارټمنټ ته یې وسپاري.

**تصدیقات**

تصدیقات یوازې د محدودیتونو خلاف دي ځکه دا تاسو ته دا وړتیا درکوي چي هغه کارونه ترسره کړئ چي له تصدیق پرته مو نشوای ترسره کولای، لکه: د ښوونځي د بس او یا موټرسایکل چلول. ستاسو د میسوري د موټر چلوني د غیرسوداګریز جواز (د F، E یا M ټولګي) لپاره تصدیقات په لاندې پاڼو کي موجود دي.

- د ښوونځي د بس (بسونو) تصدیق ــ د ښوونځي د بس تصدیق د هغو کسانو لپاره اړین دی چې ماشومان له ښوونځي څخه کور او له کور څخه ښوونځي ته بیایي او هغو محفلونو ته یې بیایي او راولي چې د ښوونځي له لوري ملاتړ کېږي. د ښوونځي د بس تصدیق کېدای شي هغو موټرچلوونکو ته ورکړل شي چې عمرونه یې 21 کاله یا تر دې لوړ وي او د E ټولګي (د ګومارنې لپاره) جواز ولري او یا د سورلۍ (P) تصدیق سره سوداګریز جواز ولري. که چېرته یو کس د مخدره توکو، الکولو او کیمیاوي توکو په ازموینه کې پاتې راشي چې د ښوونځي د بس د چلولو په تړاو د فدرال او یا ایالتي قانون، اصولو او مقرراتو له مخې ترتیب شوی وي، نو ښایي د ښوونځي د بس چلولو تصدیق یې د یوه کال لپاره وځنډول شي.

 د میسوري قانون د ښوونځي د بسونو د چلولو لپاره ځانګړي اصول لري. که تاسو د ښوونځي د بسونو په اړه نورو معلوماتو ته اړتیا لرئ، اړیکه ټینګه کړئ: د میسوري د لومړنیو او ثانوي زده کړو ډیپارټمنټ، د اداري او مالي خدمتونو څانګه - د ښوونځي ټرانسپورټ، ایمیل: **webreply@dmpt.dese.mo.gov**؛ ټیلیفون: (573) 751-0357; فکس: (573) 526-6898.

- د موټرسایکل (M) تصدیق ــ که تاسو پر عامه سړکونو موټرسایکل او یا درې ټایره موټرسایکل چلوئ، نو د موټر سایکل چلونې تصدیق او یا تر دې د لوړې کچې جواز ته اړتیا لرئ. اوسنې جواز ته د موټرسایکل د تصدیق د اضافه کولو لپاره تاسو اړ یاست چې د موټر سایکل لیکلي، بصري، د سړک د نښو او د موټرسایکل او درې ټایره موټرسایکل د چلونې د مهارتونو ازموینې ورکړئ. د میسوري د موټرسایکل د قوانینو په اړه د نورو معلوماتو لپاره د موټرسایکل چلوونکي لارښوود وګورئ چې زموږ پر وېب سایټ **http://dor.mo.gov/** پوسټ شوی دی. تاسو همدارنګه کولای شئ یوه کاپي یې له MSHP او یا د جواز له هرې اداري څخه وغواړئ.

- که تاسو د سوداګریزې موټر چلونې جواز او یا سوداګریز زده کوونکي اجازه پاڼه لرئ، اضافي تصدیقونه د لاسرسي وړ دي. د میسوري د سوداګریزو موټر چلولو د قوانینو په اړه د نورو معلوماتو لپاره د سوداګریز موټر چلوونکي د جواز لارښوود وګورئ چې زموږ پر وېب سایټ **http://dor.mo.gov/** پوسټ شوی دی. تاسو همدارنګه کولای شئ یوه کاپي یې له MSHP او یا د جواز له هرې اداري څخه وغواړئ.

**د جواز او یا اجازه پاڼې بیا نوي کول - د بیا نولو کولو یادوني**

ډیپارټمنټ به تاسو ته د ایمیل له لارې یوه یادونه در واستوي تر څو وړاندې تر دې چې ستاسو د جواز د اعتبار موده پای ته ورسېږي، بیا یې نوی کړئ. د زده کړې لنډمهالې اجازې او یا د سوداګریزې زده کړې د اجازې لپاره به د نوي کولو خبرتیا در وا نه ستول شي. یادونه به هغې پتې ته در واستول شي چې ستاسو د موټر چلونې په سوابقو کې لیکل شوې ده. کله چې تاسو بې ځایه کېږئ، نو کولای شئ خپله پته په لاندې طریقو اپډېټ کړئ:

- ستاسو د جواز په ځایي اداره کې خپله پته بشپړه او بدله کړئ؛
- په انلاین بڼه په**http://dor.mo.gov/** کې
- دې پتې ته ایمیل واستوئ **dlbmail@dor.mo.gov**؛ یا
- یوه لیکلي خبرتیا له خپلې نوې پتې سره لاندې ځایونو ته واستوئ:

 د موټر چلونې د جواز څانګه، پوسټ بکس Box 200, Jefferson City, MO 65105-0200

ستاسو یادونه به د جواز د نوي کولو لپاره اړین فیس بیان کړي. تاسو کولای شئ خپل جواز له منقضي کېدو څخه شپږ میاشتې وړاندې بیا نوی کړئ. هر ځل چې تاسو خپل جواز نوی کوئ نو، اړینه ده چې بصري او د سړک د نښو ازموینې ورکړئ.

دا ستاسو مسوولیت دی تر څو خپل جواز بیا نوی کړئ، ان که مو یادونه هم ترلاسه کړې نه وي. که چېرته خپل جواز ژر تر ژره نوی نکړای شئ، ښایي له همدې امله اړ شئ چې په لیکنۍ یا د موټر چلونې ازموینه کې بیا ځلي ګډون وکړئ. که تاسو له معتبر جواز څخه پرته موټر وچلوئ، نو ښایي ټکټ درکړل شي. استثنا: که تاسو د ډېر وخت لپاره له ایالت یا هېواد څخه وځې، نو کولای شئ ستاسو د جواز په سیمه ییز دفتر کې له مخکې د جواز د بیا نوي کولو غوښتنه وکړئ.

د موټر چلونې د جواز د اعتبار موده کېدای شي تر شپږو کلونو پورې وي. که تاسو پرېږدئ چې دغه پای ته ورسېږي، نو باید موټر ونه چلوئ. که تاسو غواړئ چې خپلې موټر چلونې ته له ځنډ پرته دوام ورکړئ، نو وړاندې تر دې چې د جواز موده مو پای ته ورسېږي، باید هغه بیا نوی کړئ. که تاسو خپل جواز د دې پای کېدو موده وروسته د شپږ میاشتو (یا 184 ورځو) په جریان کې بیا نوی نکړ، نو ښایي اړ شئ چې په لیکنی او د موټر چلونې د مهارتونو په ازموینه کې ګډون وکړئ (2 ځپرکی وګورئ)، پر دې سربېره په بصري او د سړک د نښو په ازموینو کې هم ګډون وکړئ.

د جواز اداري معمولاً د میاشتې په پای کې بوختې وي. دا چې ښايي تاسو هم د خپل جواز تر منقضي کېدو وړاندې په شپږو میاشتو (184 ورځو) کې خپل جواز بیا نوی کړئ، نو داسې وخت وټاکئ چې په اوږدو لیکو کې ونه درېږئ. که ستاسو د موټر چلونې د جواز او د نقلیه وسیلې د راجسترېشن نېټه په شپږ میاشتو کې دننه وي، نو تاسو کولای شئ ياست چې دواړه په یوه وخت کې نوي کړئ او د جواز اداري ته له بیا ځلي سفر ځخه ځان وژغورئ.

د وسله والو ځواکو فعالو غړیو ته د میل له لارې نوي کول میسوري وسله وال ځواک غړیو او په هغوی پورې اړوندو کسانو ته اجازه ورکوي چې د میل له لارې یې نوي کړي. متقاضیان باید د موټر چلونې د جواز یوه بشپړه شوي غوښتنه واستوي (فورم 4317) (په انلاین بڼه په **http://dor.mo.gov/** کې او د غوښتنې په صورت کې د فکس له لارې د لاسرسي وړ دی)، له دې غوښتنلیک سره باید اړین سندونه او فیسونه هم وي.

میسوري د وسله والو ځواکونو هغو غړیو ته لهیبا ازموینې پرته د جواز د بیا نوي کولو اجازه ورکوي چې جواز یې له ایالت ځخه بهر استوګنې پر مهال منقضي شوی وي، هغوی کولای شي د افتخاري ترخیص له اخیستو ځخه وروسته تر شپږ میاشتو او یا په میسوري کې د بیا مېشتېدو په 90 ورځو کې خپل جواز نوی کړي

هر یو چې یې لومړی راځي. په نورو اړینو سندونوبیا نوي کولو سربېره باید د غوښتنې پر مهال د میسوري منقضي شوی جواز او د ترخیص پاڼې هم ارائه کړي. پاي ته رسیدلي جواز د موټر چلونې لپاره معتبر نه دی. دغه مقررات یوازې له بیاځلي ازموینې ځخه مخنیوی کوي او د اعتبار له مودې ځخه ور هاخوا د موټر چلونې واقعي امتیاز نه تمدیدوي.

**ورک شوی، غلا شوی او خرابه شوی جواز**

که چېرته ستاسو جواز له ایالت ځخه بهر ورک شوی او یا غلا شوی وي، نو کولای شئ د ټلیفون له لارې د موټر چلونې د جواز غوښتنه وکړئ (فورم 4317)، له (573) 751-4600 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ او یا فورم زموږ له ویب سایټ ځخه ډانلوډ کړئ.

که ستاسو جواز ورک شوی، غلا شوی او یا له منځه تللی وي، نو باید د مثنی جواز غوښتنه وکړئ. که ستاسو اوسنی جواز په راتلونکو شپږو میاشتو کېدنه منقضي کېږي، نو تاسو کولای شئ د مثنی جواز د اخیستو پر ځای خپل جواز بیا نوی کړی. دا کار ستاسو وخت او پیسې سپموي.

**د ځنډېدو یا لغوه کېدو په صورت کې د جواز بیا نوي کول**

که تاسو غیر سوداګریزچلونې جواز لرئ، نو کېدای شي چې بصري او د سړک د نښو ازموینې ورکړئ او خپل جواز بیا نوی کړئ، ان که ستاسو د موټر چلونې امتیاز ځنډېدلی هم وي. که چېرته ستاسو د موټر چلونې امتیاز لغوه شوی وي، تاسو کېدای شي یوازې په هغه صورت کې د لغوې په جریان کې خپل جواز تمدید کړئ چې دغه کار ستاسو د کیمیاوي ازمېښت د ردولو له امله شوی وي.

تر هغې چې تاسو بېرته خپل مقام نه وي ترلاسه کړی او د موټر چلونې امتیاز مو بېرته ترلاسه کړی نه وي، تر هغې پورې به خپل د موټر چلونې جواز ترلاسه نکړئ.

**ستاسو د موټر چلونې د جواز په اړه نور معلومات**

- د غړي، سترګې او نسجونو د ورکوونکو معلومات

کله چې تاسو د نوي، تجدید یا مثنی د زده کړې د اجازې، د موټر چلونې د جواز او یا نه چلونې د جواز لپاره نوم لیکنه کوئ، نو د نوم لیکنې پر مهال به له تاسو ځخه دوه ډېرې مهمې پوښتنې وشي.

1. **”آیا تاسو راضي یاست چې د اهدا کوونکو د راجسترېشن په سیستم کې د غړي، سترګې او یا نسج د اهدا کوونکي په توګه راجستر شئ؟“**

که تاسو ووایئ چې ”هو“، نو ستاسو نوم به په اتوماتیک ډول د میسوري د غړیو او نسجونو د اهدا کوونکو د راجسترېشن په سیستم کې ثبت شي، دغه سیستم د میسوري د روغتیا د ریاست او د ارشد خدماتو او یا د هغوی د استازیو له لوري اداره کېږي. راجسترېشن د یوه خوندي او محرم ډېټابېس له لارې کېږي. په دغه سیستم کې د ځان راجستر کولو معنا دا ده چې تاسو خپله پرېکړه په قانوني ډول مستنده کړې ده چې د مړیني پر مهال د غړي او یا نسج ورکوونکي په توګه د نورو ژوندونه وژغورئ. تر دې ور هاخوا رضایت ته اړتیا نشته، دا تصمیم ستاسو خپلوان ستاسو په استازولۍ له تصمیم نیولو څخه بې غمه کوي.

2. **”آیا تاسو اجازه ورکوئ چې پر جواز او یا اجازه پاڼه مو د عضو ورکوونکي یو سیمبول ولګول شي؟“**

که تاسو ویلي وي چې هو د عضو ورکوونکو د راجسترېشن په سیستم کې دې ثبت شئ، نو له تاسو څخه به دا پوښتنه هم وشي چې ایا غواړئ ستاسو پر سند یوه اختیاري نښه ځای پر ځای شي. که تاسو ووایئ چې ”هو“ د عضو ورکوونکي سیمبول دې اضافه شي، نو ستاسو د زده کړې د اجازه پاڼې، د موټر چلوني جواز یا د موټر نه چلولو د جواز پر مخ به یو زړه له آبي بنر سره څرګند شي. ستاسو د زده کړې د اجازه پاڼې، د موټر چلوني جواز او نه چلولو جواز پر مخ د سیمبول لګول او یا په رجستري کې ستاسو د نوم ځای پر ځای کول لګښت نلري. که غواړئ چې د عضو ورکولو د راجسترېشن په اړه نور معلومات ترلاسه کړئ او یا خپله پرېکړه په انلاین بڼه راجستر کړئ او نوم لیکنه وکړئ نو **https://donatelifemissouri.org/** وېب سایټ ته مراجعه وکړئ.

- ستاسو د اجازه پاڼې پر شا به د عضو ورکوونکي د سټېکر د ځای پر ځای کولو لپاره یوه ساحه موجوده وي. که تاسو د عضو، سترګې او یا نسج ورکوونکي په توګه د خپل ځان راجستر کول غوره کړي نه وي، او یا مو ځان راجستر کړی وي، مګر دا مو نه وي ټاکلي چې د صدور پر مهال ستاسو پر سند د عضو ورکوونکي سیمبول ځای پر ځای شي، نو کولای شئ په انلاین بڼه د غړي ورکوونکي راجسترېشن بشپړ کړئ او یا یې غوښتنه وکړئ **https://donatelifemissouri.org/**

- **د نابینایانو د پوهاوي صندوق**

د ایالتي قانون له مخې کاتب مکلف دی چې جواز، اجازه پاڼې او یا موټر نه چلولو جواز ته د نوم لیکنې پر مهال له تاسو څخه وپوښتي چې ایا د نابینایانو له صندوق سره $1 مرسته کوئ.

- **DHH“” نښان د کڼو یا په سختۍ سره اوریدونکو متقاضیانو لپاره**

کله چې تاسو د خپل جواز، د زده کاړې اجازه پاڼې د بیا نوي کولو لپاره غوښتنه کوئ، نو کولای شئ غوښتنه وکړئ چې ستاسو د موټر چلوني پر جواز، د موټر نه چلوني پر جواز او یا د زده کړې پر اجازه پاڼې د "DHH" نښان ځای پر ځای کړئ. په بېړنیو حالاتو کې به دغه نښان د قانون پلي کوونکي، بېړني وضعیت یا طبي پرسونل ته دا فرصت ورکړي چې ایا تاسو کاڼه یاست او یا په سختۍ سره خبرې اورئ. دا کار به له هغو کسانو سره اغېزناکې اړیکې یقیني کړي چې ټپي شوي دي او یا ځواب نه ورکوي.

د دې لپاره چې د "DHH" نښان ترلاسه کړئ، نو د جواز او یا زده کړې د اجازې لپاره د نوم لیکنې پر مهال یې غوښتنه وکړئ.

- **د خوندیتوب بوټر نښان**

که تاسو د میسوري استوګن یاست او د **RSMo** له 306 .127 برخې سره سم عمل کوئ او د خوندیتوب د زده کړې بوټینګ اوسنی کارت لرئ چې د MSHP له خوا درکړل شوی وي، نو کولای شئ غوښتنه وکړئ چې ستاسو د موټر چلوني پر جواز، او یا موټر نه چلولو پر جواز د خوندیتوب بوټر نښان ولګوي. MSHP به د خوندیتوب د زده کړې د بوټینګ جلا کارت د ګرځولو پر ځای د موټر چلوني او یا نه چلوني پر یوه معتبر سند د نښان ځای پر ځای کول ومني. تاسو باید د نوې معاملې، د هغې د بیا نوي کولو او یا د مثنی د غوښتنې پر مهال یو نوی نښان وغواړئ او خپل معتبر د خوندیتوب د زده کړې د بوټینګ کارت درسره وي. کله چې د هویت یو بوټر نښان د لومړي ځل لپاره د موټر چلوني جواز او یا د موټر نه چلوني سند ته اضافه کېږي چې نو د معیاري پروسې د بشپړولو لپاره $1 اضافي لګښت ته اړتیا لري.

- د دایمي معلولیت نښان

که تاسو د میسوري اوسیدونکي یاست او دایمي معلولیت لرئ، نو کولای شئ د موټر چلونې د جواز او یا موټر نه چلولو د جواز د غوښتنې، بیا نوي کولو او یا مثنی ته د نوم لیکنې پر مهال تقاضا وکړئ چې ستاسو د سند پر شا د دایمي معلولیت نښان ولګول شي. د دې لپاره چې تاسو د نښان لپاره وړ وګڼل شئ، نو باید د ډاکټر یوه بیانیه (5294 فورم) - د دایمي معلولیت یو نښان چې ستاسو د ډاکټر، فزیکي معالج، مسلکي معالج له لوري چې د د **RSMo** له 334 برخې ،له مخې جواز ورکړل شوی وي بشپړه او لاسلیک شوې وي او یا د کوم بل باصلاحیته روغتیایي کارکوونکي له لوري بشپړ او لاسلیک شوی وي. د دې نښان د اضافه کولو لپاره اضافي لګښت نشته. د نوي، بیا نوي کولو او یا مثنی معاملې د پروسس کولو معیاري فیس به له تاسو څخه وګرځول شي. د قانون له مخې تاسو مکلف نه یاست چې پر خپل د موټر چلونې او یا موټر نه چلونې جواز د دایمي معلولیت نښان ولګوئ. دغه نښان پر شرایطو د برابرتیا او یا د عامه ګټو تعیینوونکی نه دی.

- د پخواني پوځي عنوان

که تاسو د متحده ایالاتو د وسله وال پوځ پخواني غړي یاست، نو کولای شئ غوره کړئ چې د نوې غوښتنې، تجدید او یا مثنی پر مهال د "VETERAN" عنوان ستاسو د میسوري د موټر چلونې او یا نه چلونې د سند پر مخ ولګوي. د دې لپاره چې د یاد عنوان لپاره پر شرایطو برابر شئ، تاسو باید لږ تر لږه یو له لاندې د منلو وړ ترخیصي سندونه وړاندې کړئ.

  - د متحده ایالاتو د دفاع وزارت د ترخیص سند چې په DD فورم 214 هم مشهور دی، دغه سند څرګندوي چې شخص په افتخاري او یا عمومي ډول په وياړلو شرایطو کې له پوځ څخه ترخیص شوی دی او د متحده ایالاتو په پوځ کې یې خدمت کړی دی؛
  - د متحده ایالاتو د یونیفورم د خدمتونو د هویت کارت، چې په DD 2 فورم هم مشهور دی، په دغه سند کې د متقاعد او یا ریزرف متقاعد د ترخیص وضعیت شامل دی او د متحده ایالاتو په وسله وال پوځ کې د شخص خدمت تثبیتوي.
  - د متحده ایالاتو د پخوانیو پوځیانو چارو وزارت د هویت یو انځور لرونکی کارت؛ یا
  - د WD AGO 53، WD AGO 55، WD AGO 53-55، NAVPERS 553، NAVMC 553 78 PD، NAVCG د ترخیص سند یا DD 215 فورم چې په افتخاري او یا عمومي ډول تر افتخاري شرایطو لاندې د ترخیص وضعیت په ډاګه کوي.

د دې نښان د اضافه کولو لپاره اضافي لګښت نشته. د نوي، بیا نوي کولو او یا مثنی معاملې د پروسس کولو معیاري فیس به له تاسو څخه وګرځول شي. د قانون له مخې تاسو مکلف نه یاست چې د پخواني پوځي عنوان ترلاسه کړئ.

آیا تر اوسه مو د متحده ایالاتو په پوځي لیکو کې خدمت کړی دی؟

که هو، **dor.mo.gov/military/** ته مراجعه وکړئ، تر څو هغه خدمتونه او ګټو وګورئ چې موږ یې ټولو پوځي اشخاصو ته وړاندې کوو. د ایالت د اېجنسۍ د ټولو سرچینو او ګټو لېست په **veteranbenefits.mo.gov/state-benefits/** کې موندلای شئ.

- د طبي خبرتیا نښه

تاسو کولای شئ نوې نوملیکنې، بیا نوي کولو او یا مثنی پر مهال غوښتنه وکړئ چې ستاسو د موټر چلونې او یا موټر نه چلونې د جواز پر مخ د روغتیایي خبرتیا نښه ولګول شي، تر د لاندې موخو لپاره یوه روغتیایي خبرتیا څرګنده کړي: له ضربې وروسته د سترس اختلال (PTSD)؛ د خوږو ډیابېټ (DM)؛ اوتېزم؛ د درملو پر وړاندې حساسیت؛ مېرګي (EPIL)؛ الزایمر (ATD)؛ ډېمانټیا (DEM)؛ سکېزوفېرنیا (SCHZ)؛ د وینې لوړ فشار (HBP)؛ یا د زړه عروقي ناروغي (CVD).

د قانون له مخې تاسو مکلف نه یاست چې خپل د موټر چلولو او یا موټر نه چلولو پر جواز د روغتیایي خبرتیا نښه ولرئ. د دې لپاره چې تاسو د روغتیایي خبرتیا د نښې لپاره پر شرایطو برابر وګڼل شئ، نو تاسو باید د ډاکترانو بیانیه - د روغتیایي خبرتیا نښه (5839 فورم) چې د میسوري ایالت د مجوز ډاکتر، معالج، مسلکی معالج، او یا بل مجوز روغتیایي کارکوونکي له لوري بشپړ او تایید شوی وي چې دغه ډول ناروغي تشخیصوي. د روغتیایي خبرتیا د نښې په بدل کې اضافي لګښت نه ګرځول کېږي.

- د موټر چلوونکي د محرمیتد ساتنې قانون (**DPPA**)

د موټر چلوونکي د محرمیت د خوندیتوب فدرالي قانون له ټولو ایالتونو څخه غواړي د نقلیه وسایطو په اسنادو، د موټر چلولو او نه چلولو په جوازونوریکارډونو کې ټول شته شخصي معلومات بند کړي، مګر دا چې د قانون له لوري ورته بل ډول لاربښوونه شوې وي. د میسوري د قانون له مخې یو شخص یا اداره په هغه صورت کې شخصي معلوماتو ته لاسرسی لرلای شي چې

د DPPA له مخې مستثنا وي (او امنيتي کوډ ته د لاسرسي غوښتنه (4678 فورم) يې سپارلې وي او يا مو د سوابقو له ساتونکي څخه د يوې غوښتنې په ترڅ کې د رضایت ورکولو فورم ترلاسه کړی وي (4681 فورم)

- د رايي ورکوونکي نوم ليکنه

کله چې تاسو د موټر چلولو د جواز، د نه چلولو جواز او يا د لاربښووني اجازه پاڼې ترلاسه کولو لپاره نوم لیکنه کوئ یا یې بیا ځلي نوي کوئ، کاتب به له تاسو څخه پوښتنه وکړي چې آیا په خپل اوسنی پته کې مو د رايي ورکولو لپاره نوم لیکنه کړې ده. که ستاسو د رايي ورکولو په پته کې بدلون راغلی وي یا مو په وروستي ځل د رايي ورکولو لپاره تر نوم لیکنې را وروسته خپل نوم بدل کړی وي (لکه ستاسو د رايي ورکونې په کارت کې چې ښکاري)، نو تاسو کولای شئ د رايي ورکولو کارت وسپارئ تر څو په دې توګه د جواز اخیستو لپاره د نوم لیکنې پر مهال له "هو" سره په ځواب ورکولو سره اړین معلومات اپډېټ کړئ. د راجسترېشن کارت به ستاسو د لاسلیک لپاره تولید او د رايي ورکونې ځايي اداري ته به وسپارل شي.

- د انتخابي خدمت راجسترېشن

هغه نارینه متقاضیان چې عمرونه يې له 18 څخه تر 26 کلونو پورې وي، کولای شي د جواز او یا اجازه پاڼې د ترلاسه کولو لپاره د نوم لیکنې پر مهال له انتخابي خدمت سره ځان راجستر کړي.

ستاسو د جواز ځنډېدل او یا لغوه کېدل

ډېر دلیلونه موجود دي چې کېدای شي له مخې يې ستاسو جواز لغوه شي، وځنډېږي او یا رد شي. ستاسو لپاره تر ټولو غوره لار دا ده چې مسوولیت منونکي او ښه موټر چلوونکي اوسئ. تاسو د لاندې دلایلو له امله خپل جواز له لاسه ورکولای شئ.

- د جواز د ردولو لپاره د والدینو او يا سرپرست غوښتنه (4811 فورم) ـ که ستاسو عمر له 18 کلنۍ څخه کم وي، ستاسو والدين او يا سرپرست کولای شي غوښتنه وکړي چې د عوايد ډايرکټر ستاسو جواز رد کړي. که تاسو له مخکې نه د موټر چلولو جواز لرئ، نو دغه غوښتنه به ستاسو جواز لغوه کړي. کله چې ډيپارټمنټ ته ستاسو غوښتنه ورسېږي، ستاسو د موټر چلولو په سوابقو کې به يو رد ځای پر ځای شي.

د دغه ردونې د اعتبار موده به هغه وخت بشپړه شي چې ستاسو عمر 18 کلنۍ ته ورسېږي او يا ستاسو والدينو او يا سرپرست غوښتنه وکړي چې ستاسو د موټر چلولو وضعيت بايد روښانه شي. 4811 فورم د ډيپارټمنټ پر ويب سايټ يا د جواز په هره اداره کې ترلاسه کولای شئ.

- د الکولو او يا مخدره توکو تر اغېز لاندې موټر چلول (10 څېرکی وګورئ).
- د پوليسو افسر ته اجازه نه ورکول چې وګوري تاسو الکول او يا مخدره توکي کارولي دي کنه.
- د ترافيکي پېښې له ساحې څخه وتل.
- د ترافيکي پېښې د راپور په ډکولو کې پاتې راتلل (13 څېرکی وګورئ).
- د جواز اخيستو لپاره د نوم ليکنې پر مهال د ناسمو معلوماتو ورکول.
- د نقليه وسيلې د ټکر په پايله کې چې محکمې د زيانونو په اړه ستاسو پر خلاف پرېکړه کړې ده، د هغې په حل او فصل کولو کې پاتې راتلل.

- د بیمې په ساتلو کې پاتې راتلل (مالي مسوولیت) (13 څپرکی وګورئ)
- د الکولو د پیرلو پر مهال د جواز معلوماتو ته بدلون ورکول او یا د بل چا له جواز څخه ګټه اخیستنه.
- کله چې د موټر چلونې د جواز اداره له تاسو څخه وغواړي چې ازموینې ته حاضر شئ او تاسو ور نشئ.
- د یوه جنایت ترسره کولو لپاره له نقلیه وسیلې څخه ګټه اخیستل او یا د نقلیه وسیلې په ټکر کې د کوم کس د مړینې لامل کېدل.
- د خپل موټر چلونې په سوابقو کې د ډېرو نقطو لرل (11 څپرکی وګورئ).
- کوم بل چا ته اجازه ورکول چې ستاسو له جواز څخه ګټه واخلي.
- په میسوري او یا نورو ایالتونو کې محاکمو ته نه حاضرېدل او د ترافیکي ټکټونو نه ادا کول.
- د ماشوم د مرستې نه ادا کول.
- د اړتیا په صورت کې د اور وژنې د انټرلاک وسیلې په کارولو کې پاتې راتلل.
- له ګاز سټېشن څخه د نفتو غلا کول.
- که تاسو صغیر یاست او کوم ډول مستوونکې توکي درسره وي.
- د بیمې ناسم سند وړاندې کول.
- د لارې د حق په ورکولو کې پاتې راتګ او د ټپي کېدو او یا مړینې لامل کېدل.

**د فارغ التحصیل د موټر چلونې جواز (GDL) قانون**

د میسوري د فارغ التحصیل د موټر چلونې جواز له ټولو هغو لومړي وخت له 18 کلنۍ څخه ښکته موټر چلوونکو څخه غواړي چې د زده کړې اجازه پاڼه ترلاسه کړي او مخکې له دې چې د بشپړ وخت جواز ترلاسه کړي، له یوه مجوز چلوونکي سره د موټر چلونې یوه دوره بشپړه کړي، دا دوره ښايي د محدودې موټر چلونې (د منځنۍ کچې جواز) په دورې پسې ویمخکې لدې چې بشپړ جواز واخلي.

د هېواد په کچه مطالعات ښيي چې د فارغ التحصیل د موټر چلونې د جواز د قانو له پلي کېدو څخه وروسته د هغو ترافیکي پېښو په کچه کې 58 سلنه کموالی راغلی دی چې د مړینې او سختو ټپونو لامل کېږي او ځوان چلوونکي پکې ښکېل وي. د زده کړې اجازه د لومړي ګام، د منځنۍ کچې جواز د دویم ګام او بشپړ (له 21 کلنۍ څخه ښکته) د موټر چلونې جواز د درېیم ګام په توګه په نظر کې ونیسئ. لاندې د هر ګام شرحې دي چې له تاسو سره د GDL پروګرام په پوهېدو کې مرسته کوي.

لومړی ګام: د زده کړې اجازه لیک پر شرایطو برابر سن: 15 د لګښت لپاره په 8 پاڼه کې جدول وګورئ. د اعتبار موده: 0-12 میاشتې، د سند د تصدیق د وضعیت پر بنسټ

د زده کړې د اجازې د ترلاسه کولو لپاره:

- بصري، د سړک د نښو او لیکلي ازموینه ورکړئ.
- یو له والدینو، ناتني والدین، قانوني سرپرست او یا مجوز روزونکی (د فدرال استوګنې د دندې له یو روزنیز پروګرام سره) باید له تاسو سره د جواز ادارې ته لاړ شي تر څو د اجازې یوه بیانیه لاسلیک کړي.

د اجازه پاڼې یادښتونه:

●له 16 کلنۍ څخه په کم عمر کې تاسو ښايي یوازې په هغه صورت کې موټر وچلوئ چې د موټر په مخکې سیټ کې درسره والدین، ناتني والدین، قانوني سرپرست، د موټر چلونې وړ روزونکی او یا داسې کس درسره وي چې عمر یې لږ تر لږه 25 کاله وي او درې کاله کېږي چې جواز یې ترلاسه کړی وي او له والدینو او یا قانوني سرپرست څخه یې لیکلې اجازه ترلاسه کړې وي. که ستاسو والدین، ناتني والدین، نیا/نیکه یا قانوني سرپرست فزیکي معلولیت لري، نو کېدای شي چې دوه کسان له تاسو سره کېني، تر څو تاسو ته د سټرینګ تر شا لارښوونې وکړي.

●په 16 کلنۍ او یا تر دې لوړ عمر کې تاسو په هغه شرایطو کې موټر چلولای شئ چې په مخکې سیټ کې بل څوک درسره ناست وي او د هغه کس عمر باید لږ تر لږه 21 کاله یا تر دې لوړ وي او د موټر چلونې یو معتبر جواز ولري.

●موټر چلوونکی او په موټر کې ټول سپاره کسان باید د څوکۍ کمربند وتړي.

- **یوازې ستاسو د ازموینې پاڼه د موټر چلونې لپاره قانوني نه ده. ډاډ حاصل کړئ چې اجازه پاڼه له ځان سره وګرځوئ.**

●تاسو کولای شئ خپله د زده کړې اجازه پاڼه هر څو ځلې چې ورته اړتیا وي، له لیکلي ازموینې پرته بیا ځلي نوې کړئ.

● د "PERMIT DRIVER" وړیا کړکۍ نښې د جواز په ټولو دفترونو کې موجودې دي.

د منځنۍ کچې جواز ته لار موندل:

تاسو باید لږ تر لږه د شپږو میاشتو (182 ورځو) لپاره د لارښووني اجازهپانه ولرئ چې موده یې له صدور څخه یوه ورځ وروسته نېټې څخه حسابېږي.

- تاسو باید له خپلو والدینو، ناتني والدینو، قانوني سرپرست او یا مجوز روزونکي سره د موټر چلونې 40 ساعته لارښوونه بشپړه کړې وي (د فدرال استوګنې د دندې له یو روزنیز پروګرام سره). په دغو اړینو 40 ساعتونو کې باید لږ تر لږه لس ساعته په شپه کې موټر چلول شامل وي.

دویم ګام: د منځنۍ کچې جواز پر شرایطو برابر سن: 16 تر 18 د لګښت لپاره په 8 پاڼه کې جدول وګورئ.

د اعتبار موده: 0-2 کلونه، د سند د تصدیق د وضعیت پر بنسټ

د منځنۍ کچې جواز ترلاسه کول:

- د زده کړې له اجازې څخه د فراغت لپاره باید تاسو (په لومړي ګام کې) ذکر شوې اړتیاوې پوره کړئ او لږ تر لږه د شپږ میاشتو (182 ورځو) لپاره د زده کړې اجازه درسره وساتئ، دغه موده د صدور له نېټې څخه یوه ورځ وروسته پیلېږي. په دې کې دا هم راځي چې د تېرو 12 میاشتو لپاره باید د الکولو له امله محکومیت او په تېرو شپږو میاشتو کې ترافیکي محکومیت ونلرئ.
- یو له والدینو، ناتني والدین، قانوني سرپرست او یا مجوز روزونکی (د فدرال استوګنې د دندې له یو روزنیز پروګرام سره) باید له تاسو سره د جواز اداري ته لاړ شي تر څو تصدیق کړي چې تاسو د خپلې زده کړې له اجازې سره د 40 ساعته د موټر چلونې زده کړه ترلاسه کړې ده.
- که چېرته له مخکینیو پایلو څخه له یو کال څخه زیاته موده تېره شوې، بصري، د سړک د نښو او لیکنۍ ازموینه (که د تطبیق وړ وي) پاس کړئ.
- د موټر چلونې د مهارتونو ازموینه پاس کړئ.
- د جواز یادښتونه:
- یوازې ستاسو د ازموینې پاڼه د موټر چلونې لپاره قانوني نه ده. داډ ترلاسه کړئ چې خپل د منځنۍ کچې جواز درسره ولرئ.
- موټر چلوونکی او په موټر کې ټول سپاره کسان باید د څوکۍ کمربند وتړي.
- د سورلۍ محدودیتونه چې لاندې ذکر شوي دي، کېدای شي د منځنۍ کچې د جواز پر هغه لرونکي د تطبیق وړ نه وي چې د کرنیزو چارو په موخه موټر چلوي.
- د موټر چلونې محدودیتونه
- د لومړیو شپږو میاشتو په موده کې کېدای شي تاسو داسې موټر ونه چلوئ چې په هغې کې له یوه څخه ډېرې سورلۍ وي چې عمر یې له 19 کلونو څخه کم وي او ستاسو د کورنۍ نږدې غړی نه وي*.
- له لومړیو شپږو میاشتو څخه وروسته کېدای شي تاسو داسې موټر ونه چلوئ چې په هغې کې له دریو څخه ډېرې سورلۍ وي چې عمرونه یې له 19 کلونو څخه کم وي او ستاسو د کورنۍ نږدې غړی نه وي*.
- ښوونځي او یا دندې ته له تګ را تګ او یا له بېړني وضعیت څخه پرته تاسو نشئ کولای چې د شپې له 1:00 بجې څخه د سهار تر 5:00 بجو پورې په یوازې توګه موټر وچلوئ، مګر دا چې داسې یو جواز لرونکی موټرچلوونکی درسره وي چې عمر 21 کاله یا تر دې لوړ وي.

* د کورنۍ په نږدې غړیو کې والدین، نیا/ نیکه، ورونه، خویندې، ناسکه ورونه، ناسکه خویندې، یا په فرندي او یا تر پالنې لاندې نیول شوي ماشوم چې د موټر چلوونکي په کور کې اوسېږي. په والدینو کې سرپرست والدین، ناسکه والدین یا په پلار/ مور ولۍ نیول شوي والدین راتلای شي. په نیا/ نیکه کې سرپرسته نیا/ نیکه، ناسکه نیا/ نیکه او یا په نیا/ نیکه ولۍ نیول شوي راتلای شي.

که ستاسو عمر له 21 کلونو څخه کم وي، نو ډیپارټمنټ به یو جواز درکړي چې تاسو د صغیر په توګه معرفي کوي. کله چې ستاسو عمر 21 کلونو ته ورسېد، کولای شئ د موټر چلونې یوه بل جواز ته نوم لیکنه وکړئ او پیسې تادیه کړئ (د صغارت له څرګندولو پرته) او یا صبر وکړئ چې ستاسو تر 21 کلنۍ ښکته جواز د اعتبار موده پای ته ورسېږي.

تاسو هڅول کېږي چې په ليکلي ازموينه کې له ګډون څخه وړاندې د موټر چلونې دغه لارښود مطالعه کړئ. هغه کسان چې په لومړي ځل دې ازموينه کې ګډون کوي، نږدې 50 کسان يې ناکامېږي. که تاسو د دې لارښود مطالعې ته وخت ورکړئ، نو په ازموينه کې به د بريالي کېدو ښه چانس ترلاسه کړئ.

د دې لپاره چې له 21 کلنۍ څخه ښکته د موټر چلونې بشپړ جواز ته لار ومومئ:

- د نوم ليکنې پر مهال ستاسو د موټر چلونې امتياز ځنډېدای، لغوه کېدای او ردېدای نشي.
- کېدای شي تاسو د تېرو 12 مياشتو په موده کې د الکولو اړوند کومه سرغړونده او ترافيکي محکوميت ونلرئ.

**درېيم ګام: د موټر چلونې بشپړ جواز (له 21 کلنۍ څخه ښکته)**

پر شرايطو برابر عمر: 18 د لګښت لپاره په 8 پاڼه کې جدول وګورئ.

د اعتبار موده: 0-3 کلونه، د سند د تصديق د وضعيت پر بنسټ

د دې لپاره چې له 21 کلنۍ څخه ښکته د موټر چلونې بشپړ جواز ترلاسه کړئ:

- تاسو بايد د منځنۍ کچې د جواز لپاره اړين شرايط پوره کړئ. په دې کې دا هم راځي چې د تېرو 12 مياشتو کې بايد د الکولو اړونده سرغړنه او ترافيکي محکوميت ونلرئ.
- د منځنۍ کچې يو <u>معتبر</u> جواز ولرئ. د موټر چلونې بشپړ جواز ته د نوم ليکنې پر مهال ستاسو د موټر چلونې امتياز ځنډېدای، لغوه کېدای او ردېدای نشي.
- بصري اازموينه او د سړک د نښو د تشخيص ازموينه هم پاس کړئ. (که تاسو ليکنۍ او د موټر چلونې د مهارتونو ازموينې له وړاندې بشپړې کړې وي، اړتيا نشته چې بيا يې پاس کړئ.)

<table>
<tr><td>
ستاسو لپاره يو چېک لېست<br>
کله چې تاسو د ميسوري د موټر چلونې جواز، د زده کړې اجازه پاڼې او يا د موټر نه چلولو جواز ته نوم ليکنه کوئ، نو لاندې سندونه بايد درسره ولرئ. کله چې د جواز او يا اجازه پاڼې لپاره نوم ليکنه کوئ، نو ټول اړين سندونه د جواز دفتر ته درسره يوسئ.
</td></tr>
<tr><td>
د ميسوري نوی اوسيدونکی چې له ايالت څخه بهر د موټر چلونې جواز لېږدوي<br>
(معتبر وي او يا يې له منقضي کېدو څخه له 184 ورځو څخه زياته موده نه تېرېږي)<br>
☐ له ايالت څخه بهر د موټر چلونې جواز (معتبر وي او يا يې له منقضي کېدو څخه له 184 ورځو څخه زياته موده نه تېرېږي)<br>
☐ د قانوني وضعيت سند، د هويت پاڼه (بايد بشپړ قانوني نوم او د زېږېدو نېټه پکې وي)، د ټولنيز امنيت شمېره، د نوم بدلون کې يې امکان وي او د ميسوري د استوګنې يادښت*: که تاسو خپل د موټر چلونې د جواز <u>کچه لوړوئ</u>، نو کله چې ليکلې، بصري، د سړک د نښو او يا د موټر چلونې د مهارتونو ازموينه ورکوئ، نو پورته سندونه له ځان سره د MSHP د ازموينې موقعيت ته يوسئ.
</td></tr>
<tr><td>
د لومړي ځل متقاضي<br>
☐ د قانوني وضعيت سند، د هويت پاڼه (بايد بشپړ قانوني نوم او د زېږېدو نېټه پکې وي)، د ټولنيز امنيت شمېره، د نوم بدلون کې يې امکان وي او د ميسوري د استوګنې*<br>
☐ د موټر چلونې د ازموينې سوابق (<u>له 100 څخه</u>) د ازموينو بريالۍ بشپړونه څرګندوي (د موټر نه چلونې د جواز لپاره اړين نه دي)
</td></tr>
<tr><td>
د جواز بيا نوي کول<br>
☐ ټول موټر چلوونکي چې جواز نوی کوي بايد د قانوني وضعيت سند، د هويت پاڼه (بايد بشپړ قانوني نوم او د زېږېدو نېټه پکې وي)، د ټولنيز امنيت شمېره، د نوم بدلون کې يې امکان وي او د ميسوري د استوګنې سند وښيي<br>
استثنا: که چېرته تاسو غيرسوداګريزه اجازه پاڼه/ د موټر چلونې جواز او يا نه چلونې جواز بيا نوی کوئ، او عمر مو 65 کاله يا تر دې لوړ وي، نو تاسو به د زوکړې د ځای د سند له ښودلو څخه مستثنا وګڼل شئ.
</td></tr>
</table>

*په مهربانۍ سره د REAL ID او غېز REAL ID برابر سند د متقاضي ته د منلو وړ سندونو د بشپړ لېست لپاره په آنلاين بڼه **<u>www.dor.mo.gov</u>** ته مراجعه وکړئ.

يادښت: که چېرته د سپارل شويو سندونو په اړه پوښتنې موجودې وي، يا د جواز د ادارې کاتب او يا د MSHP ازموينه اخيستونکی کوم دليل لري چې له مخې يې د سندونو د اعتبار او کره والي په اړه پوښتنه وکړي، نو اضافي سندونو او د SSN تصديق ته به اړتيا وي.

يا نور تصديق ته اړتيا ولري.

د موټر چلوونکي ازمویل

د موټر چلوونکي په ازمایلو کې یوه څلور برخیزه ازموینه راځي:

- د خوندي موټر چلونې په اړه د ترافیکي قوانینو او اصولولیکلي ازموینه
- بصري ازموینه
- د سړک د نښو ازموینه
- د موټر چلونې ازموینه (مهارتونه)

تاسو باید په ازموینه کې ګډون کولو ته چمتووالی ونیسئ، که چېرته:

- تاسو د میسوري د نوي جواز لپاره نوم لیکنه کوئ.

یادښت: که تاسو د بل ایالت د موټر چلونې معتبر جواز لرئ او یا داسې جواز وي چې د منقضې کېدو څخه له 184 ورځو ډېره موده تېره نه وي، او په میسوري کې همدغه ډول سند ته نوم لیکنه کوئ، نو تاسو یوازې اړ یاست چې بصري او د سړک د نښو ازموینه ورکړئ.

- له شپږ میاشتو (184 ورځو) څخه ډېره موده کېږي چې ستاسو د میسوري د موټر چلونې جواز منقضې شوی دی.
- د عوایدو د برخې ډایرکټر به له تاسو څخه وغواړي چې ازموینه ورکړئ، ان که اوسنی جواز هم ولرئ.
- ستاسو جواز لغوه شوی و ځکه چې:
  - تاسو د خپل موټر چلونې په سوابقو کې ډېرې نقطې لرئ.
  - د الکولو د یوه اداري عمل له امله (10 څپرکی وګورئ).

**چېرته باید ازموینه ورکړئ**

د موټر چلوونکو ازموینه د MSHP له لوري اداره کېږي. تاسو ته نږدې د ازموینې مرکز د موندلو لپاره له MSHP او یا ډیپارټمنټ سره اړیکه ټینګه کړئ. د ډیپارټمنټ او MSHP د ټلیفون شمېرې د دې لارښود پر شا لیکل شوې دي. تاسو همدرانګه دغه موقعیتونه د MSHP پر وېب سایټ هم موندلای شئ:

**http://www.mshp.dps.missouri.gov/<u>MSHPWeb/Root/index.html</u>**.

**ستاسو د نوم او عمر تصدیق**

مخکې له دې چې تاسو د موټر چلوونکي په ازموینه کې برخه واخلئ، باید خپل قانوني نوم او عمر ثابت کړئ. کله چې تاسو د موټر چلونې جواز او اجازه پاڼې ته نوم لیکنه کوئ او یا هر وخت چې په ازموینه کې ګډون کوئ، نو دغه تصدیق باید د عوایدو ډیپارټمنټ ته هم وښایاست. (د نوم، د زېږېدو نېټې، د زېږېدو ځای، د ټولنیز امنیت شمېرې او د میسوري د استوګنې د پتې د تصدیق لپاره د منلو وړ اسنادو د لېست لپاره 1 څپرکي ته مراجعه وکړئ.)

**لیکلې ازموینه**

<u>د موټر چلونې جواز (F ټولګی)</u>

کله چې تاسو د F ټولګي (د اپرېټور) جواز ته نوم لیکنه کوئ، نو باید په یوه څو ځوابه ازموینه کې ګډون وکړئ چې 25 پوښتنې لري. پوښتنې به د موټر چلونې د قوانینو او مېتودونو په اړه وي چې په دې لارښود کې راغلي دي. ازموینه د خلاص کتاب ازموینه نه ده. له تاسو څخه به د سوداګریزو موټرونو د معلوماتو په اړه ازموینه وانخیستل شي چې په 15 څپرکي کې راغلي دي.

<u>د ګومارنې لپاره جواز (E ټولګی)</u>

که تاسو د E ټولګي (د ګومارنې لپاره) جواز ته نوم لیکنه کوئ، نو باید په ځانګړې لیکنۍ ازموینه کې ګډون وکړئ. پوښتنې به د موټر چلونې د قوانینو او مېتودونو په اړه وي چې په دې لارښود کې راغلي دي، همدارنګه د سوداګریزو موټرونو په اړه معلوماتو څخه به هم راځي چې په 15 څپرکي کې یې موندلای شئ. ازموینه د خلاص کتاب ازموینه نه ده.

**بصري ازموینه**

کله چې نوي جواز ته نوم لیکنه کوئ یا هغه نوی کوئ، نو تاسو باید د هوښ په یوې بصري ازموینه او یوې پریفیرال (د اړخ) بصري ازموینه کې ګډون وکړئ. معیاري کمه اندازه هوښ له دواړو او یا یوې سترګې سره 40/20 دی. که تاسو عینکې په سترګو کوئ

یا لهتماس لېنزونو کار اخلئ، نو تاسو ممکن د لیدنې په ازموینه کې ورته اړتیا ولرئ. د چاپېریال کمه اندازه معیاري لیدنې په هره سترګه کې 55 درجې او په یوه سترګه کې 85 درجې ده. که تاسو نشئ کولای د لیدنې اړین معیارونه پوره کړئ، ښایي ستاسو جواز رد شي او یا مو پر جواز محدودیت ولګول شي.

که تاسو د معیاري لیدنې په ازموینه کې ناکام شئ، نو ازموینه اخیستونکی به تاسو ته د بصري ازموینې یو فورم درکړي چې ستاسو د سترګو متخصص او یا ډاکټر یې باید ډک کړي. که چېرته ډاکټر ستاسو لپاره عینکې یا د لېنزونو کارول تجویزوي تر څو ستاسو لیدل ورسره سم شي، نو ښایي اړ شئ چې د لیکنې او یا د موټر چلونې د مهارتونو د ازموینې له ورکولو څخه وړاندې عینکو (یا ارتباطي لېنزونو) ته په تمه شئ. که ستاسو دواړه هم طبیعي او هم سم شوي نظرونه له 160/20 څخه بدتر وي، یا ستاسو پریفیرال ترکیب له 70 درجو څخه بدتر وي، نو تاسو د موټر چلونې ازموینه نشئ ورکولای اوچلونې جواز نشئ ترلاسه کولای.

**د سړک د نښو ازموینه**

د سړک د نښو ازموینه به ستاسو وړتیا معلومه کړي چې ایا ترافیکي نښې تشخیصوئ او پرې پوهېږي.

**د موټر چلونې ازموینه**

کله چې تاسو لیکنی، لیدنی او د سړک د نښو ازموینې ورکړئ، تر هغې وروسته ښایي د موټر چلونې ازموینورکړئ. تاسو به د MSHP د موټر چلونې د جواز ازموینه اخیستونکي ته د موټر چلونې ازموینه ورکړئ.

ازموینه اخیستونکی به ستاسو موټر د اړینو تجهیزاتو له پلوه چېک کړي. ازموینه اخیستونکی به ستاسو موټر همدارنګه د خوندي چلېدنې د وضعیت له پلوه هم چېک کړي. که ستاسو موټر په مناسب ډول سمبال نه وي، یا ازموینه اخیستونکی باور لري چې د ازموینې ورکول خطرناک دي، په دې صورت کې تاسو ازموینه نشئ ورکولای.

تاسو باید په هغه موټر کې ازموینه ورکړئ چې ورسره بلد یاست. موټر باید لاندې موارد ولري:

- د جواز اوسنی پلېټ (پلېټونه) او د پلټنې یو معتبر سټېکر.
- د څوکی کمربندونه چې په سمه توګه کار کوي.
- دروازې چې په سمه توګه د موټر چلوونکي او ازموینه اخیستونکي لپاره کار کوي.
- د ازموینه اخیستونکي لپاره یو پاک او خوندي سیټ.
- دوه سېټه برېکونه (د پارکېنګ او د پښې برېک) چې په سمه توګه کار کوي.
- یو هارن چې په سم ډول کار کوي.
- د مالي مسوولیت سند.

تاسو به موټر چلوئ او ازموینه اخیستونکی به مو تر څنګ ناست وي. د ازموینې پر مهال به بل څوک په موټر کې نه سپرېږي. له ازموینه اخیستونکي سره له غیرضروري بحثونو څخه ډډه وکړئ او پر خپله موټر چلونه تمرکز وکړئ. په یاد ولرئ د ازموینه اخیستونکي دنده ازموینه اخیستل دي، نه تدریس. تاسو باید په هر وخت کې د میسوري ټول ترافیکي قوانین مراعات کړئ.

<u>ازموینه اخیستونکی به له تاسو څخه وغواړي چې د موټر ټول کنټرولونه ومومئ او ویې کاروئ</u>، لکه اکسلېټر، بېرکونه، د ګرځېدو سېګنالونه، ښیښکه پاکونه او داسې نور. تاسو به په لاندې مواردو کې و ازمویل شئ:

- له پلټنې پرته د کنټرول موندل.
- په سمه توګه د کنټرول کارول.

<u>ازموینه اخیستونکی به له تاسو څخه وغواړي چې موټر چلول پیل کړئ.</u> تاسو به په لاندې مواردو کې و ازمویل شئ:

- د موټر پیل کول.
- د پارکېنګ برېک خوشې کول.
- لارې ته کتل چې روښانه کنه.
- سم سېګنال ورکول.
- په منظم ډول په سم سرعت سره موټر چلول.

This independent translation is not affiliated with the State of Missouri or any of its agencies.
دا خپلواکه ژباړه د میسوري ایالت یا د هغې کومې اداري پورې تړاو نلري.

**ازموینه اخیستونکی به تاسو ته ووایي چې چېرته موټر وچلوئ، په کوم ځایی کی را وګرځئ، چېرته ودرېږئ او داسی نور.**

وروسته به ازموینه اخیستونکی تاسو ته ووایي چې څه وکړئ، تاسو به کافي وخت ولرئ چې ترافیکو ته وګورئ او څه ډول چې در څخه غوښتل شوي وي، هغسې موټر وچلوئ. له تاسو څخه به د لاندې کارونو د ترسره کولو غوښتنه وشي:

1. د موټر روښانه کول او درول. تاسو به په لاندې مواردو کې و ازمویل شئ:

- ستاسو د موټر د روښانه کولو او درولو منظموالی.
- ستاسو د غبرګونه وخت.
- د درولو پر مهال پر موټر ستاسو کنټرول.

2. څنډې ته په موازي ډول پارک کول، په 25 فوټه اوږدوالي او اووه فوټه سور سره.

تاسو به په لاندې مواردو کې و ازمویل شئ:

- شا ته له تګ مخکې ستاسو د موټر موقعیت.
- چې د واټن له نښانونو سره ولګېږئ او که نه.
- خالي ځای ته په منظم ډول او سم سرعت سره تلل.
- موټر به داسې نه پارک کوئ چې له څنډې څخه تر 18 انچو زیات واټن ولري.
- د خالي ځای مرکز ته نږدې پارک کول.
- په دوه دقیقو کې د موټر د پارک کولو وړتیا.
- د پارک کولو لپاره په سم لوري د ټایرونو ګرځول.
- مخکې له دې چې د پارکېنګ له ساحې څخه ووځئ، د ترافیکو او سېګنالونو چېک کول.

3. شا ته تګ. تاسو به په لاندې مواردو کې و ازمویل شئ:

- له ښي اوږې څخه کتل تر څو د عقب هېنداره درته ښکاره شي.
- ایا ستاسو موټر په مستقیم ډول پر شا ځي.
- په مناسب ترافیکي مسیر کې پاتې کېدل.
- په سم سرعت شا ته حرکت کول.

4. لږ تر لږه دوه ځله ښي لوري او دوه ځله کیڼ لوري ته وګرځئ. تاسو به په لاندې مواردو کې و ازمویل شئ:

- د ګرځېدو لپاره په سم مسیر کې موټر چلول.
- په سم وخت کې د ګرځېدو لپاره سم سېګنال ورکول.
- په سم مسیر کې را ګرځېدل.
- په سمه توګه د ترافیکو کتل.
- په سم سرعت سره ګرځېدل.
- پر موټر ستاسو کنټرول.

5. پر غونډۍ پارک کول. تاسو به په لاندې مواردو کې و ازمویل شئ:

- پر موټر ستاسو کنټرول.
- موټر به داسې نه پارک کوئ چې له څنډې څخه تر 18 انچو زیات واټن ولري.
- په پارک حالت کې خپل موټر پرېښودل یا سم ګېر.
- د پارک کولو لپاره په سم لوري د مخکې ټایرونو ګرځول.
- د پارکېنګ بریک تنظیمول.
- د ترافیکو کتل او سېګنال ورکول.

6. تقاطعاتو ته ننوتل او ترې وتل. تاسو به په لاندې مواردو کې و ازمویل شئ:

- پر ترافیکي نښو او څراغونو پوهېدل او د هغوی مراعاتول.
- تقاطع ته د رسېدو پر مهال ستاسو سرعت.
- ستاسو تر څنګ له ترافیکو څخه ستاسو خبرتیا.
- په سم مسیر کې موټر چلول.
- د ترافیکو د جریان له بندولو پرته د سمې لار حق ورکول.
- د درېدو د نښې پر مهال په مناسب ځای کې په بشپړه توګه درېدل.

7. په ترافیکي نښو او سېګنالونو پوهېدل او د هغوی مراعاتول. تاسو به په لاندې مواردو کې و ازمویل شئ:

- ترافیکي نښو او سېګنالونو ته پام کول او د هغوی مراعاتول.

This independent translation is not affiliated with the State of Missouri or any of its agencies.
دا خپلواکه ژباړه د میسوري ایالت یا د هغې کومې اداري پورې تړاو نلري.

ازموینه اخیستونکی به وګوري چې تاسو د موټر چلونې اصول سم کاروئ کنه . تاسو به په لاندې مواردو کې و ازمویل شئ:

- ستاسو د موټر او له تاسو څخه مخکې موټر تر منځ واټن.
- د موټر چلونې پر مهال ستاسو سرعت.
- په سم مسیر کې موټر چلول او د مسیر د کرښو مراعاتول.
- ستاسو په شاوخوا کې له ترافیکو څخه ستاسو خبرتیا.
- د اړتیا په صورت کې د مخکې کېدو د حق مراعاتول.

**ستاسو درجه**

که تاسو د موټر چلونې پر مهال هره تېروتنه کوئ، ازموینه اخیستونکی به له تاسو څخه نمرې کموي. که تاسو له 30 څخه زیاتې نمرې له لاسه ورکړئ، په ازموینه کې به ناکام شئ. تاسو به د لاندې مواردو په صورت کې هم په ازموینه کې ناکام شئ:

- له بل موټر سره ټکر وکړئ اودا ګناه ستاسو وي؛
- یو پلی تېریدونکی ووهئ؛
- په ډېر خطرناک ډول موټر وچلوئ چې د کېدای شي د ترافیکي پېښې لامل شي؛
- ترافیکي قانون مات کړئ؛ یا
- څه ډول چې ازموینه اخیستونګي در څخه غواړي، هغه ډول موټر ونه چلوئ.

کله چې تاسو د موټر چلونې ازموینه پاس کړئ، تاسو ته به د ازموینې د پایلو یو فورم درکړل شي. مخکې له دې چې تاسو موټر وچلوئ، باید د جواز په اداره کې د جواز لپاره نوم لیکنه وکړئ او ترلاسه یې کړئ. یوازې د ازموینې پایلې د موټر چلونې لپاره معتبرې نه دي.

**د موټر چلونې په ازموینه کې ناکامېدل**

که چېرته تاسو د موټر چلونې په ازموینه کې ناکام شئ، ازموینه اخیستونکی به تاسو ته وړاندیز وکړي چې تر بیا ځلي ازموینې ورکولو تمرین وکړئ. تاسو په یوه ورځ کې یوازې یوه ازموینه ورکولای شئ.

که چېرته تاسو درې ځلي د موټر چلونې په ازموینه کې ناکام شئ، نو د وزارت له لیکلي بیانیې پرته به تاسو بله ازموینه ورنکړای شئ. د موټر چلونې ازموینه اخیستونکی به تاسو ته یو فورم درکړي چې تاسو یې باید وزارت ته واستوئ. کله چې تاسو وزارت ته فورم واستاوه، له هغوی څخه به یو لیک ترلاسه کړئ چې تاسو ته د سټرېنګ تر شا د لا ډېرې زده کړې سپارښتنه کوي. مخکې له دې چې تاسو ته د بیا ځلي ازموینې ورکولو اجازه درکړل شي، باید د موټر چلونې د اضافي زده کړې سند ور واستوئ.

**درغلي**

درغلي کول جرم دی. هر څوک چې ناسمه بیانیه یا سوګند پاڼه ورکړي او یا د میسوري د موټر چلونې د جواز، اجازه پاڼې او یا موټر نه چلولو جواز د ازموینې په پروسه کې د درغلۍ یا دوکې لامل شي او یا له بل چې سره په درغلۍ کې مرسته وکړي، نوموړی شخص د درغلۍ د جرم مرتکب ګرځېدلی دی. درغلي د "A" ټولګي تخلف دی او په پایله کې یې کېدای شي د یو کال لپاره د موټر چلونې جواز له لاسه ورکړئ.

د درغلۍ په ځینو بېلګو کې کېدای شي دوکه، یا د ازموینه په پروسه کې د ضبط کولو، انځور اخیستنې، یا د دوه اړخیزو اړیکو له وسیلې څخه ګټه اخیستنه او یا د ګټې اخیستنې هڅه شامله وي.

د موټر چلوونکي په توګه ستاسو تر ټولو لوړه دنده دا ده چې خپل موټر په احتیاط او ځیر سره وچلوئ. ستاسو سرعت او د موټر چلونې ډول باید تاسو او د سړکو نورو کاروونکو ته پلي تېریدونکو، سایکل چلوونکو او نور موټر چلوونکو ته خوندي چاپېریال را منځته کول پکې شامل دي.

**د لارې حق**

که چېرته د دې احتمال وي چې موټرونه او یا پلي کسان به له یو بل سره مخ کېږي او داسې نښې او سېګنالونه هلته نه وي چې ترافیک تنظیم کړي، نو داسې اصول شته چې له مخې یې مخشصبېږي چې څوک باید مخکې شي. دغه اصولو موټر چلوونکو ته وایي چې څوک باید مخکې شي او څوک باید په متفاوتو ترافیکي حالاتو کې صبر وکړي.

قانون وایي چې څوک باید د لاریحق بل ته ورکړي؛ دا کوم موټر چلوونکي ته د لارې حق نه ورکوي. تاسو باید شرایطو ته له پام پرته خپله ټوله هڅه وکړئ چې له پلي کس او یا بل موټر سره له ټکر څخه مخنیوی وکړئ.

**مخکې کېدل**

مخکې کېدل یو خطرناک مانور دی، چې په تقاطعاتو کې دا خطرونه ډېر وي، همدارنګه په تقاطعاتو او دوه طرفه سړکونو کې د نورو موټرو تر څنګ هم دا خطر وي (د نه مخکې کېدو ساحو ته په 3 څپرکي کې مراجعه وکړې.)

که چېرته تاسو په میسوري ایالت کې د بیا رغونې د ساحې په سړک کې په سرعت سره تېر شئ، نو په لومړي ځل به $250 جریمه شئ او که دا کار په متعاقب ډول تکرار کړئ نو $300 به جریمه شئ، پر دې سربېره به هر هغه جریمه هم تادیه کړئ چې د قانون له مخې د **RSMo** له 582. 304 برخې سره سم به پر تاسو وضع کېږي.

ورته پاملرنې وکاروئکله چې له کوم پلي کس او یا سایکل چلوونکي څخه مخکې کېږي، په هماغه ډول احتیاط سره تېر شئ لکه له یوه موټر څخه چې مخکې کېږئ. کېدای شي تاسو خپل سرعت کم کړئ او صبر وکړئ تر څو یو خوندي فرصت ومومو‌ئ چې له پلي کس یا سایکل څخه مخکې شئ، لکه د بل ورو ترافیک لپاره چې یې کوئ.

**په ښي خوا کې مخکې کېدل**

د نقلیه وسیلې موټر چلوونکی یواځې په لاندې شرایطو کې کولای شئ له بل موټر څخه په ښي اړخ کې مخکې شي:

- کله چې مخکې شوی موټر کیڼ لوري ته را ګرځي او یا غواړي کیڼ لوري ته وګرځي؛
- په یوه ښاري سړک کې چې موانع پکې نه وي او پراخ وي هر لوري ته د دوه یا تر دې ډېرو موټرونو لپاره کرښې لري؛
- په یو طرفه سړک کې؛ یا
- له ښار څخه د باندې په لویه لار کې چې موانع پکې نه وي او په کافي اندازه پراخ وي، همدارنګه په واضح ډول د څلورو او یا زیاتو ترافیکي مسیرونو لپاره پرې نښې شوې وي.

**په هېڅ صورت کې نباید له بل موټر څخه د سړک پر اصلي برخه یا لوري په ښي اړخ(اوږه) کې مخکې شئ.**

په کینه خوا کې مخکې کېدل

په لاندې شرایطو کې نباید هېڅ موټر د سړک په کیڼ اړخ کې وچلول شي:

- د درجې تاج ته نږدې کېدل یې په لویه لار کې د منحني څنډې ته داسې نږدې کېدل چې د موټر چلوونکي د دید ساحه دومره را محدودوي که چېرته په دغه واټن کې بل موټر له مقابل لوري راشي، نو ښایي دومره به نږدې شي چې له هغه څخه به خطر احساس شي؛
- هر پل، لارې او یا تونل ته چې سړی 100 فوټهنږدې شي، دید محدودېږي؛
- هرې تقاطع او یا د رېل ګاډي د تېرېدو ځای ته چې سړی 100 فوټهنږدې شي، دید محدودېږي؛ یا

This independent translation is not affiliated with the State of Missouri or any of its agencies.
دا خپلواکه ژباړه د میسوري ایالت یا د هغې کومې اداري پوري تړاو نلري.

- هلته یوه ثابته ژېړه کرښه ده.

**تقاطعات**

په تقاطعاتو کې د لارې د حق لاندې اصول پلي کېږي:

- موټر چلوونکي باید د اړتیا په صورت کې نورو ته د تېرېدو حق ورکړي تر څو په قانوني بڼه له تېرېدونکو سره له ټکر څخه مخنیوی وشي؛
- هغه موټر چلوونکي چې له پلیو لارې څخه تېرېږي، مسیر، کوڅې او یا پارکېنګ ته ننوځي یا ترې وځي، باید پلیو تلونکو کسانو ته د تلو اجازه ورکړي. له تېرېدو پرته، په پلیو لار کې موټر چلول د قانون خلاف کار دی؛
- هغه موټرچلوونکي چې کیڼ لوري ته را ګرځي باید هغو نورو ته د تېرېدو حق ورکړي چې مخامخ روان وي؛
- په یوه څلور طرفه تمځای کې چې هر موټر چلوونکی له نورو څخه مخکې ور ورسېدلی وي، کولای شي تر نورو مخکې حرکت وکړي (له ښي‌ړ ودرېدو څخه وروسته)؛
- هغه موټر چلوونکي چې له مسیر، کوڅې یا د سړک له غاړې څخه سړک ته داخلېږي باید هغو موټرونو ته مخکې کېدو حق ورکړي چې له مخکې نه پراصلي سړک روان دي؛
- هغه تقاطع چې هلته د درېدو او نښه او یا ترافیکي سېګنال نه وي (له را ګرځېدونکو پرته)، موټر چلوونکي باید هغو موټرونو ته د تېرېدو حق ورکړي چې له ښي لوري څخه راځي؛ او
- کله چې د را ګرځېدو یوې تقاطع ته نږدې کېږئ، تل په دایره کې ترافیکو او په پلیو لار کې پلیو تلونکو ته د تېرېدو حق ورکوئ مخکې له دې چې د ترافیکو جریان ته ننوځئ، یوې خالیګاه ته په تمه شئ.

**د بېړني وضعیت موټرونه**

تاسو باید تل پولیسو، اور وژونکو، امبولانس او یا بل د بېړني وضعیت موټر ته د تېرېدو اجازه ورکړئ چې اشاره یا هارن او سور یا آبي څراغ کاروي. کله چې تاسو د بېړني وضعیت یو موټر وینئ او یا یې غږ اورئ چې تاسو ته له کوم لوري نږدې کېږي، نو ځان د سړک ښي څنډې ته کړئ او یا څومره چې ممکن وي، ښي څنډې ته شئ. که تاسو په کومه تقاطع کې یاست، مخکې له دې چې څنډې ته شئ، له تقاطع څخه تېر شئ. تر هغې پورې ودرېږئ چې د بېړني وضعیت موټر تېر شي. که د بېړني وضعیت موټر په لوډسپیکر کې لارښووني درته کوي، نو هغه عملي کړئ. کېدای شي چې د بېړني وضعیت موټرونه یو په بل پسې راشي، نو څکه خو هغه وخت حرکت وکړئ چې لار صافه شي.

کله چې د اضطراري وضعیت یوه درېدلي موټر ته ورسېږئ چې سره یا آبي څراغونه یې ښکاري، نو تاسو باید:


- په احتیاط سره تېر شئ، که دا کار خوندي وي، نو له خپلې کرښې څخه بلې هغې ته واوړئ چې ولاړ موټر ته نږدې نه وي (که پر داسې سړک روان یاست چې لږ تر لږه څلور کرښې لري او په یوه لوري یې له دوه کرښو څخه کمې نه وي چې له ولاړې واسطې سره نږدې تللې وي)؛ یا
- که چېرته د کرښو بدلول غیرخوندي او یا ناشوني وي، نو په احتیاط سره تېر شئ او د موټر سرعت مو را کم کړئ، د سړک حالاتو ته په کتو له خوندي سرعت سره حرکت وکړئ.

د "Move Over Law" په اړه نورو معلوماتو لپاره 93 مخ وګورئ.

**د ښوونځي بسونه**

کله چې د ښوونځي بس درېږي تر څو ماشومان پورته یا ښکته کړي، موټر چلوونکی د میخانیکي او برېښنایي سېګنالونو وسیلې روښانه کوي تر څو نورو موټر چلوونکو ته خبر ورکړي چې نږدې دی هغه ودرېږي. کله چې بس یوه مطلوب تمځای ته 500 فوټه نږدې شي، نارنجي رنګه د خبرتیا څراغونه به روښانه شي. کله چې د ښوونځي بس ودرېږي، بدیل سره څراغونه روښانه کېږي او د تمځای سېګنالونه فعالېږي. کله چې سېګنالونه روښانه شول، له مقابل لوري راتلونکي او تعقیبي ترافیک باید تمځای ته تر را رسېدو وړاندې ودرېږي. تاسو باید ودرېږئ:

- په یوه دوه کرښیزه سړک کې چې موټرونه له دواړو لوریو ته تګ راتګ کوي.



- پر دوه کرښیزه سړک چې له یو لوري موټر پرې تګ کوي.

د ښوونځي د بس موټر چلوونکی نباید په داسي څلور کرښیزه سړک سورلۍ پورته یا ښکته کړي چې هغوی اړ شي له دوه کرښو څخه له زیاتو ترافیکو تېر شي، توپیر نه کوي چې د دې سړک په منځ کې د جلا کولو لپاره مانع وي او کنه. په لاندې حالاتو کې تاسو نباید ودرېږئ:

- کله چې پر یوه لویه لار د ښوونځي د بس په مقابل لوري کې حرکت کوئ او دغه لاره د کرښي په وسیله پر دوه برخه وېشل شوې وي، کله چې پر یو لوري موټر حرکت کوي نو له بل لوري موټرو سره په بشپړ مخالف جهت کې دي.
- کله چې تاسو پر یوه لویه لاره د ښوونځي د بس په مقابل لوري کې حرکت کوئ چې څلور یا تر دې ډېرې ترافیکي کرښې لري؛ یا
- کله چې یوښوونځی بس د زده کوونکو د پوسته کولو په سیمه (ښوونځي) کې درېدلی وي او زده کوونکو ته اجازه نه وي چې له سړک څخه تېر شي.

کله چې د ښوونځي بس ته ودرېدئ چې هغه د ښوونځي ماشومان پورته کوي، د د ښوونځي ماشومانو ته وګورئ چې چې په سړک څې راځي. تاسو باید تر هغې پورې درېدلي پاتې شئ چې بس حرکت وکړي او یا موټر چلوونکی تاسو ته سېګنال درکړي چې حرکت وکړئ. په احتیاط سره مخکې لاړ شئ.

**د لاس او موټر سېګنالونه**

مخکې له دې چې تاسو ودرېږئ، را وګرځئ یا خپله کرښه بدله کړئ، نورو موټر چلوونکو ته سېګنال ورکړئ چې تاسو غواړئ څه وکړئ. تاسو کولای شئ په لاس او یا د خپل موټر د ګرځېدو په سېګنالونو او یا د برېک په اشارو هغوی ته سېګنال ورکړئ. تاسو باید مخکې له دې چې را وګرځئ په 100 فوټه واټن کې اشاره ورکړئ، تر څو نور موټر چلوونکي خپل چمتووالی ونیسي. ځینې وخت خپل د را ګرځېدو سېګنالونه چېک کړئ تر څو ډاډ ترلاسه کړئ چې هغه سم کار کوي.

په لاندې انځورونو کې د لاس په وسیله په سمه توګه اشارې ښودل شوې دي، چې تاسو یې د را ګرځېدو او یا درېدو پر مهال کولای شئ.

**راګرځېدل**

تاسو باید د یو ښه موټر چلوونکي په توګه په سمه کرښه کې را وګرځئ او له ګرځېدو څخه مخکې لږ تر لږه 100 فوټه مخکې سېګنالونه روښانه کړئ. مخکې له دې چې را وګرځئ، باید دواړو خواوو ته وګورئ چې پلې خلک خو نشته.


که چېرته د را ګرځېدو د کنټرول لپاره سېګنالونه او د کرښو نښې نه وي، تاسو باید له تر ټولو نږدې کرښې څخه خپل مطلوب لوري ته وګرځئ، او هغې کرښې ته وګرځې له کومې کرښې چې تاسو راغلي یاست هغې ته نږدې وي. په دې توګه به تاسو له کمو ترافیکي کرښو څخه تېر شئ. کله چې را ګرځئ، په منظم ډول پرته له دې چې کرښې قطع کړئ او یا د ترافیکو جریان بند کړئ، بل لوري ته واوړئ.

کله چې په بشپړه توګه را وګرځېدئ، نو که اړتیا وي بلې پټې ته هم اوښتی شئ.




## U-راګرځېدل

تاسو باید یوازې هغه وخت U-راګرځېدنه ترسره کړئ، چې دا کار خوندي وي. تاسو نباید په کومه ګولايي او یا د غونډۍ څوکې ته نږدې U-راګرځېدنه ترسره کړئ، چې هلته نور موټر چلوونکي نشي کولای ستاسو موټر وویني. په ځینو ښارونو او ښارګوټو کې U-را ګرځېدنې ته اجازه نشته. په داسې ځای کې U-راګرځېدنه مه ترسره کوئ چې هلته "هیڅU- راګرځېدل نه" نښه لګول شوې وي او مه یې په داسې تقاطع کې ترسره کوئ چې د ترافیکینښو او پولیسوافسر په کنټرولېږي.




ښي لوري ته را ګرځېدنې
کله چې ښي لوري ته را ګرځئ، له ګرځېدو څخه مخکې کیڼ لوري ته له پراخې تاوېدنې څخه ډډه وکړئ. که تاسو پراخ را تاو شئ، هغه موټر چلوونکی چې ستاسو تر شا دی، ښایي داسې فکر وکړي چې تاسو خپلې پټې بدلوئ، او ښایي هغه هڅه وکړي چې له تاسو څخه په ښي لاس کې مخکې شي. که تاسو د راګرځېدو د بشپړولو لپاره په پراخ واټن کې را تاو شئ، هغه موټر چلوونکي چې په لرې پټه کې دي نو هغه به تمه ونلري چې تاسو هلته لیدلای شي او کېدای شي چې ترافیکي پېښه را منځته شي.





کیڼ لوري ته را ګرځېدنې
کله چې کیڼ لوري ته ګرځئ، نو داسې نږدې څنده مه پرې کوئ چې له کیڼ لوري څخه راتلونکو کسانو ته نږدې شئ. که څه هم تاسو باید د مقابل لوري راتلونکو موټرو ته دومره ساحه پرېږدئ چې ستاسو په مخ کې کیڼ لوري ته وګرځي.

پر دوه طرفه سړک باندې یو طرفه سړک ته ګرځېدنه په کینه پټه کې پیل کړئ. دوه طرفه سړک ته د ژېړې تقسیم شوې کرښې په ښي اړخ کې ننوځئ. که چېرته دغه دوه طرفه سړک څلور پټې ولري، نو که پر ښي پټه ترافیک نه وي، تاسو کولای شئ چې هغې ته داخل شئ.





پر یو طرفه سړک باندې دوه طرفه سړک ګرځېدنه له خپل کیڼ تایر څخه پیل کړئ او هر څومره چې ممکنه وي ژېړې تقسیم شوې کرښې ته نږدې. که چېرې یو طرفه سړک دوه پټې لرې، که له کیڼ او یا ښینې پټې څخه په هرې یوې کې ترافیک نه وي، هماغې ته وګرځئ.





دوه طرفه سړک پر دوه طرفه سړک باندې
ګرځېدنه له خپل کیڼ تایر څخه پیل کړئ او هر څومره چې ممکنه وي ژېړې تقسیم شوې کرښې ته نږدې. سړک ته له ښي لوري له مرکزي کرښې څخه ننوځئ. هغه سړک ته چې تاسو ورګرځئ، که چېرته څلور پټې ولري، نو تاسو کولای شئ ښي پټې ته ننوځئ، خو چې پر دغې پټې ترافیک نه وي.

**کیڼ لوري ته د ګرځېدو څو پټې**



ځیني کوڅې ښایي له یوې پټې څخه ډېرې پټې ولري چې د کیڼ لوري ګرځېدو لپاره په نښه شوي دي. که تاسو له کیڼ لوري، کیڼې پټې څخه راګرځئ، کیڼي پټې ته له ژېړې وېشل شوې کرښې له شي لوري څخه ننوځئ. که تاسو له ښي اړخ، کیڼې پټې څخه را ګرځئ، ښي پټې ته ننوځئ.

**د کیڼ لوري ته د ګرځېدو دوه طرفه پټې**



ځیني کوڅې یوه مرکزي پټه لري چې کیڼ لوري ته د ګرځېدو د دووه طرفه پټې په توګه په نښه شوې ده. یواځې په هغه صورت کې دې پټې ته ننوځئ چې له اصلي سړک څخه کیڼ لوري ته له ګرځېدو څخه مخکې د سرعت کمولو او یا درېدو ته چمتووالی نیسئ. له دغه پټې څخه د سفر لپاره ګټه مه اخلئ (پر دغه پټه باید موټر له 500 فوټه څخه زیات مزل ونکړي) او کله چې له یوې فرعي کوڅې څخه سړک ته ننوځئ، له دغې پټې څخه ګټه مه اخلئ.

**د ګردو تقاطعاتو په اړه عمومي معلومات**




ګرد تقاطعات د ترافیکو د کنټرول آله ده چې کېدای شي د سېګنال شویو او د ټولو لارو د توقف د تقاطعاتو لپاره د بدیل په توګه ترې کار واخیستل شي. د شمېرو له مخې ګرد تقاطعات له سنتي تقاطعاتو څخه خوندي دي ځکه هغوی د سرعت په کمولو او له مقابل لوري څخه راتلونکو ترافیکو پر وړاندې کیڼ لوري ته د ګرځېدنو په لرې کولو سره د هغو ترافیکي پېښو کچه را کمه کړې ده چې په پایله کې یې مرګ ژوبلې را منځته کېږي. ګرده تقاطع د ترافیکو د جریان د کنټرولولو لپاره له یوې ګردې جزیرې څخه ګټه اخلي. ګرد تقاطعات د سړک په ټولو برخو کې د ننوتلو په ساحو کې لارښودې او ترافیکي نښې لري.




د لارې ورکولو د حق کنټرول د ترافیکو ګټور جریان جوړوي او ځیني وخت په تقاطع کې کم ځنډ رامنځته کوي. دا دوړې او د نفتو استعمال کموي ځکه چې هلته لږ توقفات کېږي او اکسیلېټرونه سخت دي. په ګردو تقاطعاتو کې هغه موټر چلوونکي چې

تقاطع ته رسېږي، لږ ښي لوري ته ګرځي او د ګردې مرکزي جزیرې څخه د ساعت د عقربې پر خلاف راګرځي.

وروسته کېدای شي موټر چلوونکی له ګردې تقاطع څخه په یوه بله لار سړک ته ووځي، او یا هماغه سړک ته دوام ورکړي. کله چې د را ګرځېدو یوې تقاطع ته نږدې کېږئ، تل په دایره کې ترافیکو او په پلیو لار کې پلیو تلونکو ته د تېرېدو حق ورکوئ.

**ګردې تقاطع ته رسېدل:**

- تقاطع ته له ننوتلو وړاندې سرعت کم کړئ.
- که تقاطع څو لارې پټې لري، د سړک د غاړې نښې او کرښې چې تاسو سم لوري ته بیایي په سمه توګه وګورئ.
- کله چې تاسو د ننوت پر لور موټر چلوئ خپل کیڼ لوري ته وګورئ، هغو ترافیکو ته د تېرېدو حق ورکړئ چې له مخکې په ګرده تقاطع کې روان دي، لکه سایکل چلوونکي او پلي لارویانپه کراس واک کې.
- کله چې د ترافیکو په جریان کې یوه خالیګاه را منځته شوه، تاسو وردننوځئ او له نورو موټرونو سره یو ځای شئ.
- ګردې تقاطع ته د ننوتو لپاره کیڼ لوري ته مه ګرځئ.

**د ګردې تقاطع تر منځ سفر کول:**

- تل د مرکزي جزیرې ښي څنډې ته پاتې شئ.
- د ګردې تقاطع په منځ کې شته موټرونه د لارې حق لري.

- د ګردي تقاطع په منځ کې هېڅکله مه درېږئ، مګر دا چې دا له ټکر څخه د مخنیوي یواځنی لاره وي.
- په ګرده تقاطع کې پټه مه بدلوئ.
- لاریو، ټرېلرونو او نورو لویو موټرونو ته ځانګړې پاملرنه کوئ. ښایي هغوی په ګرده تقاطع کې دننده له یوې څخه زیاتو ترافیکي پټوکارولو ته اړتیا ولري.
- هڅه مه کوئ چې له کوم موټر څخه مخکې شئ، په ځانګړې توګه له لویو لاریو څخه.
- که چېرته خپل د وتلو له لارې څخه تېر شوئ، موټر چلونې ته موګردې تقاطع کې دوام ورکړئ، تر څو یوه مناسبه د وتلو لار ومومئ.
- د وتلو پر مهال، هغو پیلو لارویانو او سایکل چلوونو ته وګورئ چې له سړک څخه تېرېږي.

**له ګردي تقاطع څخه وتل:**

- سرعت مو کم وساتئ تر څو د کنټرول له لاسه ورکولو او له ترافیکي جزایرو سره له ټکر څخه مخنیوی وشي.
- خپل د ښي لاس اشاره روښانه کړئ تر څو نور کسان پوه شي چې تاسو وځئ.
- موټر ته مو اکسلېټر مه ورکوئ، مګر دا چې له هغو پلیو لارویانو څخه ښه لرې شئ چې د بهر کېدو له لارې څخه تېرېږي.


**د بېړني وضعیت موټرونه**

د بېړني وضعیت موټرونو ته تل د تېرېدو حق ورکړئ. که د بېړني وضعیت کوم موټر د را نږدې کېدو په حال کې و، په دې صورت کې ګردې تقاطع ته مه داخلېږئ. د تقاطع په منځ کې مه درېږئ. که چېرته د بېړني وضعیت کوم موټر رانږدې شو او تاسو په ګرده تقاطع کې یاست، په بیړه ووځئ او ځان ښي څنډې ته کړئ.

**د لاریو ساحه**

لویې لارې په ګردو تقاطع ګانو کې ډېرې ساحې ته اړتیا لریکله چې چلیږي. د لارې ساحه چې له مسیره وتلی ځای یې هم بولي، په ګرده تقاطع کې د سړک یوه برخه ده چې د لویو لاریو وروستي ټایرونه د ګرځېدو پر مهال پرې راځي. د لاریو ساحې د دې لپاره نه دي چې نور موټرونه، SUV ګانې او یا پیکپې پرې وچلول شي.

**د J ګرځېدو تقاطعات**



د J ګرځېدنه په څلور پټیزه لویو لارو کې د سنتي لویو لارو د تقاطعاتو لپاره بدیل دی. په J ګرځېدنه کې موټر چلوونکي د هغو موټر چلوونکو په ځای چې مقابلې پټې ته د رسېدو په موخه د ترافیکو له چټکو پټو تېرېږي، د ترافیکي په هماغه لوري کې ښي لوري ته راګرځي، له لرې پاتې کیڼې پټې سره یو ځای کېږي، بیا په خپل مطلوب لوري کې کیڼې خوا ته راګرځي.

**سیمه ییز احکام**

محلي حکومتونه کولی شي د دولت لخوا جوړ شوي قوانینو سربېره ترافیکي مقررات جوړ کړيتاسو باید ټولې ترافیکي نښې یا اصول مراعات کړئ، که هغه د ښاروالۍ، ښارګوټي او یا ایالت له لوري تنظیم شوي وي. ښایي ښارونه او ښارګوټي لاندې اصول ولري:

- د سرعت د حدودو تنظیمول؛
- د یو طرفه سړکونو تنظیمول؛
- د درېدو د نښو او تقاطعاتو تنظیمول؛
- له مشخصو سړکونو څخه د سوداګریزو موټرونو د ګټې اخیستنې ممانعت؛
- د میټرونو او یا نورو منطقي تګلارو په کارولو سره د پارکېنګ کنټرولول؛
- د راګرځېدنو کنټرولول؛
- په ټولو موټرونو کې د راګرځېدو د سېګنالونو، د برېک د څراغونو او هارنونو کارول اړین دي؛ او یا
- د خبرتیا د هغو آلو له کارولو څخه مخنیوی وکړئ چې غږ تولیدوي.

This independent translation is not affiliated with the State of Missouri or any of its agencies.
دا خپلواکه ژباړه د میسوري ایالت یا د هغې کومې اداري پورې تړاو نلري.

## له موټرسایکلونو سره د سړک شریکول

کله چې له موټرسایکلونو سره سړک شریکوئ باید په ځینو شیانو پوه شئ:

- موټرسایکلونو ته ځیني وخت د موټرچلوونکو له لوري په کمه سترګه کتل کېږي.
- د موټرسایکل د سرعت او واټن په اړه تل قضاوت کول اسانه نه وي.
- د استوګنې د سیمې پر سړکونو په ځانګړې توګه هغو سړکونو کې چې موټرونه پارک شوي وي، د سرعت له حدودو څخه په کمه اندازه کې حرکت کوئ او هغه هم د لید واټن ته اړه لرلو سره.
- موټرسایکل چلوونکي د سړک بدو شرایطو لکه د ویالو سرپوښونو، د رېل ګاډي کرښو، د سړک د غاړې خځلو او قوي بادونو ته په پام سره خپل سرعت او د حرکت کرښه بدلوي. غبرګون ته چمتو اوسئ.
- تاسو باید له موټرسایکل سره په یوه کرښه کې حرکت ونکړئ. موټرسایکل د خوندیتوب لپاره یوې بشپړې کرښې ته اړتیا لري.
- کله چې تاسو له موټرسایکل څخه تېرېږئ، نو هغه ته بشپړه کرښه پرېږدئ. د سړک د دې کاروونکو تر څنګ نږدې مه تېرېږئ. له سایکل چلوونکو څخه په تنګ سړک کې مه مخکې کېږئ، صبر وکړئ چې سړک فرصت شي.

**د موټرسایکل چلوونکي لپاره د خوندیتوب لارښوونې**

- د قانون له مخې تاسو اړ یاست چې محافظتي خولۍ پر سر کړئ. د خوندیتوب یوه تایید شوې خولۍ کولای شي د سر له سخت ټپ او یا مرګ څخه مخنیوی وکړي.
- ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو موټرسایکل په خوندي شرایطو کې دی او د قانون له مخې ټول اړین تجهیزات لري.
- ډاډ ترلاسه کړئ چې موټر چلوونکي تاسو ویني. د روښانه رنګ جامې واغوندئ او له هغو ځایونو څخه بهر اوسئ چې موټر چلوونکو ته نه ښکاري. په تیاره کې د موټرسایکل چلولو پر مهال له مناسبو څراغونو او منعکسوونکو څخه ګټه واخلئ.
- ډاډ حاصل کړئ چې له سرعت کمولو، خپلې کرښې بدلولو او یا را ګرځېدلو څخه مخکې سېګنال ورکړئ. د نورو ترافیکو له جریان سره تر یو ځای کېدو، د کرښو له بدلولو او یا را ګرځېدو څخه مخکې خپل مخکې او شا ساحې ته وګورئ او ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو دغه کار خوندي دی. دا کار په کافي وخت کې له نورو موټر چلوونکو سره په همکارۍ کوئ، چې ستاسو له حرکت څخه اغېزمن کېږي. که دا کار خوندي نه وي، مخامخ حرکت ته دوام ورکړئ او پرلپسې کتل کوئ. یوازې هغه وخت اقدام وکړئ چې دا کار خوندي وي.
- کله چې له یوه پارک شوي او یا روان موټر څخه په کیڼ لوري کې مخکې کېږئ، ډېر احتیاط کوئ. تاسو باید په ناڅاپي ډول له دروازې له خلاصېدو او د موټر د لوري له کږېدو څخه د مخنیوي لپاره تل درې تر څلور فوټه واټن وساتئ.
- په تقاطعاتو کې ډېر ځیر اوسئ. کله چې بله نقلیه وسیله درته را نږدې کېږي، خپل مخکې کېدل خپل حق مه ګڼئ. پر دې پوه شئ چې نور موټر چلوونکي تاسو نه وینئ چې تقاطع ته نږدې کېږئ، یا به پر دې باور وي چې تاسو ښایي له اوسني څخه په کم سرعت کې حرکت وکړئ.
- په یوه ثابته کرښه کې اوسئ او د نورو ترافیکو لپاره د ښه نیت په توګه د وړاندوینې وړ اوسئ او خپل خوندیتوب ډېر کړئ.

**د موټرسایکل چلوونکي یوه جواز ته اړتیا لري**

د دې لپاره چې پر عامو کوڅو موټرسایکل وچلوئ، تاسو باید د موټر چلونې یو معتبر سند د موټرسایکل له تصدیق سره ولرئ او یا باید د موټرسایکل جواز ولرئ.

## له لویو لاریو سره د سړک شریکول

لارۍ لوی موټرونه نه دي. کله چې د ټراکټور ټرېلر لارۍ اکسلېټر زیاتوي، بریک نیسي، پر غونډۍ پورته کېږي، خپله کرښه بدلوي یا کوم فرعي سړک ته اوړي، باید داسې ځانګړي مانوروونه ترسره کړي چې د کوچنیو موټرونو چلوونکي یې نه ترسره کوي.

This independent translation is not affiliated with the State of Missouri or any of its agencies.
دا خپلواکه ژباړه د میسوري ایالت یا د هغې کومې اداري پورې تړاو نلري.

د ټراکټور د ټریلر یوه معمولي مجموعه، د قوي یو واحد چې بار شوی نیمه ټریلر په خپل ځان پسې را کاږي، ښايي تر 80,000 پونډه پورې وزن ولري. د ټریلر اوږدوالي ته په کتو، د مجموعي ټولیز اوږدوالی ښايي له 90 فوټه څخه زیات شي. یو چلوونکی ښايي د ښار د خورا ګڼې ګوڼې په مسیرونو کې له دوه ګوني او یا دري ګوني ټریلر مجموعي سره مخامخ شي چې ځینې وخت یې اوږدوالی له 100 فوټه څخه زیاتیږي.

هر موټر چلوونکي چې د دغو لاریو تر شا په ترافیکي نښه کې موټر چلولی وي، پوهیږي چې د نیمه ټریلر مجموعه ورو اکسلیټر اخلي. لارۍ ښايي لس ګیره ولګوي تر څو د سرعت حد ته ورسیږي. لارۍ ښايي د کوچني موټر په پرتله دوه یا دري ځله ډیر ځواک ولري، مګر دا چې د ټریلر په شا پسې 70,000 پونډه وزن را ښکل کیږي، نو ماشین یې باید د کوچني موټر په پرتله 30 یا 40 ځله ډیر وزن ته خوځښت ورکړي. (د John Deere Transportation Services, *Sharing the Road*, Deere & Co., 1996 په اجازه خپور شوی دی.)

د دې لپاره چې پر سړک د ټولو کاروونکو لپاره خوندیتوب غوره کړئ، پر لاندې معلوماتو غور وکړئ.

- د لویې لارۍ په مخ کې سړک ته مه ننوځئ. که له سړک څخه ګرځئ، د لوی موټر په مخ کې خپله کرښه مه بدلوئ.
- که تاسو د یوې لارۍ یا بس تر شا موټر چلوئ او موټر چلوونکید هغه/هغې په عقب هینډارو کې نه وینئ، نو هغوی هم تاسو نشي لیدلای.
- لارۍ او بس په خپل ښي او چپ اړخ کې، مخکې او شاته داسې نه لیدل کېدونکي ساحې لري چې موټر هلته نه لیدل کیږي. دغه نه لیدل کېدونکي ساحې د **"No-Zone"** په نامه یادیږي.په **No-Zone** کې له سختۍ اړتیا پرته موټر مه چلوئ. هیڅ وخت د لویو موټرو تر څنګ د اوږد مهال لپاره موټر مه چلوئ. له لارۍ سره د شا له خوا ټکر هم خطرناک دی. له لارۍ سره د خوندیتوب یو واټن وساتئ.
- له لارۍ څخه مخکې کېدل ډیر وخت نیسي. کله چې له لارۍ څخه مخکې یاست، کرښې ته له ورګرځېدو څخه مخکې ډاډ ترلاسه کړئ چې د لارۍ څنډه په هینداره کې وینئ. کله چې بیرته کرښې ته ورګرځئ، خپل سرعت او سیګنال وساتئ. کله چې له لارۍ څخه مخکې شوئ، سرعت مو مه را کموئ.
- لوی موټرونه چې کله پر مخ پورته یا ښکته ځوړو ساحو کې حرکت کوي، باید په لږ سرعت په ښي کرښه کې حرکت وکړي. کله چې پر څو کرښیزه سړکونو چې لوړې او ځوړې ولري، متر چلوئ او له لویو لاریو سره تعامل کوئ، نو پر ښي کرښه له موټر چلونې څخه ډډه وکړئ. کله چې د لاریو د وزن سټیشنونو ته نږدې کیږئ، نو په ښي کرښه کې له موټر چلولو څخه ډډه وکړئ، ځکه چې ورو تلونکي لارۍ په اسانۍ بیرته سړک ته را ګډیږي.
- هغه موټر چې خطرناک توکي لیږدوي باید د رېل ګاډو د تیریدو په ټولو ځایونو کې ودریږي. چمتو اوسئ.
- دا چې لارۍ د جسامت له پلوه لویې دي، نو کله چې هغوی ښي لوري ته ګرځي، کېدای شي چې په لومړي ګام کې کیڼ لوري ته دوره کړې شي. کله چې په یوه ټراکټور پسې روان یاست، نو وړاندې تر دې چې له هغه څخه مخکې شئ، سیګنالونو ته یې پام وکړئ.
- ټراکټور ټریلرونه چې له موټر سره په یوه سرعت کې حرکت کوي، دریدل یې ډیر وخت نیسي. د منځنۍ کچې سورلۍ موټر چې 55 مایله په ساعت کې مزل کوي، کولای شي په 130، 140 فوټه واټن کې ودریږي، چې دا واټن د فوټبال د ډګر د نیمايي په اندازه راځي. په بشپړه توګه یو بار شوی ټراکټور - ټریلر چې کله په بشپړه توګه دریږي نو ښايي 400 فوټه واټن ونیسي.
- په ترافیکو او یا لویه لار کې د لارۍ په مخ کې تیریدل خورا خطرناک دي. که تاسو غواړئ چې را وګرځئ او یا خپله کرښه بدله کړئ، لږ صبر وکړئ چې سرعت مو کم شي او د لارۍ شا ته را وګرځئ - دا به له تاسو څخه یوازې څو ثانیې وخت ونیسي.

• هېڅ وخت د لارۍ - ټرېلر اندازه او د نږدې کېدو سرعت ته په کمه سترګه مه ګورئ. دا چې د ټراکټور - ټرېلر اندازه لویه ده، له همدې امله داسې ښکاري چې هغه به له خپل واقعي سره څخه ورو حرکت کوي. که چېرته د کوچني موټر چلوونکی تشخیص نکړای شي چې لارۍ څومره نږدې ده او څومره په سرعت سره نږدې کېږي، نو په تقاطعاتو کې د کوچني موټر - لارۍ د ټکر امکان ډېرېږي.

## له پلیو لارویانو سره د سړک شریکول

همدا چې تاسو له خپل موټر څخه ښکته شئ، نو پلی لاروی یاست. تاسو باید د پلي لارویپه توګه حقونه او مسوولیتونه وپېژنئ اود یو موټر چلوونکي په توګه کله چې ستاسو په شا و خوا کې پلي لارویان وي باید پر قانون پوه اوسئ.

**د پلي لاروي په توګه تاسو باید پر لاندې مواردو پوه شئ ...**



کله چې تاسو د پلي تېرېدو او یا شین ځراغ ګورئ، نو تاسو د تېرېدو حق لرئ. تاسو ښایي په هغه وخت کې له سړک څخه تېر شئ چې ډاډ ترلاسه کړئ ټول موټر چلوونکي تاسو ویني.

کله چې د نه تېرېدو یا سور او یا ژېړ ځراغ ګورئ، نو له سړک څخه مه تېرېږئ. کله چې له سړک څخه تېرېږئ او د نه تېرېدو نښه په ښکارېدو شي، نو تاسو له سړک څخه ووځئ.



تاسو باید له سړک او یا تقاطع څخه تېر شئ، کله چې:

- تاسو په یوه سوداګریزه ولسوالۍ کې یاست.
- تاسو د دوه سره نږدې تقاطعاتو تر منځ یاست چې ترافیکي ځراغونه پکې وي.

له دې پرته کولای شئ د دوه بلاکونو تر منځ چې د پلي تېرېدو کرښه نه وي له سړک څخه تېر شئ، مګر کله چې د دوه ولاړو موټرو په منځ کې را ووځئ، نو محتاط اوسئ. کله چې ترافیک د بلاک په منځ کې تېرېږي، تاسو باید هغوی ته د تېرېدو حق ورکړئ. کله چې د پلیو لار نه وي، نو داسې حرکت وکړئ چې مخ مو د ترافیکو پر لور وي.

د ترافیکو په جریان کې مه درېږئ تر څو له موټر چلوونکي سره د یو څه وخت لپاره خبرې وکړئ، ځکه د دې کار له امله ټکر را منځته کېدای شي. د دې پر ځای تاسو باید صبر وکړئ چې موټر چلوونکی یوې خوندي د پارکېنګ ساحې ته شي او تاسو باید د موټر اړخ ته ودرېږئ.

**د موټر چلوونکي په توګه باید پوه شئ ...**

په ځینو حالاتو کې پلي لارویان د قانون له مخې مکلف دي چې موټرونو ته د تېرېدو حق ورکړي. په نورو حالاتو کې بیا موټر اړ دي چې پلي لارویانو ته د تېرېدو حق ورکړي. په ټولو حالاتو کې که پلي لارویان قانون مراعاتوي یا نه، تاسو باید په احتیاط سره موټر وچلوئ، د اړتیا په صورت کې خپل سرعت کم کړئ، او خپله ټوله هڅه وکړئ چې له پلي لارویانو خطر ورکولو څخه مخنیوی وکړئ.

ان که تاسو په تقاطعاتو کې له شنه ځراغ سره هم مخ کېږئ، باید ټولو لارویانو ته د تېرېدو حق ورکړئ. هېڅکله داسې اټکل مه کوئ چې تاسو د تېرېدو حق لرئ. داسې اټکل مه کوئ چې پلي لارویان تاسو ویني او تاسو ته به ودرېږي.

له هغه موټر څخه مه مخکې کېږئ چې هغه د پلیو لارویانو لپاره درېدلی وي او یا یې خپل سرعت کم کړی وي.

پر ماشومانو پام کوئ. ماشومان پرته له دې چې ترافیکو ته وګوري کېدای شي سړک ته را منډه کړي. نو له همدې امله کله چې د ښوونځیو، د لوبو ډګرونو، پارکونو او د استوګنې سیمو تر څنګ موټر چلوئ، خورا ډېر پام کوئ. کله چې د ښوونځي په ساحه کې ځراغونه روښانه وي او یا ماشومان وي، نو تاسو باید په کم سرعت کې موټر وچلوئ. که چېرته د ښوونځي د تېرېدو په ساحه کې د ترافیکو لارښود وي او تاسو ته د درېدو یا کومه بله لارښوونه وکړي، ودرېږئ او د هغوی له لارښوونې سره سم عمل وکړئ.

لاندې قوانين او اصول هم د پلي کېدو وړ دي:

- موټر چلوونکي بايد تل هغو کسانو ته د لار حق ورکړي چې نظر يې کار نه کوي. کله چې يو پلی لاروی له سړک او يا لويې لارې څخه تېرېږي او يو سپی يې تر مخه روان وي يا سپينه عصا (او يا سپينه عصا له سرې نوکې سره) ورسره وي، موټر بايد ټول ودرېږي.
- کله چې پلي لارويان د پلي تېريدو لپاره په نښه شوی او يا نا نښه شويو ساحو کې وي او يا موټر د هغوی څنګ ته ورنږدې کېږي، هغوی ته بايد د تېرېدو حق ورکړل شي.
- څنګه چې ښي لوري ته د ګرځېدو چمتووالی نيسئ، په ځانګړې توګه هغه وخت چې ترافيکي اشاره سره وي، پليو لارويانو (سايکل چلوونکو) او هغو کسانو ته پام کوئ چې تاسو ته له ښي لوري را نږدې کېږي.
- موټر چلوونکي چې کله د سره څراغ پر مهال درېږي، نبايد د پليو لاره بنده کړي. موټر چلوونکي نبايد پليو لارويانو ته د تېرېدو د حق ورکولو پرته د پليو له لارې او يا کرښې څخه تېر شي.

## له کوچنيو موټرسايکلونو او سايکلونو سره د سړک شريکول

کله چې له کوچنيو موټرسايکلونو او سايکلونو سره سړک شريکوئ بايد په ځينو شيانو پوه شئ: له سايکلونو او کوچنيو موټرسايکلونو سرهډېر ټکرونه تر ډېره په تقاطعاتو کې را منځته کېږي، ځکه کوچني او ورو سايکلونه په اسانی سره له نظره لوېږي. مخکې له دې چې له يوې تقاطع څخه تېر شئ، په خورا احتياط سره وګورئ چې کوم سايکل يا کوچنی موټرسايکل نه وي، هغوی ته همداسې پام کوئ لکه نورو موټرو ته يې چې کوئ.

- سايکلونو ته ځينې وخت د موټرچلوونکو له لوري په کمه سترګه کتل کېږي.
- د سايکل د سرعت او واټن په اړه تل قضاوت کول اسانه نه وي.
- پر ناسم لوري روانو سايکلونو سره ډېرې ټکرونه هغه وخت را منځته کېږي چې موټر چلوونکی غواړي په ښي اړخ اصلي سړک ته واوړي او هغه يوازې کيڼ اړخ ته نږدې کېدونکو ترافيکو ته ګوري. مخکې له دې چې وړاندې لاړ شئ، ډاډ ترلاسه کړئ چې ښي لوري ته وګورئ چې سايکل پر ناسم لوري يا د پليو پر لار را روان نه وي.
- د استوګنې د سيمې پر سړکونو په ځانګړې توګه هغو سړکونو کې چې موټرونه پارک شوي وي، د سرعت له حدودو څخهيا په کمه اندازه کې حرکت کوئ.
- که تاسو په يوه سايکل چلوونکي پسې روان ياست او غواړئ ښي لوري ته وګرځئ، سرعت مو کم کړئ او د سايکل تر شا پاتې شئ تر څو وکولای شئ ښي لوري ته وګرځئ.
- سايکل چلوونکي ځينې وخت په حيرانوونکي ډول په چټک سرعت سره روان وي. که تاسو غواړئ کيڼ لوري ته وګرځئ، را روانو سايکلونو ته د تېرېدو حق ورکړئ، مګر دا چې تاسوپه بشپړډول ډاډه ياست چې تقاطع ته تر رسېدو وړاندې ګرځېدای شئ.
- سايکل چلوونکي د سړک بدو شرايطو لکه د ويالو سرپوښونو، د رېل ګاډي کرښو، د سړک د غاړې خځلو او قوي بادونو ته په پام سره خپل سرعت او د حرکت کرښه بدلوي. غبرګون ته چمتو اوسئ.
- کله چې تاسو له سايکل او کوچني موټرسايکل څخه تېرېږئ، نو هغوی ته بشپړه کرښه پرېږدئ. د سړک د دې کاروونکو تر څنګ نږدې مه تېرېږئ. سايکل معمولاً په کوم سرعت سره حرکت کوي او ښايي همدا تاسو دې ته اړ کړي چې خپل سرعت را کم کړئ. له سايکل چلوونکو څخه په تنګ سړک کې مه مخکې کېږئ، صبر وکړئ چې سړک فرصت شي.
- کله چې د خپل موټر دروازه د ترافيکو د کرښې او يا د سايکل د کرښې پر لور خلاصوئ، نو تېريدونکي سايکلونه وګورئ.
- د سايکل کرښه د سړک يوه برخه ده چې د يوې پټې په وسيله د سايکلونوکارولو لپاره جلا شوې ده. د را ګرځېدو، يا سړک ته د ننوتلو او يا ترې وتلو پر مهال کولای شئ د سايکل له کرښې څخه تېر شئ. تاسو بايد د سايکل په کرښه کې سايکل چلوونکو ته د تېرېدو لومړيتوب ورکړئ.

**کوچني موټرسايکلونه او سايکلونه بايد چېرته وچلول شي**

پر عامو کوڅو او لويو لارو تاسو هماغه حقونه او مسووليتونه لرئ چې د نقليه وسيلې يو چلوونکی يې لري. تل د ترافيکو سره يو شان حرکت کوئ، د هغوی پر خلاف مه ځئ. که تاسو له پوسته شوي سرعت او يا د ترافيکو له جريان څخه ورو حرکت کوئ، نو معمولاً د سړک ښي غاړې ته نږدې حرکت کوئ، ځکه چې دا برخه خوندي ده.

د سړک ښي څنډه ځيني وخت خطرونه لري لکه خندقونه، ويالي، کوچنی او لويې شګې. له دغو خطرونو سره دومره واټن وساتئ چې د خونديتوب لپاره ورته اړتيا وي.

تاسو کولای شئ د سړک منځ او يا د کيڼ لوري کربنې ته ور نږدې شئ،لکه څنګه چې مناسب وي کله چې:

- کيڼ لوري ته ګرځېدل؛
- له خطرونو څخه مخنيوی؛
- له بل موټر سره د شريکولو لپاره کربښه خورا باريکه ده؛ يا
- ښي لوري ته د ګرځېدو يوازخې يوه کربښه ده او تاسو وړاندې لاړ شئ.

د کربنې له بدلولو او يا په کربښه کې د خپل موقعيت له بدلولو څخه مخکې تل ترافيک وګورئ. په يو طرفه سړکونو ښايي سايکل چلوونکي تر هغې پورې په کينه کربښه سايکل وچلوي چې تر څو خوندي وي.

د قانون له مخې تاسو نشئ کولای چې د ايالتونو تر منځ د فدرالي لويو لارو پر سيستم کوچنی موټرسايکل وچلوئ.

**د کوچني موټرسايکل او سايکل چلوونکو لپاره د خونديتوب لارښوونې.**

- ايالتي قانون له تاسو نه غواړي چې محافظتي خولی پر سر کړئ. که څه هم، د خونديتوب يوه تاييد شوې خولی‌اغوستل کولای شي د سر له سخت ټپ او يا مرګ څخه مخنيوی وکړي.
- ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو موټرسايکل په خوندي شرايطو کې دی او د قانون له مخې ټول اړين تجهيزات لري.
- ډاډ ترلاسه کړئ چې موټر چلوونکي تاسو ويني. د روښانه رنګ جامې واغوندئ او له هغو ځايونو څخه بهر اوسئ چې موټر چلوونکو ته نه ښکاري. په تياره کې د موټرسايکل چلولو پر مهال له مناسبو څراغونو او منعکسوونکو څخه ګټه واخلئ.
- ډاډ حاصل کړئ چې له سرعت کمولو، خپلې کربښې بدلولو او يا را ګرځېدلو څخه مخکې سېګنال ورکړئ. د نورو ترافيکو له جريان سره تر يو ځای کېدو، د کربښو له بدلولو او يا را ګرځېدو څخه مخکې خپل مخکې او شا ساحې ته وګورئ او ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو دغه کار خوندي دی. دا کار په کافي وخت کې له نورو موټر چلوونکو سره په همکاری کوئ، چې ستاسو له حرکت څخه اغېزمن کېږي. که دا کار خوندي نه وي، مخامخ حرکت ته دوام ورکړئ او پرلپسې کتل کوئ، يوازې هغه وخت دا کار وکړئ چې خوندي وي. په ډېر بيروبار حالت کې هغه سايکل چلوونکي چې د سايکل چلوني لږ مهارت لري کېدای شي چې يوې څنډې ته ودرېږي او په مناسب فرصت کې بيا حرکت وکړي.
- کله چې له يوه پارک شوي او يا روان موټر څخه په کيڼ لوري کې مخکې کېږئ، ډېر احتياط کوئ. تاسو بايد په ناڅاپي ډول د دروازې له خلاصېدو او د موټر د لوري له کږېدو څخه د مخنيوي لپاره تل درې تر څلور فوټه واټن وساتئ.
- په تقاطعاتو کې ډېر ځير اوسئ. کله چې بله نقليه وسيله درته را نږدې کېږي، خپل مخکې کېدل خپل حق مه ګڼئ. پر دې پوه شئ چې نور موټر چلوونکي تاسو نه وينئ چې تقاطع ته نږدې کېږئ، يا به پر دې باور وي چې تاسو ښايي له اوسني څخه په کم سرعت کې حرکت وکړئ.
- په يوه ثابته کربښه کې اوسئ او د نورو ترافيکو لپاره د ښه نيت په توګه د وړاندويني وړ اوسئ او خپلځانې خونديتوب ډېر کړئ.
- د تنکيو ځوانانو او لويانو سايکل چلوونکو په اړه مطالعاتو ښودلې ده د ترافيکو پر کوڅه کې چلول، نه د هغې پر خلاف (د هغوی ترافيکي اصولو مراعاتول چې نور نقليه وسايط يې مراعاتوي)، پر پليو لار تر سايکل چلوني خوندي دي.

**د کوچني موټرسايکل چلوونکي يوه جواز ته اړتيا لري**

پر عامو سړکونو د کوچني موټرسايکل په څېر موتور لرونکي سايکل چلولو لپاره بايد تاسو يو معتبر سند ولرئ. موتور لرونکی سايکل هغې دوه ټايره يا درې ټايره وسيلې ته ويل کېږي چې اتومات ګېر بکس او سلنډر لري چې ظرفيت يې له 50 سانتي متر مکعب څخه لوړ نه وي، له درې ناخالص اسپه څخه کم د برېک بخار توليدوي او د وسيلې د روښانه کولو وړتيا لري، همدارنګه پر همواره سطحه يې سرعت له 30 مايله پر ساعت څخه کم زيات نه وي.

**په کوچني موټرسایکلونو او سایکلونو کې د اړتیا وړ تجهیزات**

تاسو اړتیا نلرئ چې خپل کوچنی موټرسایکل او یا سایکل راجستر کړئ او اړتیا نشته چې وپلټل شي. مګر د میسوري قانون په کوچنیو موټرسایکلونو او سایکلونو کې ځانګړو تجهیزاتو ته اړتیا ده.

برېکونه ـــ تاسو چې کله 10 متره په ساعت کې حرکت کوئ، نو برېکونه مو بایدوړ وي چې تاسو په 25 فوټه واټن کې ودروئ.

څراغونه او اشارې ـــ د ماښام او لمر خاته تر منځ د موټرونو ټکرونو کې د پام وړ زیاتوالی راځي. په سایکلونو کې د مناسبو څراغونو او اشارو په لګولو سره نږدې د دې ټولو ټکرونو مخنیوی کېدای شي. کله چې تاسو له ماښام څخه نیم ساعت وروسته له لمر خاته څخه نیم ساعت مخکې موټر چلوئ، نو باید لاندېڅراغونه او اشارې ولرئ:

- ستاسو د سایکل په مخ کې یو سپین څراغ او یا یې باید تاسو په خپله درسره لېږدوئ چې نور موټرچلوونکي یې له 500 فوټه واټن څخه لیدلای شي.
- یوه سره د شا اشاره، چې لږ تر لږه دوه اینچه مربع اندازه ولري، یا یو سور د شا څراغ چې موټر چلوونکي وکولای شي د خپل موټر د مخکینیو څراغونو په روښانه کولو سره یې په 600 فوټه واټن کې ولیدلای شي.
- پر پایډلونو، لاستو او یا ښکته په پښو کې انعکاس کونکي مواد او/ څراغونه چې موټرچلوونکي وکولای شي د خپل موټر د څراغونو په روښانه کولو سره یې په 200 فوټه واټن کې وګوري.
- د سایکل او یا سایکل چلوونکي په دواړو اړخونو کې اشارې او یا څراغونه دا پر هغو کوچنیو موټرسایکلونو نه پلي کېږي چې د لویې لارې د ترافیکو د خوندیتوب د ملي اداري له اصولو سره سم عمل کوي.

**له برېښنايي سايکلونو سره د سړک شريکول**

برېښنايي سايکل لکه څرګنه چې په **<u>301 .010 RSMo</u>** کې تعریف شو، هغه سایکل دی چې په بشپړو کاري پایډلونو، د چلوونکي لپاره پر یوه سیټ او یوه برېښنايي موتور سمبال وي چې له 750 واټه څخه کم وي چې له درې ټولګیو څخه د یوه اړتیاوې پوره کوي:

- 1 ټولګی: سایکل په یو موتور سمبال دی، کله چې سایکل چلوونکی پایډل وهي موټر ورسره مرسته کوي او کله چې 20 مایله پر ساعت سرعت ته ورسېږي، بیا مرسته ورسره نه کوي.
- 2 ټولګی: سایکل په داسې موتور سمبال دی چې یوازې د سایکل په روښانه کولو کې مرسته کوي او کله چې سایکل شل مایله پر ساعت سرعت ته ورسېږي بیا مرسته نشي کولای.
- 3 ټولګی: سایکل په داسې موتور سمبال وي چې یوازې د پایډل وهلو پر مهال مرسته کوي او کله چې سایکل اته ویشت مایله پر ساعت سرعت ته ورسېږي بیا مرسته نشي کولای.

د برېښنايي سايکل چلول چې په RSMo 301.010 کې تعريف شو، د چلوونکي او يا موټرسايکل جواز ته اړتیا نلري.

**د جنازې جلوسونه**

که چېرته تاسو د جنازې په جلوس کې یو موټر چلوئ، باید تر تاسو مخکې موټر پسې په دومره کچه نږدې حرکت وکړئ چې عملي او خوندي وي. د جنازې په جلوسونو کې باید هر موټر د بېرني وضعیت څراغونه روښانه وساتي. د جنازې د جلوس موټر په ټولو تقاطعاتو کې د تېریدو لومړی حق لري ان که د ترافیکو د کنټرول هر ډول وسایل هم وي، مګر دا چې د بېړني وضعیت د قانون پلي کوونکي مامورین بل ډول لارښوونه وکړي.

لاندې اصول پر ټولو هغو موټر چلوونکو پلې کېږي چې د جنازې په ترتیب شویو مراسمو کې ښکېل نه وي.

- د جنازې جلوس د موټرونو تر منځ چې د حرکت په حال کې وي، موټر مه چلوئ.
- د جنازې له جلوس سره په دې موخه مه يو ځاى کېږئ چې د مخکې کېدو حق ترلاسه کړئ.
- د جنازې په جلوس کې له کوم موټر څخه مه مخکې کېږئ، مګر دا چې په مشخصه توګه يوه کرښه درته چمتو شي.
- کله چې د جنازې د جلوس موټر له سره ځراغ څخه په تقاطع کې تېرېږي تاسو مه ور داخلېږئ، مګر دا چې تاسو د جنازې د جلوس له کرښې څخه له تېرېدو پرته دا کار وکړئ.

**په سړک کې غوسه**

په سړک کې غوسه د غضب نه کنټرولیدونکي ځرګندېدل دي چې د یوه موټر چلوونکی یې ښیي (معمولاً د یوه بل چلوونکي عمل ته د غبرګون پر مهال)، او دغه عمل د مالي او ځاني زیان لامل کېداى شي.

هغه موټر چلوونکي چې په سړک کې غوسه کېږي، معمولاً بریدګر خلک وي چې د مؤدبانه موټر چلونې له اصولو څخه پیروي نه کوي. د سړک پر سر غوسې سره تړلو ځینو بېلګو کې لاندې موارد راځي:

– د هارن کېکاږل
– د مخې د ځراغونو روښانه او بندول
– بل موټر اړ ایستل چې غاړې ته شي
– له بل موټر سره ټکر کول
– د بل موټرچلوونکي ګواښل
– په قصدي ډول بل موټر ته زیان رسول
– پر بل موټر چلوونکي تعرض
– د بل موټر تعقیبول
– یرغلیز حرکات ترسره کول
– په شفاهي ډول بل موټرچلوونکی ځورول
– بل موټر شاتګ ته اړ کول
– ناڅاپه برېک کول او یا سرعت کمول
– په قصدي ډول لار بندول
– پرې کول یا انحراف

دا چې زموږ ټولنې له دې کار سرهزیاته عادت کړی دی، د سړک پر سر غوسه زموږ د موټر چلونې د چاپېریال په یوه عادي امر بدله شوې ده. دغه عادتونه هېرېداى شي، مګر له موټر چلوونکو څخه ځاني ډسپلین غواړي.

**کله چې پر سړک له غوسې سره تړیو رویو سره مخ شوئ، تاسو باید هڅه وکړئ چې ...**

- ارامه اوسئ او ورته غبرګون مه ښیئ.
- موقعیت په نښه کړئ (د بېلګې په توګه: تقاطع، د مایل د اندازې نښه، هغه لوری چې موټر پرې حرکت کاوه او داسې نور).
- د موټرچلوونکي یوه فزیکي شرح واخلئ.
- د موټر یوه شرحه واخلئ (اټکلیز کال، جوړ، ماډل، رنګ د جواز د پلېټ نمبر او داسې نور).
- هر څومره ژر چې کېږي د پېښې په اړه نږدې اداري ته راپور ورکړئ.
- که ګرځنده موبایل لرئ، له سړک څخه یوې خوندي ساحې ته لاړ شئ او 55* ډایل کړئ (یا که چېرته په ښاري ساحه کې یاست 911 ډایل کړئ).

**نشه موټرچلوونکي**

که باوري یاست چې یو نشه موټر چلوونکی مو لیدلی، ژر تر ژره پولیس خبر کړئ. ښایي تاسوممکن د کوم چا ژوند وژغورئ. ګټور معلومات چې افسر ته یې باید ورکړئ په هغوی کې د موټر د جواز د پلېټ نمبر، د موټر چلوونکي فزیکي شرحه او د موټر موقعیت راځي.

**د خځلو اچولو په اړه**

د خځلو اچلو د قانون خلاف کار دی. دا ناوړه کار دی او ښایي د ترافیکي جریمې لامل شي. د بېلګې په توګه که یو روښانه شوی سګرټ د موټر له کړکۍ دباندې وغورځول شي، ښایي ستاسو تر شا په بل موټر ته چاودنه او د مالي یا ځاني زیان لامل شي.

که چېرته قاضي ومومي چې تاسو د خځلو غورځولو له امله ګناهکار یاست، نو ښایي تر $1,000 پورې جریمه او تر یو کال پورې بندي شئ.

This independent translation is not affiliated with the State of Missouri or any of its agencies.
دا خپلواکه ژباړه د میسوري ایالت یا د هغې کومې اداري پورې تړاو نلري.

موټر چلوونکي مسوول دي چې ډاډ ترلاسه کړي چې په پارکېنګ کې د موټر تر درولو وروسته هغه په خطر کې ونه لوېږي. کله چې تاسو خپل موټر پارک کوئ، ډاډ ترلاسه کړئ چې دا ځای له ټرافیکي لیکي څخه کافي لرې دی تر څو له ترافیکو سره له ښکېلتیا مخنیوی وشي او له دواړو لوریو څخه رانږدې کېدونکو موټرو ته د لیدو وړ وي.

- که یې امکان وي، موټر مو تل په یوه مشخص ځای کې پارک کوئ.
- پر یو طرفه سړکونو کې تاسو کولای شئ خپل موټر هم د سړک پر ښي او هم کیڼ لوري پارک کړئ.
- کله چې موټر پارک کوئ، تل مو د پارکېنګ برېک تنظیموئ. که مو موټر لاسي ګېربکس لري، په ګېر کې یې پرېږدئ او که یې ګېربکس اتومات وي، نو په پارک برېک کې یې ودروئ.
- وړاندې تر دې چې دروازه خلاصه کړئ، ترافیک وګورئ. که کولای شئ نو له موټر څخه د ښیلو لارې اړخ ته کوز شئ. که تاسو اړ یاست چې باید د سړک غاړه لوری وکاروئ، مخکې له دې چې ښکته شئ، نو ترافیک وګورئ. تل سورلی، په ځانګړې توګه ماشومان د ښیلو لارې څنډې ته کوزوئ. سایکل چلوونکي وګورئ، هغوی ځیې وخت د سفر د کرښو په ښي لاس پارک شویو موټرو ته نږدې حرکت کوي. همدا چې له موټر څخه ښکته شوئ، ژر تر ژره دروازه بنده کړئ.
- کیلي په پارک شوي موټر کې مه پرېږدئ. که چېرته خپل موټر پرېږدئ، نو دروازې یې بندوئ، ځکه هغه به ستاسو له سترګو څخه پناه وي.
- که تاسو اړ یاست چې خپل موټر پر سړک ودروئ، نو هر څومره چې ممکن وي، خپل موټر له ترافیکو څخه لرې ودروئ. که هلته کومه څنډه وي، نو هر څومره چې کولای شئ، هومره نږدې یې ودروئ.
- کله چې خپل موټر پر غونډۍ دروئ، نو خپل د موټر ټایرونه په کافي اندازه د سړک پر لور را کاږه کړئ. که چېرته ستاسو موټر له غونډۍ څخه ښکته حرکت وکړي، نو له ترافیکو څخه به لرې لاړ شي (پر غونډۍ د موټر درولو ته مراجعه وکړئ).

**هغه ساحې چې موټر درول پکې منعه دي**

ډېرې ساحې شته چې تاسو پکې موټر نشئ پارک کولای. هغه نښې وګورئ چې له پارک کولو څخه مخنیوی کوي او یا یې محدودوي. د پارکېنګ ځینې محدودیتونه د سړک د غاړې په رنګولو سره ښودل کېږي. مه یې پارک کوئ:

- په یوه تقاطع کې.
- د پلي تېرېدو په کرښه او یا لاره.
- سړک ته د ننوتلو لارې ته مخامخ.
- د دوه طرفه سړک پر کیڼ اړخ.
- د هغې څنډې تر څنګ چې په ژېړ رنګ باندې رنګ شوې وي.
- پر پل.
- د اور وژنې د نل بندول.
- د ترافیکو د عادي جریان بندول یا نورو موټرچلوونکو ته د خطر پېښول.
- ستاسو له موټر سره چې د نورو ترافیکو پر خلاف وي.

**څه وخت کولای شئ د معلولینو د پارکېنګ په ساحو کې خپل موټر پارک کړئ.**

د معلولینو د پارکېنګ په ساحو کې یوازې هغه وخت موټر درولای شئ چې د موټر له پلاکارډ او یا د جواز پلېټ وښیي چې ستاسو موټر د معلولینو موټر دی، او د پارک کولو پر مهال په موټر کې یو فزیکي معلول کس ناست وي، یا یو فزیکي معلول کس له موټر څخه ښکته کېږي او یا ور پورته کېږي.

## د لاسرسي نړيوال سېمبول



دغه سېمبول د هغو موټرونو لپاره ساحې په نښه کوي چې د معلولو کسانو له خوا اداره کېږي او يا د هغوی د لېږدولو لپاره کارول کېږي. هغه متخلفين چېکله د سرغړونې له امله محکوم شي، نو ښايي له پنځوس ($50) څخهکم تر درې سوه ($300) ډالرو څخهډېر به جريمه شي.

قانون هم وايي چې:

- د معلولينو په پارکېنګ کې چې لاري ته لاسرسی لري، د موټر پارک کول غيرقانوني دي.
- دا کار د قانون خلاف دی چې د معلولينو د پارکېنګ په ساحه کې د موټر درولو لپاره د معلولينو شخصي پلک کارټ يا د جواز پلېټ وکارول شي، خو دا په هغه صورت کې چې په موټر کې معلول کس نه لېږدول کېږي.

## پر غونډۍ ګانو پارکېنګ

مخکې له دې چې خپل پارک شوی موټر پرېږدئ:

- خپل د موټر ټايرونه يوه سم لوري ته وګرځوئ (لاندې ګرافيک وګورئ)؛
- موټر مو خاموش کړئ او په يوه مناسب ګېر کې يې پرېږدئ؛
- د بېړنې وضعيت او يا پارکېنګ برېک تنظيم کړئ؛
- له اېنجن څخه کيلي ګانې لرې کړئ؛
- مخکې له دې چې له موټر څخه ښکته شئ، په عقب هېنداره کې وګورئ چې ترافيک نه وي؛ او
- موټر بند کړئ او کيلي ګانې مو په جېب کې واچوئ.


مخکې له دې چې تاسو د پارکېنګ له ساحې څخه لرې شئ، ډاډ ترلاسه کړئ چې ترافيک او سېګنالونه وګورئ.




## موازي پارکېنګ

- ان که موټر د پارکېنګ له ساحې څخه 1½ فوټ مخکې د بل موټر کيڼ لوري ته موقعيت لري، ودرېږئ.
- ټايرونه په سمه توګه ښي لوري ته وګرځوئ او ورو شا ته د پارکېنګ ساحې ته لاړ شئ. ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو د موټر مخکينی برخه د تېريدونکو او يا راتلونکو ترافيکو مخه نه بندوي.
- کله چې له مخکيني موټر څخه وړاندې لاړئ، ټايرونه په سمه توګه کيڼ لوري ته وګرځوئ او شا ته تګ ته دوام ورکړئ.
- ټايرونه په سمه توګه ښي لوري ته وګرځوئ او وړاندې د څنډې پر لور لاړ شئ. د پارکېنګ د ساحې په مرکزي برخه کې موټر ودروئ.

موازي پارکېنګ




This independent translation is not affiliated with the State of Missouri or any of its agencies.
دا خپلواکه ژباړه د ميسوري ايالت يا د هغې کومې اداري پورې تړاو نلري.

ښه موټرچلول له تاسو څخه غواړي چې خپل چاپېریال ته پام کوئ او تر ې خبر اوسئ. باید ښکته سړک ته، د خپل موټر څنګونو او شا ته وګورئ. له غیرمنتظره پېښو څخه خبر اوسئ. ډېری پېښې له دې امله رامنځته کېږي چې موټرچلوونکي خپلې موټر چلونې تهپوره پام نه کوي. هېڅکله خپلې سترګې له څو ثانیو څخه د ډېر وخت لپاره له سړک څخه مه اړوئ. د بېلګې په توګه که غواړئ یوه نقشه وګورئ، په خوندي توګه د سړک څنډې ته شئ. هڅه مه کوئ چې د موټر چلونې پر مهال نقشه ولولئ.

**په مناسبه کرښه کې موټر وچلوئ**


کله چې پر لویه لاره موټر چلوئ او یوازې دوه لیکې لرې (پر هر لوری یوه لیکه)، نو د ښي لاس پر لیکه موټر چلوئ. که چېرته تاسو ته مخامخ کوم موټر نه وي او ژېړه کرښه هم نه وي، نو له بل موټر څخه د مخکې کېدو لپاره کولای شئ له مرکزي کرښې څخه واوړئ. کله چې پر داسې لویو لارو موټر چلوئ چې ټولې څلور لیکې لري (پر هر لوري دوه یا ډېرې لیکې)، تل پر ښي اړخ حرکت کوئ، مګر دا چې له ورو ترافیکو څخه تېرېږئ، بل موټر چلوونکي ته فرصت ورکوئ چې په خوندي توګه دننه شي او یا په قانوني بڼه را ګرځېدو ته چمتووالی ونیسي.

**د سرعت کنټرولول**

د خپل سرعت د کنټرول تر ټولو غوره لاره دا ده چې پوه شئ تاسو څومره چټک ځئ. ځینې وخت د سرعت معلوموونکي ته ګورئ او د سړک لپاره د سرعت تعیین شویو حدودو ته پام کوئ. دا په ځانګړې توګه هغه وخت ډېر مهم دی چې تاسو د لوړ سرعت له سړکونو څخه وځئ او په خورا ورو ځایي سړکونو موټر چلوئ.

**پر لویو لارو تېرېدل**

د کیڼ لوري له کرښې څخه یوازې هغه وخت ګټه واخلئ چې له بل موټر څخه تېرېږئ. تاسو له ښي لیکې څخه هغه وخت ګټه اخیستلای شئ چې کله کیڼ لوري ته له ګرځېدونکي موټر څخه مخکې کېږئ. له بل موټر څخه د مخکې کېدو لپاره د لویې لارې له څنډې او یا خامې برخې څخه ګټه مه اخلئ.




مخکې تر دې چې د تاسو تر مخه موټر څخه مخکې شئ، ډاډ ترلاسه کړئ چې د مخکې کېدو په خوندي ساحه کې یاست. د څلورو لیکو پر لویه لاره،

له خپلې دننۍ هېنداري څخه په استفادې په کینه لیکه کې ترافیک وګورئ او په خپلې کیڼې اوږې څخهپه لنډه توګه هم وګورئ. ستاسو د کیڼې اوږې څخه هاخوا کتل اړین دي ځکه له دې کار سره تاسو نه لیدل کېدونکې ساحې کتلای شئ. نه لیدل کېدونکې ساحې هغه برخې دي چې تاسو یې د عقب په هېنداره کې نشئ لیدلای. د بل موټر په نه لیدل کېدونکو ساحو کې موټر مه چلوئ.

- هڅه وکړئ د بل موټر په دوه اړخونو او نږدې تر شا موټر ونه چلوئ. یا خپل سرعت ډېر کړئ او یا وروسته شئ تر څو بل موټر چلوونکی وکولای شي په اسانۍ سره ستاسو موټر وویني.
- کله چې له بل موټر څخه مخکې کېږئ، نو هر څومره ژر چې کولای شئ د بل موټر له نه ښکارېدونکي ساحې څخه تېر شئ، مګر د سرعت له حد څخه به نه تېرېږئ. هر څومره ډېر چې تاسو هلته پاتې کېږئ، همدومره ستاسو له موټر سره د هغه بل موټر د ټکر خطر زیاتېږي.

- د یوه لوی موټر له لارۍ یا بس په مخه کې او یا نږدېسمدلاسه شا ته حرکت مه کوئ. د دغو موټرونو نه لیدل کېدونکې ساحې لويې دي او د هغوی د موټر چلوونکو لپاره ستونزمنه ده چې تاسو و ویني. که تاسو د لارۍ د چلوونکي مخ د اړخ په هېنداره کې ونه وینئ، لارۍ چلوونکي هم تاسو نشي لیدلای. له لارۍ څخه مخکې کېدل ډېر وخت نیسي. کله چې له لارۍ څخه مخکې شوئ، کرښې ته له ورګرځېدو څخه مخکې ډاډ ترلاسه کړئ چې د لارۍ څنډه په هېنداره کې وینئ. خپل سرعت وساتئ. کله چې له لارۍ څخه مخکې شوئ، سرعت مو مه را کموئ.

که لاره روښانه وي، سېګنال ورکړئ چې تاسو خپله لیکه بدلوئ. له بل موټر څخه په چټکۍ او سمه توګه مخکې شئ، مګر پام کوئ چې د سرعت له حد څخه تېر نشئ.

له هغه موټر څخه چې مخکې شوي یاست، هغه ته کافي ساحه ورکړئ. تر هغې پورې بېرته ښي کرښې ته مه اوړئ چې تر څو مو ستاسو تر شا هغه موټر په هېنداره کې نه وي لیدلی، چې همدا اوس ترې مخکې شوئ. په یاد ولرئ چې د خپلو نه لیدل کېدونکو ساحو د لیدلو لپاره له خپلې ښي اوږې څخه هاخوا وګورئ اوډاډه اوسئ چې سېګنال ورکړئ.

**مخکې کېدل**

که چېرته بل موټر له تاسو څخه مخکې کېږي، په خپله لیکه کې پاتې شئ او سرعت مو مه ډېروئ. که چېرته په څو کرښیزه سړک کې ستاسو په ښي لاس کې له تاسو څخه ډېر موټر مخکې کېږي، نو کېدای شي تاسو له نورو ترافیک څخه خپل سرعت کم کړئ.

پرته له دې چې په بیړه کیڼ لوري ته وګرځئ، کله چې لاره روښانه وي، نو تاسو باید ښي کرښې ته واوړئ.

**له ترافیکو سره سمون**

هغه موټر چې په یوه لوري او لیکه حرکت کوي او سرعت یې هم سره برابر وي، نو له یو بل سره ټکر نه کوي. هغه ترافیکي پېښې چې دوه یا تر دې زیات موټر پکې ښکېل وي، ډېر کله هغه مهال را منځته کېږي چې موټر چلوونکي پر سړک تر نورو موټرو چټک او یا ورو حرکت کوي.

که تاسو له ترافیکو څخه چټک ځئ، نو تاسو باید له نورو څخه مخکې کېدو ته دوام ورکړئ. هر ځل چې له یوه څخه مخکې کېږئ، نو د یوه ټکر احتمال رامنځته کېږي. هغه موټر چې تاسو ترې مخکې کېږئ، ښایي په ناڅاپي توګه خپلې کرښې بدلې کړي او یا ښایي په یوه دوه کرښیز سړک کې له مقابل لوري څخه یو موټر په ناڅاپي توګه رانږدې شي. سرعت مو کم کړئ او له نورو ترافیکو سره واټن وساتئ. چټک سرعت په یوه ساعت کې له څو دقیقو څخه ډېر وخت نشي سپمولای.

له نورو ترافیکو څخه ډېر ورو موټر چلول داسې بد ګڼل کېږي لکه چټک سرعت. له دې کار سره ستاسو تر شا موټر ډېرېږي او چلوونکي بې صبره کېږي تر څو له تاسو څخه مخکې شي. که موټر ستاسو تر شا ډېر شول، یوې څنډې ته شئ او اجازه ورکړئ چې له تاسو څخه مخکې شي، البته که چېرته دغه کار خوندي وي.

**ستاسو تر څنګ له ترافیکو څخه تاسو خبر اوسئ**

په هرو څو ثانیو کې خپله د عقب هېندارې ته یو ځل ګورئ تر څو له را نږدې کېدونکو ترافیکو څخه خبر اوسئ. ډاډ ترلاسه کړئ چې نور موټر چلوونکي تاسو ویني. ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو او له تاسو څخه مخکې موټر تر منځ د خوندیتوب واټن (8 څپرکي ته مراجعه وکړئ) موجود دی.

**ورو حرکت کوونکي ترافیک**

ځیني موټر ډېر چټک حرکت نشي کولای، او یا له ترافیکو سره د یو ډول سرعت په ساتلو کې ستونزه لري. که چېرته تاسو دغه ترافیک ژر وپېژنئ، نو د لیکو بدلولو او په خوندي ډول د سرعت د کمولو لپاره به وخت ولرئ. په ناڅاپي ډول سرعت کمول د ترافیکي پېښې لامل کېدای شي.

- په لوړو او ژورو لرونکو ساحو او د ترافیکو له جریان سره د یو ځای کېدو پر مهال لويو، کوچنیو او کمزورو موټرو ته پام کوئ. کېدای شي دغه ډول موټر په اږدو او لوړو غونډیو کې خپل سرعت له لاسه ورکړئ او کله چې د ترافیکو له جریان سره یو ځای کېږي، ښایي وخت ونیسي تر څو خپل سرعت ډېر کړي.

**دریدل**


په لویو لارو کې هېڅکله مه درېږئ. په ډېرى لویو لارو کې د استراحت تمځایونه او د خدماتو ساحې موجودې دي.

خبر،ترڅو تاسو بايدد وخت څخه دمخه ښه پوه شئ چې کله ودرېږئ. په ناڅاپي ډول دريدل خطرناک دي. په ناڅاپي ډول بريک کول ښايي د دې لامل شي چې تاسو پر موټر خپل کنټرول له لاسه ورکړئ. ستاسو تر شا موټرو لپاره به هم ستونزمنه کړئ چې له تاسو سره له ټکر پرته ودرېږي. هڅه وکړئ پېښې له مخکې په سمه توګه ووينئ تر څو له دريدو څخه وړاندې وړې څخه مخنيوى وشي. د سرعت په کمولو او يا د کرښې په بدلولو سره ښايي تاسو اړ نشئ چې ودرېږئ، که چېرته دا کار کوئ، نو کولاى شئ په تدريجي او خونديۍ ډول ودرېږئ.

په بېړنيو حالاتو کې کولاى شئ د لويې لارې په څنډه کې ودرېږئ. که دا کار کوئ، د بېړني وضعيت د اشارې په روښانه کولو سره نورو موټرچلوونکو ته خبر ورکړئ. د بانټ پورته کول او يا په انټن کې د سپينې ټوټې را ځړول به هم مرسته وکړي.

**د کنټرول شوي لاسرسي لويې لارې**

ډېرى لويې لارې کنټرول شوى لاسرسى لري. د دې معنا دا ده چې تاسو يوازې هغه وخت لويو لارو ته ننوځئ او يا ترې بهر شئ چې هلته د ننوتلو او يا بهر کېدو رمپونه وي.




لويو لارو ته ننوتل د ننوتلو رمپونه هغه لنډ او يو طرفه رمپونه دي چې لويې لارې ته د ننوتلو لپاره ترې ګټه اخيستل کېږي. د ننوتلو د لارو په وروستى برخه کې ډېرې رمپونه د سرعت ليکې دي. د خپل سرعت د ډېرولو لپاره له رمپ او د ننوتلو له لارې څخه ګټه واخلئ

تر څو په لويو لارو کې د موټرو له سرعت سره برابر شئ.


د خپل سرعت د لوړلو پر مهال په لويه لار کې د ترافيکو تر منځ يو خالي ځاى ګورئ. خپل د ګرځېدو سېګنال روښانه کړئ او په ارامه د ترافيکو له جريان سره يو ځاى شئ. د اکسلېټر د کرښې په پاى کې مه درېږئ، مګر دا چې ډېر بيرو بار وي او تاسو درېدو ته اړ شئ.

هغه موټر چلوونکي چې له مخکې پر لويه لار روان وي، بايد تاسو ته فرصت درکړي چې د ترافيکو له جريان سره يو ځاى شئ، مګر که هغوى دا کار نه کوي، په زوره لويې لارې ته مه ننوځئ. تاسو بايد هغوى ته د مخکې کېدو حق ورکړئ، ان که دا د اکسلېټر د کرښې په پاى کې د درېدو په معنا هم وي.

**له لويې لارې څخه وتل**

د وتلو رمپونه لنډ او يو طرفه دي. د وتلو د ډېرى رمپونو په پيل برخه کې د سرعت د کمولو کرښه ده. ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو د سرعت د کمولو له کرښې مخکې په مناسبه ليکه کې ياست تر څو له لويې لارې څخه بهر شئ.

کله چې له لويې لارې څخه وتلى د خپل سرعت د کمولو لپاره د سرعت د کمولو له کرښې او د وتلو له رمپ




څخه ګټه واخلئ. ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو د بهر کېدو په رمپ کې د سرعت د کمولو مشورتي نښې مراعاتوئ. چمتو اوسئ چې د رمپ په پاى کې ودرېږئ او يا نورو ته د تېرېدو حق ورکړئ.

که د وتلو له لارې تېر شوئ، مه درېږئ، مه پر شا حرکت کوئ او مه هڅه کوئ چې په لويه لار کې بېرته را وګرځئ. تاسو بايد بايد د وتلو په بله لار کې له لويې لارې څخه بهر شئ او بېرته هغه د وتلو لارې ته راشئ چې ترې تېر شوي واست.

**بدلونې**

کله چې دوه د ګڼې ګوڼې ډکې لويې لارې سره يو ځای کېږي، ښايي هلته د ننوتلو او وتلو له رمپونو سره بدلونې موجودې وي. که تاسو مخکې په دغه ډول ځای کې موټر نه وي چلولی بدلونه ښايي ګډوډ کوونکي وي. Diverging Diamond Interchange, DDI د موټر چلونې يو نوی ډيزاين دی چې ښايي په ميسوري کې د موټر چلونې پر مهال ورسره مخ شئ. کله چې د

DDI له لارې موټر چلوئ، نو تاسو به د يو لنډ واټن لپاره به د سړک پر کيڼه خوا موټر چلوئ. هلته د مسير ښودنې نښې او بدلونې موجودې دي چې له تاسو سره مرسته کوي تر څو مشخص کړئ چې چېرته بايدتاسو لاړ شئ.

**د بدلونو ځينې عام ډيزاينونه:**

شوتل پاڼه



الماس



لاربنود



بېل بېل الماس



د "لويې لارې هيپنوتيزم" ته پام کوئ

د لويې لارې هيپنوتيزم کېدای شي تاسو ته خوب درولي او ستاسو په شا و خوا کې له شته ترافيکو څخه خبر نشئ. د لويې لارې هيپنوتيزم د سړک او ترافيکو د يو ډول والي له امله را منځته کېږي. د بادونو، ټايرونو او ماشين غږ هم په هيپنوتيزم کې زياتوالی راوالي.

تاسو کولای شئ په هر لوري کې ترافيکو ته په کتو او ستاسو شا و خوا د لويې لارې نښو ته په کتو سره له هيپنوتيزم څخه مخنيوی وکړئ. که خوب درځي، له لويې لارې څخه بهر شئ. دا ګواښ ونلرئ چېپه څرخ د سټرېنګ ويده شئ.

**که چېرته خوب درځي نو موټر چلول بند کړئ.**

که د سټړيا احساس کوئ، ستونزمنه ده چې ستاسو په شا و خوا کې د شته ترافيکو په اړه تصميم ونيسئ او يا غبرګون ورته وښيئ. ښايي پر سټرېنګ ويده شئ. کله چې خوباحساس کوئ ، له لويې لاپې څخه ووځئ او د استراحت نږدې تمځای يا د خدمتونو ساحې ته ورشئ. که ډېر خوب درځي، نو د لنډ وخت لپاره ويده شئ. سټړي موټرچلوونکي خپل ځان، او نورو موټر چلوونکو ته خورا لوی خطر دی لکه نشه موټر چلوونکي.

**بېړني وضعيتونه**

که چېرته ستاسو موټر پر لويه لار خراب شو، نو ډاډ ترلاسه کړئ چې نور موټر چلوونکي تاسو او ستاسو موټر ويني. ترافيکي پېښې له دې امله هم رامنځته کېږي چې موټر چلوونکی ولاړ موټر نه ويني تر هغې چې ښهودريدل ناوخته شي.

د امکان په صورت کې له دوه طرفه راډیو، ټلیفون او یا موبایل څخه ګټه واخلئ تر څو چارواکو ته خبر ورکړئ چې ستاسو (یا د کوم بل چا) موټر خراب شوی دی. ډېری سړکونه نښې لري چې تاسو ته د CB کانال یا د ټلیفون شمېره وايي تر څو په بېړني وضعیت کې اړیکه ټینګه کړئ. په بېړني وضعیت کې د اړیکې ټینګولو د ګرځنده ټلیفون شمېره 55* ده. که ستاسو په موټر کې ستونزه پیدا شوي وي او باید ودرېږئ، نو پر لاندې موارډو غور وکړئ:

- که په ټوله کې شونې وي، نو خپل موټر له سړک څخه بهر او له ترافیکو څخه لرې کړئ.
- خپل د بېړني وضعیت فلش روښانه کړئ تر څو څرګنده کړئ چې تاسو په ستونزه کې یاست.
- که خپل موټر له سړک څخه نشئ ایستلای، هڅه وکړئ په هغه ځای کې یې ودروئ چې نورو موټر چلوونکو ته په سمه توګه ښکاره شي. پر غونډۍ او یا ګولایي کې یې مه دروئ.
- هڅه وکړئ نورو موټر چلوونکو ته خبرداری ورکړئ چې ستاسو موټر دلته دی. د موټر تر شا د بېړني وضعیت شراره ځای پر ځای کړئ. دا نورو موټر چلوونکو ته خبر ورکوي چې د اړتیا په صورت کې خپله لیکه بدله کړي.
- هېڅکله د سړک په منځ کې مه درېږئ. که د ترافیکو په کرښه کې پاتې کېږئ، نو ټایر مو مه بدلوئ. خپل د موټر بانټ پورته کړئ یا یوه سپینه ټوټه د موټر پر انتن، د اړخ په هېنداره او یا د دروازې په لاستي پورې وتړئ تر څو نورو ته د بېړني وضعیت سېګنال ورکړئ.

د سړک د سطحې نښې

پر سړک کرښې او سېمبولونه موټرچلوونکو ته یو لړ موارد په ډاګه کوي: په کوم ځای کې لیکې شوې دي، په کوم ځای کې له نورو موټرو څخه مخکې کېدای شئ، یا لیکې بدلولای شئ، د ګرځېدو لپاره باید کومې لیکې وکارول شي، د پلیو لارویانو لارې په کوم ځای کې دي او تاسو باید چېرته ترافیکي نښو او سېګنالونو ته ودرېږئ.

**د سړک د سطحې د نښو معنا**


- کرښې – له بل موټر څخه د مخکې کېدو پر مهال ښایي له ماتو کرښو څخه تېر شئ.
- – له بل موټر څخه د مخکې کېدو پر مهال باید له کلکو کرښو څخه تېر نشئ.
- رنګونه – ژېړ رنګ هغه ترافیک له یو بل څخه جلا کوي چې په مخالفو جهتونو کې حرکت کوي.
- – سپین رنګ هغه ترافیک له یو بل څخه جلا کوي چې په یوه جهت کې حرکت کوي.

**د ترافیکو جهت**

که ستاسو کیڼ لوري ته کرښه ژېړه وي، نو د سړک د بل اړخ ترافیک په مخالف جهت کړې حرکت کوي.

که ستاسو کیڼ لور ته کرښه سپینه وي، ترافیک په یوه جهت کې

حرکت کوي. د ډېری سړکونو پر ښي څنډه یوه سپینه ثابته کرښه غځېدلې وي.



هغه سړکونه چې څلور لیکې ولري د هغوی د منځ په نښو کې دوه ژېړې ثابتې کرښې شاملې دي. ژېړې کرښې تاسو ته وايي چې د کرښو په بل اړخ کې ترافیک مخالف لوري ته حرکت کوي. د مخکې کېدو لپاره تاسو نباید له دوه ژېړو ثابتو کرښو څخه تېر شئ.


**هغه ساحه چې مخکې کېدل پکې منعه دي**



دوه کرښې سړکونه ممکن "د تېرېدو زونونه" ونلري چې مخکې کېدل پکې منعه دي او دغه ساحې له ژېړې ثابتې کرښې سره نښه شوې دي. د نه مخکې کېدو ساحې پر غونډیو او یا ګولایې ګانو کې وي چې تاسو په کافي اندازه لرې وړاندې واټن نشئ لیدلای

تر څو په خوندي ډول مخکې شئ. وړاندې تر دې چې د نه مخکې کېدو ساحې ته ننوځئ، باید په بشپړه توګه له بل موټر څخه مخکې شئ.

کله چې تاسو د خپل مرکزي کرښې لوري ته ژېړه ثابته کرښه وینئ، نو د مخکې کېدو هڅه مه کوئ. پر هر دوه کرښیز سړک، که چېرته تاسو د مخکې کېدو لپاره کافي واټن نه وینئ، نو هېڅکله د مخکې کېدو هڅه مه کوئ، ان که پر سړک د نه مخکې کېدو نښې هم موجودې نه وي.



**کیڼ لوري ته د ګرځېدو لیکې**


پر ځینو سړکونو کیڼ لوري ته د ګرځېدو پر لیکو نښې شوې وي. په لاندې انځور کې کلکو ژېړو کرښو او پټو ته پام وکړئ.

**د پلي لارویانو کرښې او د درېدو لیکې**

که چېرته د کومې نښې او یا سېګنال له امله درېدو ته اړ کېږئ، مخکې تر دې چې د درېدو نښې او یا د پلي لارویانو د تېرېدو نښې (که چېرته وي) ورسېږئ، باید ودرېږئ.

د پلي تېرېدونکو کرښې هغه ساحه مشخصوي چې پلي لارويان باید له سړک څخه پرې تېر شي.

تاسو باید هغو پلیو لارویانو ته د تېرېدو حق ورکړئ چې د پلي لارویانو د تېرېدو کرښو ته داخل شوي دي او یا داخلېږي. د تېرېدو ټولې کرښې نښه شوې نه دي. هغو پلیو لارویانو ته پام کوئ چې له داسې تقاطعاتو څخه تېرېږي چې د پلي تېرېدو لپاره مشخصې کرښې نلري.



### د دوه ګوني ګټې اخیستنې لیکې

د دوه ګوني ګټې اخیستنې لیکې هم د راګرځېدنې غشی لري او هم مستقیم غشی لري. کله چې په الکترونیکي ترافیکي سېګنال کې دواړه غشی راڅرګند شول، نو تاسو کولای شئ چې را وګرځئ او یا مخامخ لاړ شئ. مګر که چېرته تاسو غواړئ چې را وګرځئ، او یوازې مستقیم غشی ښکاري، نو باید د را ګرځېدو غشی ته په تمه شئ.

### د شریک مرکز لیکې

هغه موټرونه چې پر دواړو لوریو حرکت کوي، کولای شي چې دغه د مرکز لیکې کیڼ لوري ته د ګرځېدو لپاره وکاروي (یا د اجازې په صورت کې د U ګرځېدنې لپاره). د سړک پر سر، کیڼ لوري ته د ګرځېدو غشی چې د یوه جهت ترافیکو لپاره کښل شوي دي، له مقابل جهت څخه راتلونکو ترافیکو لپاره د کیڼ لوري په غشی بدلېږي. دغه لیکې په هر لوري کې په ژېړ رنګ سره نښه شوي دي. کله چې ستاسو مسیر مشخص شو، نو له دې لیکې څخه وګرځئ.

### د نښه شویو لیکو نشتون

که چېرته د لیکو د کارولو د کنټرول لپاره نښې او علامې نه وي، نو داسې اصول موجود دي چې تاسو ته ښیي چې له کومې لیکې څخه باید ګټه واخیستل شي. دغه اصول عمومي موټر چلول، مخکې کېدل او راګرځېدل تر پوښښ لاندې نیسي.

عمومي موټر چلول - په ټوله کې د سفر په هېڅ لیکه کې شا ته د بل موټر پر لور حرکت مه کوئ. موټر چلوونکی دا تمه نلري چې بل موټر دې شا ته د هغوی پر لور ورشي او تر هغې چې ډېر ناوخته شوی نه وي، ورته نه متوجه کېږي. که تاسو د خپل ګرځېدو او یا له سړک څخه د وتلو ځای نه تېر شوئ، بېرته په شا حرکت مه کوئ. مخکې لاړ شئ تر څو وکولای شئ په خوندي توګه را وګرځئ. په هېڅ دلیل د سفر په لیکه کې مه درېږئ (سربداله کېدل، د موټر خرابېدل، یا د سورلۍ ښکته کول). خپل حرکت ته دوام ورکړئ تر هغې چې په خوندي توګه د سړک څنډې ته شئ.

هغه سړک چې په یوه جهت کې درې یا تر دې زیاتې لیکې ولري، که له نورو څخه نه مخکې کېږئ، نو په ښي لیکه کې اوسئ. که چېرته د سفر ښي لیکې ته د پام وړ ترافیک را ننوځي، نو بیا د سفر مرکزي لیکه وکاروئ.

مخکې کېدل ــ د څوګونو لیکو په سړک کې د کیڼ لوري لیکه د دې لپاره کارول کېږي چې له یوه ورو موټر څخه مخکې شئ. که چېرته تاسو په ښي لوري کې مخکې کېږئ، نو بل موټر چلوونکی به تاسو په سختۍ ووینې او کېدای شي ستاسو تر مخه په ناڅاپي توګه خپله لیکه بدله کړي.

د سړک په څنډه کې مه مخکې کېږئ. نور موټر چلوونکي به له تاسو تمه ونکړي چې تاسو هلته یاست او ښایي چې له کنټلو پرته د سړک غاړې ته شي.

### د ترافیکو افسران

تاسو باید تل د ترافیکو د افسرانو اطاعتوکړئ. که تاسو د ترافیکو کوم افسر وینئ چې لارښووني کوي، هغه څه چې یاد افسر/افسره درته وایي پرې عمل وکړئ او نورو ترافیکي نښو او سېګنالونو ته پام مه کوئ. د بېلګې په توګه، که چېرته افسر تاسو ته سېګنال درکوي چې د شنه څراغ پر مهال ودرېږئ، نو تاسو باید ودرېږئ.


### د ترافیکو د کنټرول سېګنالونه

د ترافیکو په کنټرول کې ترافیکي سېګنالونه، ترافیکي نښې او د سړک د سر نښانونه راځي. ترافیک ښایي د قانون د پلي کوونکو، د لویو لارو د پرسونل او یا د ښوونځي د ګارډانو له لوري هم کنټرول شي. تاسو باید د دغو کسانو لارښوونو ته پام وکړئ.

## ترافیکي سېګنالونه

ترافیکي سېګنالونه هغه څراغونه دي چې تاسو ته وايي چې کله او چېرته باید ودرېږئ او حرکت وکړئ.

### د ټولو جهتونو لپاره د فلش سېګنال



د ترافیکو د فلش سېګنالونه ښايي د بېړني وضعیت پر مهال، د شپې پر مهال، د لږو ترافیکو په وختونو کې او د ځانګړو پېښې پر مهال روښانه شي.

د ترافیکو د سېګنالونو فلش وهل لاندې معنا ګاني لري:

- د سره څراغ روښانه کېدل د درېدو د نښې په څېر معنا لري.
- د ژېړ څراغ روښانه کېدل تاسو ته وايي چې سرعت مو کم کړئ او په احتیاط سره وړاندې لاړ شئ.



يو سور څراغ تاسو ته وايي چې د درېدو په کرښه، د پلیو لارویانو د تېرېدو په کرښه او یا له تقاطع څخه مخکې ودرېږئ. مګر دا چې تاسو ښي لوري ته ګرځئ، باید په تمه شئ او له وړاندې تګ څخه مخکې څراغ شین شي. په بشپړه توګه له درېدو څخه وروسته، که لاره له پلیو لارویانو او ترافیکو څخه خلاصه وي، نو کولای شئ چې د سره څراغ پر مهال ښي لوري ته وګرځئ. مګر که چېرته هلته داسې سېګنال وي چې په سره څراغ کې ښي لوري ته مه ګرځئ، نو باید ښي لوري ته و نه ګرځئ.



يو ثابت ژېړ څراغ تاسو ته وايي چې سېګنال له شنه څخه سره ته اوړي. د ثابت ژېړ څراغ لپاره ودرېږئ، مګر دا چې تاسو په تقاطع کې یاست او یا ډېر نږدې یاست چې تقاطع ته له ننوتلو څخه مخکې په خوندي توګه نشئ درېدای.



شین څراغ تاسو ته وايي چې کولای شئ د تقاطع په منځ کې تېر شئ. که څه هم تاسو باید د تېرېدو لومړی حق هغو پلیو لارویانو او ترافیکو ته ورکړئ چې لا هم په تقاطع کې دي.



### کیڼ لوري ته د ګرځېدو نښې

کله چې په یوه شنه څراغ کې کیڼ لوري ته ګرځئ، نو کیڼ لوري ته د ګرځېدو د څراغ درې پړاوونه دي:


1. مجاز – موټرونو ته يو ګرد شین او یا فلش وهونکی ژېړ غشي ورکول کېږي او مخکې له دې چې را وګرځي ترې غوښتل کېږي چې د مقابل لوري په ترافیکو کې یوې مناسبې خالیګاه ته په تمه شي.
2. خوندي شوی – موټر کولای شي يوازې په هغه صورت کې را وګرځي چې يو شین غشي ترلاسه کړي، کله چې د مقابل لوري موټر د سره څراغ په وسیله درېدلي وي.
3. خوندي شوی/مجاز – موټرونو ته يو خوندي شوی پړاو (شین غشي) ورکول کېږي، یا مجاز پړاو (ګرد شین یا فلش وهونکی ژېړ غشي) ورکول کېږي، کله چې موټر چلوونکی باید د مقابل لوري په ترافیکو کې یوه مناسبه خالیګاه وټاکي.



يو سور څراغ تاسو ته وايي چې د درېدو په کرښه، د پلیو لارویانو د تېرېدو په کرښه او یا له تقاطع څخه مخکې ودرېږئ. له وړاندې تګ څخه مخکې باید سېګنال ته په تمه شئ تر څو شین او یا فلش وهونکی ژېړ غشي راشي. مګر تاسو به اړتیا ولرئ چې پلیو لارویانو ته د تېرېدو اجازه ورکړئ.



يو ثابت ژېړ غشي له شنه وېکټور څخه وروسته را څرګندېږي. دا تاسو ته وايي چې شین غشي به شنه ګرد څراغ، یوه فلش وهونکي ژېړ غشي او یا سره څراغ ته واوړي. تاسو باید چمتو اوسئ چې راتلونکو ترافیکو ته د تېرېدو اجازه ورکړئ او یا ودرېږئ.



یو فلش وهونکی ژېړ غشي تاسو ته وايي چې تاسو کولای شئ هغه لوري ته موټر وچلوئ چې غشي ورته اشاره کوي، مګر مخکې له دې چې وګرځئ، باید د مقابل لوري ترافیکو ته په تمه شئ تر څو یوه مناسبه خالیګاه پکې رامنځته شي. تاسو باید پلیو لارویانو ته د تېرېدو حق ورکړئ.



یو شین غشي تاسو ته وايي چې هغه لوري ته موټر چلولای شئ چې غشي ورته اشاره کوي. تاسو باید په مناسبه لیکه کې پاست او لار باید له ترافیکو او پلیو لارویانو څخه خلاصه وي.

تیاره سیګنالونه او یا ترافیکي سیګنالونه چې کار نه کوي، هغه د څلور لارو د تمځای په توګه فعالیت کوي.

**ترافیکي نښې**

ترافیکي نښې تاسو ته ترافیکي اصول او خطرونه بیانوي او درته وايي چې تاسو چېرته یاست، څنګه مطلوب ځای ته څه ډول لاړ شئ او خدمتونه چېرته موقعیت لري. د دې نښو شکلونه او رنګونه د هغو معلوماتو ډول ته اشاره کوي چې دا اشارې يې چمتو کوي.

<u>د نښې رنګونه</u>

سور = درېدل، تسلیمېدل یا منع کېدل

نارنجي = رغونه

تور = تنظیمي/نظارتي

شین = لاربښوونه او واټن

سپین = تنظیمي/نظارتي


آبي = د موټر چلوونکي خدمتونه

ژېړ = خبرداری


قهوه يي = عامه بوختیاوې او کلتوري راښکونونه

ژېړ شین = ښوونځی


<u>د نښو شکلونه</u>



اته ضلعي= ودرېدل



ګرد = رېل پټلۍ



مثلث = بل چا ته د تېرېدو اجازه نوبت ورکول



چلیپا = رېل پټلۍ




عمودي مستطیل = تنظیموونکي/څارونکي



بیرغي شکل = هغه ساحه چې مخکې کېدل پکې منعه دي



افقي مستطیل = لاربښود پارکونه او بوختیاوې



لوزي = خبرداری



پنځه ضلعي = ښوونځی

This independent translation is not affiliated with the State of Missouri or any of its agencies.
دا خپلواکه ژباړه د میسوري ایالت یا د هغې کومې اداري پورې تړاو نلري.

**د خبرداری نښي**

پر دغو ژیړو نښو په تور رنګ توري او یا سیمبولونه لیکل شوي دي اوعموماً الماسي شکلونه لري. دغه نښي تاسو ته خبرداری درکوي چي سرعت مو کم کړئ او د ځانګړي وضعیت او یا وړاندي کوم خطر له امله د اړتیا په صورت کي درېدو ته چمتو شئ. د خبرداري ځیني عامي نښي په لاندي ډول ښودل کېږي.

<u>د ترافیکو کنټرول</u>



مخکي درېدل
دا وړاندي پر هغه سړک د درېدو نښه ده چي اوس تاسو پرې روان یاست. درېدو ته چمتو اوسئ.



وړاندي سيګنال
پر کوم سړک چي تاسو روان یاست وړاندي پر هغه سړک یو ترافیکي سیګنال دی. درېدو ته چمتو اوسئ.



د پلي لارویانو تیرېدل
هغه پلي لارویان چي د پلیېو پر کرښو تربیري هغوی ته د تیرېدو فرصت ورکړئ. سرعت مو کم کړئ.



له ښوونځي څخه تیرېدل
سرعت مو کم کړئ. هغو ماشومانو ته پام کوئ چي له سړک څخه تیرېږي. یادښت: دغه نښه بیا ژیړي شني ته اوړي. دغه اوښتون به په راتلونکو لسو کلونو کي ترسره شي.

<u>د ترافیکو جریان</u>




د سرعت له مشورې څخه وتل
له لویي لارې څخه د وتلو رمپ د سرعت مشوره لري.



د لیکي د اضافه کېدو نښه
له بل سړک څخه به ترافیک دي سړک ته ننوځي. یو ځای کېدو ته اړتیا نشته ځکه چي یوه لیکه اضافه شوې ده.

<u>ځانګړی سړک او ترافیک</u>



د وېش پیل
سړک
سړک به ژر پر دوه طرفه ترافیکو ووېشل شي چي د یوې مرکزي کرښي او یا مانع په وسیله به سره جلا شي.



په پای کي وېشل کېدونکی
سړک
ده طرفه ترافیک به نور د یوې مرکزي کرښي او یا مانع په وسیله ونه وېشل شي.



یو ځای کېدل
له بل سړک څخه به ترافیک دي سړک ته ننوځي. د هغو موټرو لپاره چمتووالی ولرئ چي ستاسو کرښي ته در اوړي.



لیکه پای ته رسېږي/ کیڼ لوری یو ځای کړئ
د ترافیکو دوه لیکي به ډېر ژر یوه لیکه شي. که تاسو پر ښي لیکه یاست باید له کیڼي لیکي سره یو ځای شئ، هغوی ترافیکو ته د تیرېدو اجازه ورکړئ چي پر کیڼه لیکه موټر چلوي.

This independent translation is not affiliated with the State of Missouri or any of its agencies.
دا خپلواکه ژباړه د میسوري ایالت یا د هغي کومي اداري پوري تړاو نلري.

## په سړک کې راګرځېدني او ګولايي ګانې



ګولايي
د ګولايي نښه د دې لپاره ده تر څو د ګولايي په اړه خبرداری ورکړي او هلته سرعت پر لويه لار د ليکل شوي سرعت له اندازې څخه کم وي.



را ګرځېدل
د را ګرځېدو له نښې څخه د دې لپاره ګټه اخيستل کېږي چې د يوې شديد را ګرځېدنې او يا په داسې ځای کې د را ګرځېدنې په اړه خبرداری ورکړي چې د سرعت لوړه کچه يکي 30 مايله پر ساعت او يا تر دې کمه وي.



شا ته ګرځېدل
د شا ته ګرځېدو نښه د دې لپاره کارول کېږي چې په متقابلو جهتونو کې د دوه ګرځېدنو په اړه خبرداری ورکړي. دويمه ګرځېدنه ښايي له لومړۍ څخه سخته وي. د توصيه شوي سرعت تر ټولو وړه کچه 30 مايله پر ساعت او يا تر دې کمه ده.





د سرعت مشوره
د ګورايي او ګرځېدو نښې د مشورتي سرعت يو پلېټ لري چې د ګولايي او ګرځېدول لپاره توصيه شوی سرعت ښيي.

که څه هم تاسو به په مناسبه هوا کې په لوړ سرعت سره موټر چلولو کې د راحتۍ احساس وکړئ، مګر هېڅکله نبايد په باراني، واورينو او يخينو حالاتو کې دا ار وکړئ.

لوی غشي
ښايي د را ګرځېدنې د ځای په بهرنۍ ساحه کې وليدل شي. که په سفر کې په شديد ډول خپل جهت بدلوئ نو سرعت مو را کم کړئ.





شورون غشي
ښايي په ګولايي ګانو او د را ګرځېدو په ساحو کې د دې لپاره وکارول شي چې د سرعت پر راکمولو نور ټينګار وکړي.

## ځانګړی سړک او ترافيکو حالات



د توکو نښاني کوونکی
د دې لپاره کارول کېږي چې موټر چلوونکي ته پر سړک د موجودو توکو او يا د سړک څنډو ته ډېرو نږدې توکو په اړه خبر ورکړي. دغه نښې پر دې اړتيا ټينګار کوي چې د سفر له نښه شوي ليکې څخه بهر لاړ نشئ.




نرمه اوږه
مخکې پر سړک راتلونکې اوږه نرمه ده. له پليو لارې څخه بهر مه ځئ.




سايکل - د سړک شريکول
هغو سايکل چلوونکو ته پام کوئ چې له موټرو سره پر يوه ليکه سايکل چلوئ.



ورو حرکت کوونکي موټر
کله چې د يوه موټر پر شا د يوه نارنجي غبرګوني مثلث نښه وي، د دې معنا دا ده چې ياد موټر له 25 مايله پر ساعت کم سرعت سره حرکت کوي. ښايي تاسو دغه نښه د رغونې پر وسايطو او يا د کروندې پر موټرو وګورئ.



د لمدبل پر مهال ښويه کېدل
ستاسو تر مخه سړک په لمدبل هوا کې په غيرمعمول ډول ښويه کېږي. په دغو حالاتو کې په احتياط سره موټر چلوئ.

This independent translation is not affiliated with the State of Missouri or any of its agencies.
دا خپلواکه ژباړه د ميسوري ايالت يا د هغې کومې اداري پورې تړاو نلري.

## د سړک تقاطعات



د سړک تر څنګ د ريل پټلۍ تېرېدل
تقاطع ته ډېر نږدې د ريل ګاډي د تېرېدو خبرتيا ورکوي. کله چې له پټلي څخه تيريږئ، نو احتياط کوئ.



تقاطع
يو سړک چې له بل څخه تېرېږي.
په احتياط سره هغو ترافيکو ته وګورئ چې ستاسو پر لاره تېرېږي.



وړاندې فرعي سړک يو بل سړک دې سړک ته له هغه لوري څخه را ننوځي چې په نښه کې ښودل کېږي.



وړاندې **T** تقاطع پر دې سړک چې تاسو مزل کوئ، نور دوام نلري. تاسو بايد يا ښي او يا کيڼ لوري ته وګرځئ.




وړاندې را تاوېدل
وړاندې د را تاوېدو يوه تقاطع ده. لکه څرنګه چې د سرعت د محدوديت نښه غوښتنه کوي، سرعت مو کم کړئ او د را تاوېدني لپاره د سړک اصول مراعات کړئ.

د تنظيمولو/ نظارت نښې

د تنظيمولو ډېرې نښې د مربع - مستطيل په شکل او سپينې دي، په تور او سره رنګ توري او سمبولونه پرې ليکل شوي دي. دغه نښې تاسو ته د ترافيکي لوريو، د ليکو د کارولو، را ګرځېدلو، سرعت او پارکېنګ د اصولو او نورو ځانګړو حالاتو په اړه معلومات درکوي.

ځينې نظارتي نښې يوه سره دايره لري او پر سمبولونو د پاسه يو سور سلايډ لري. دا څرګندې چې تاسو ځينې ګارونه نشئ ترسره کولای، د بېلګې په توګه کيڼ لوري ته نشئ ګرځېدای او د **U** بڼې ګرځېدنه نشئ ترسره کولای.

د تنظيموونکو نښو لپاره نور عام شکلونه په لاندې ډول دي:



د **U**ګرځېدل نه



ښي لوري ته نه را ګرځېدل



کيڼ لوري ته نه را ګرځېدل



سايکلونه نه



لارۍ نه


### درېدل




د درېدو نه سور رنګ لري، سپین توري پرې لیکل شوي او اته اړخونه لري. کله چې تاسو د درېدو نښه ولیدله، نو باید په بشپړه توګه ودرېږئ.

تاسو باید تر هغه وخته پورې په تمه شئ چې موټر او پلي تېریدونکي تول له تقاطع څخه تېر شي. که چېرته د درېدو کرښه موجوده وي، نو تاسو باید هلته ودرېږئ ان که د درېدو له نښې څخه وروسته هم وي. که چېرته د درېدو کرښه نه وي، نو یوه لوري ته شئ او د

تقاطع یوې څنډې ته ودرېږئ، دواړو لارو ته وګورئ، بیا که چېرته وړاندې تګ داډمن و، نو دوام ورکړئ.





a. د درېدو له کرښې څخه مخکې ودرېږئ.
یا...

b. د پلي لارویانو له کرښې څخه مخکې ودرېږئ.
یا...

c. که چېرته د درېدو او یا د پلي لارویانو کرښه نه وي، تقاطع ته له ننوتلو څخه مخکې ودرېږئ.

### د لارې حق ورکول




د لارې ورکولو نښه مثلث دی. دا سرې او سپینې نښې دي، په سره رنګ پرې لیکل شوي دي.

د دې معنا دا ده چې تاسو باید خپل سرعت را کم کړئ په تقاطع یا سړک کې چې تاسو له ترافیکو څخه تېرېږئ، یا هغه سړک چې تاسو ورته ننوځئ.

### ناسم لارې




تاسو په ناسم لوري ګرځېدلي یاست او د مقابل لوري ترافیکو لیکې ته ننوتي یاست. هر څومره ژر او په خوندي ډول چې کېږي د سړک غاړې ته شئ، بېرته را وګرځئ او شا ته لاړ شئ.

### مه ننوځئ





کله چې تاسو دغه نښه د سړک په سر کې ولیدله، نو سړک ته مه ننوځئ.

### یوه لاره




پر ځینو سړکونو او یا رمپونو کې یوازې پر یوه لوري ترافیکو ته د تګ اجازه شته.


### د لیکې کنټرول




دغه نښې یو د ویکتور سیمبول کاروي تر څو تاسو ته ووایي چې د هرې لیکې لپاره تاسو پر کوم لوري تللی شئ. دغه نښې د سړک په اوږدو کې دي یا د سړک د پاسه را ځوړندې وي.

This independent translation is not affiliated with the State of Missouri or any of its agencies.
دا خپلواکه ژباړه د میسوري ایالت یا د هغې کومې اداري پورې تړاو نلري.

**د سرعت حدود**




د سرعت نښې د سرعت هغه لوړه کچه څرګندوي چې د قانون له مخې ورته اجازه وي او د دې معنا دا نه ده چې د سړک په ټولو برخو کې دې تر هر ډول شرايطو لاندې په هماغه يو ډول سرعت موټر وچلول شي. د سرعت حد په عادي حالت کې تر ټولو لوړ مجوز سرعت دی. خپل سرعت د غونډيو، ګولايي ګانو، ښويه سړکونو، د ليد محدود واټن، پلیو لارويانو، سايکلونو او ورو تلونکو موټرو ته په پام سره تنظيم کړئ.

دغه حالات ښايي د سرعت ليکل شوی حد ناخوندي کړي. د قانون له مخې بايد تاسو د حالاتو له غوښتنې سره سم خپل سرعت را کم کړئ. په ايالت کې دننه

لويي لارې هم د سرعت د کمي اندازې حدود لري. که د سرعت دغه کمه اندازه ستاسو لپاره ډېره چټکه وي، نو کولای شئ چې بل مسير وکاروئ. په عادي حالاتو کې تاسو نبايد د ايالت تر منځ لويو لارې کې له 40 ميله پر ساعت کم سرعت سره حرکت وکړئ.

**د ښي لوري نيول**



د لويو لارو په ځينو موقعيتونه کې ترافيکو ته يوازې اجازه وي چې د ځانګړنې او يا خنډ له ښي لوري څخه تېر شي.

لاندې لارښود وکاروئ، مګر دا چې د سرعت ليکل شوي حدود بل ډول لارښوونه کوي.


| سړک | د سرعت لوړ حد |
|---|---|
| د ايالتونو تر منځ د کليوالي ساحو او خلاصې لارې | 70 |
| د کليوالي سيمو لويې لارې | 65 |
| د ايالت تر منځ لويې لارې، خلاصې لارې يا د ښاري سيمو تر منځ لويې لارې | 60 |
| نور ټول هغه سړکونه او لويې لارې چې د ښاري ساحې تر منځ واقع نه وي | 60 |
| هغه سړکونه چې ليکل پرې شوي وي | 55 |

په ښار، ښارګوټي يا کلي کې د سرعت حد 25 ميله پر ساعت دی، مګر دا چې بل ډول ليکل شوی وي. د ميسوري د لويې لارې او ترانسپورت کميسيون دا صلاحيت لري چې د خونديتوب د دلايلو له مخې او يا د ترافيکو جريان ته په کتو سره د سرعت اندازه تر هغې کچې لوړه يا ټيټه وټاکي چې د اعظمي حد په توګه بيان شوې ده. په ميسوري کې د ايالت تر منځ له 1,300 ميله څخه ډېرې لويې لارې دي. د هغوی د سرعت تر ټولو لوړه اندازه 70 ميله پر ساعت ده. د ايالت تر منځ پر لويو لارو د خونديتوب په موخه معمولاً په کليوالي سيمو کې کم سرعتونه ليکل شوي دي، څکه هلته تر ډېره ترافيک سره مخامخ کېږي، سړکونو ته داخلېږي او ترې بهر کېږي.

**له رېل پټلی څخه تېرېدل**




د رېل له پټليو څخه د تېرېدو ډېری ساحې نښې او سيګنالونه لري تر څو موټر چلوونکو ته خبرداری ورکړي. مخکې د خبرداري نښو رونډ تاسو ته وايي چې تاسو د رېل له پټلی څخه د تېريدو ساحې ته نږدې کېږئ. د رېل له کرښو څخه د تېرېدو پر مهال له رېل سره ټکر ونکړئ. تر هغې چې د رېل له کرښو څخه هاخوا ستاسو د موټر لپاره کافي ساحه نه وي، نو له دې کرښو څخه مه تېرېږئ. دا عاقلانه کار نه دی چې د رېل له کرښو څخه د تېرېدو پر مهال ګېر بدل کړئ، يوزې په هغه وخت کې دا کار کولا شئ چې ښايي ستاسو موټر ودرېږي. تاسو به له تېريدو څخه مخکې د سړک نښې هم ووينئ. مخکې د خبرداري نښو رونډ په څېر، د سړک د سر نښې تاسو ته وايي چې د رېل پټلی ته نږدې کېږئ.




د رېل ګاډي د تقاطع په ځای کې یوه X ته ورته سپينه نښه او یا چلیپا موجوده وي. دا نښه د تېرېدو د حق ورکولو نښې په څېر معنا لري، له همدې امله تاسو باید هغه رېل ته د تېرېدو اجازه ورکړئ چې له دې ځایه تېرېږي. تر چلیپا لاندې نښې تاسو ته وایي چې له سړک څخه د رېل څو کرښې تېرې شوې دي.

د تېرېدو په ځینو ساحو کې به د چلیپا د نښې تر څو دوه څنګ په څنګ سره ځراغونه ووینئ چې په متناوب ډول روښانه او مړه کېږي. د تېرېدو په ځینو ساحو کې یوه دوازه هم وي (په ځینو کې یې یوه زنګوله وي) چې د رېل د راتګ په صورت کې را ښکته کېږي. د دغو دوارو سیګنالونو په صورت کې چې د تېرېدو ساحه پرې سمبال ده، تاسو باید ودرېږئ او تر هغې پورې له کرښو څخه نښئ تېریدای تر څو رېل نه وي تېر شوی.

کله مو چې دغه نښې ولیدلې، سرعت مو کم کړئ، رېل وګورئ او درېدو ته ځان چمتو کړئ. که چېرته سره ځراغونه روښانه وو او یا دروازه را ښکته وه، نو تاسو باید ودرېږئ. تاسو باید د رېل له کرښو څخه له 15 تر 50 فوټه واټن کې ودرېږئ. هڅه مه کوئ چې د دروازې تر شا لاړ شئ.
ښایي د رېل تر تللو وروسته هم سره ځراغونه فلشونه ووهي. کله چېرته دوه یا تر دې زیاتې کرښې وي، نو مخکې له دې چې تاسو تېر شئ، دویم رېل وګورئ.


**د کاري ساحې نښې**

د کاري ساحې نښې له نارنجي رنګ سره روښانه شوې وي او ځرګندوي چې د سړک په اوږدو کې یو ډول کار کار ترسره شوي دی. د کاري ساحې نښې اطاعت کړئ او کله مو چې دغه نښې ولیدلې خورا احتیاط کوئ. هلته ښایي د ترافیکو د کنټرول نورې نښې او یا داسې کسان هم وي چې په لاسونو کې یې بیرغونه دي او تاسو ته لارښوونه کوي تر څو په خوندي توګه له کاري ساحې څخه تېر شئ.

که چېرته تاسو په میسوري ایالت کې د بیا رغونې یا کاري ساحې کې په سرعت سره تېر او ونیول شئ، نو په لومړي ځل به لږ تر لږه 250$ جریمه شئ او که دا کار په متعاقب ډول تکرار کړئ نو لږ تر لږه 300$ به جریمه شئ، پر دې سربېره به هر هغه جریمه هم تادیه کړئ چې د قانون

**<u>د Section 304 .582,RSMo له مخې پر تاسو وضعه کېږي.</u>**

د کاري ساحې تر ټولو عامې نښې په لاندې ډول دي:



**د کاري ساحو پېژندنه**

په میسوري ایالت کې د کاري ساحو بېلا بېل ډولونه وي. د دې کاري ساحو تر منځ پر توپیرونو پوهېدل به له تاسو سره مرسته وکړي چې په دغو ساحو کې د موټر چلونې پر مهال باید د څه شي تمه ولرئ. کله چې په کاري ساحو کې موټر چلوئ، نو دغه احتیاطي تدابیر مراعات کړئ:


- خبر اوسئ! د سرعت کمو شویو حدودو، د موټر چلونې نریو لیکو او د لویې لارې کارکوونکو ته وګورئ
- پام کوئ. په بې پامۍ سره موټر مه چلوئ
- د کاري ساحې نښې اطاعت کړئ
- هغو موټرو ته پام کوئ چې کاري ساحې ته ننوځي او ترې وځي

لاندې د کاري ساحو ډېر عام ډولونه دي چې ښايي د میسوري په سړکونو کې یو موټرچلوونکی ورسره مخ شي.

**د اوږې کاري ساحه**

دا هغه کار دی چې په اوږه یا د اوږې تر شا را منځته کېږي. تاسو باید احتیاط وکړئ او لاندې کارونه ترسره کړئ او یا ترې خبر اوسئ:

- د کار ساحې ته په نږدې کېدو سره مو سرعت کم کړئ





**د اوږې د معمولي کار ترسره کول**

د لیکې بندېدل

دا هغه کار دی چې د یوه سړک د سفر پر لیکه را منځته کېږي. تاسو باید احتیاط وکړئ او لاندې کارونه ترسره کړئ او یا ترې خبر اوسئ:

- تیعیین شوې لیکې او یا هغه لیکې ته واوړئ چې کار پکې نه ترسره کېږي
- د کاري ساحې لپاره د سرعت تعیین شوې اندازې ته خپل سرعت را کم کړئ





**د لیکې د معمول بندېدو ترتیب**


د بيرغ خوځولو عمليات

دا کار په دوه کرښيز، دوه طرفه سړک ترسره کېږي چې یوه لیکه یې بنده وي. د کاري ساحې په پیل او پای کې یوبیرغلرونکیکس ولاړ وي ، نوموړی کس را روانو موټرو ته د ترافیکو د کنټرول لپاره لارښوونه کوي. تاسو باید احتیاط وکړئ او لاندې کارونه ترسره کړئ او یا ترې خبر اوسئ:

- کله چې کاري ساحې ته نږدې شوئ، نو درېدو ته چمتو شئ
- د پیرغ لرونکي کس لارښوونې تعقیب کړئ





**د بيرغ د خوځولو د عادي عملياتو ترتيب**




د بیرغ د خوځولو د عادي سټېشن ترتیب


د ګرځنده کار ساحه




دا هغه کار دی چې د یوه سړک د سفر پر لیکه را منځته کېږي.
کارکوونکي ښاې د کار ترسره کولو په موخه خپل موټر د لنډ وخت لپاره را وباسي. تاسو باید احتیاط وکړئ او لاندې کارونه ترسره کړئ او یا ترې خبر اوسئ:

- د کار څو موټرونه چې ورو حرکت کوي او یا ولاړ دي
- د فلش وهونکي غشي د پنل د لوري لارښود تعقيب کړئ
- هغه کارکوونکي چې ښایي پر سړک او یا سړک ته نږدې وي

کله چې د کار ګرځنده ساحې ته نږدې کېږئ، د موټر چلوونکي په توګه باید دا تمه ولرئ چې په لیکه کې یو محافظتي موټر ووینئ او فلش وهونکی د غشي پنل یکې د دې لپاره تعیین شوي وي چې تاسو ته هغه لیکه په ګوته کوي چې باید ورسره یو ځای شئ. په دې ځای کې به یوه نښه هم ابښودل شوې وي، چې معمولاً وایي "SLOW VEHICLES".



**د کرځنده کاري ساحې معمولي ترتيب**

د خونديتوب د کتني د مجاز ستيشن 

نښه

لارښود نښې

دغه نښې د مربع او يا مستطيل شکل لري، شنه يا قهوه يي رنګونه لري او سپين توري پرې ليکل شوي وي. دا ښيلا ښيلو موقعيتونو ته لوري او واټنونه ښيي لکه ښارونه، هوايي ډګرونه او ايالتي کرښې، يا ځانګړو ساحو ته لکه ملي پارکونه، تارخي ځايونه او موزيمونه.

**د خدمت نښې**







دغه نښې د مربع او يا مستطيل شکل لري، آبي رنګونه لري او سپين توري او سيمبولونه پرې ليکل شوي وي. دا د ښيلا ښيلو خدمتونو موقعيتونه څرګندوي لکه د استراحت ساحې او روغتونونه.

**د مسير نښې**

د مسير د نښو شکلونه د سړک ډولونه په ډاګه کوي: د ايالت تر منځ، متحده ايالات، ايالت او يا هيواد. کله چې د سفر تابيا نيسئ، د لويې لارې له نقشې څخه په ګټې اخيستنې سره خپل مسير مشخص کړئ. د سفر پر مهال د مسير نښې تعقيب کړئ. دا به له تاسو سره مرسته وکړي چې ورک نشئ.

د شمال - جنوب مسيرونه په طاقو عددونو په نښه شوي دي. د ختيځ - لويديځ سړکونه په جفتو عددونو په نښه شوي دي. د ايالت تر منځ لويې لارې چې له ښارونو څخه را چاپېرې دي، په جفتو درې رقمي عددونو په نښه شوي دي. هغه سړکونه چې ترافيک د ښاري سړکونو سيستم ته مخامخ کوي (د "spurs" په نوم ياديږي) په درې رقمي طاقو عددونو په نښه شوي دي.

د وتلو پر اعدادو پوهيدل هغه وخت اسانه کيږي چې تاسو پوه شئ چې د ايالتونو تر منځ د لويديځ/ ختيځ سفرونو ته داسې شميرې ورکړل شوي دي چې له لويديځ څخه پيلېږي او د ختيځ پر لور ځي. دا په دې معنا ده چې د وتلو اعداد له صفر څخه پيلېږي او تاسو چې د ختيځ پر لور درومئ، اعداد هم ورسره لوړيږي. د دې برعکس، که تاسو له ختيځ څخه راځئ، نو د لويديځ پر لور اعدا هم کوچني کيږي. د ايالتونو تر منځ چې د شمال/ سويل تر منځ سفر کوئ، د وتلو اعداد په سويل کې پيلېږي او د شمال پر لور چې درومئ، اعداد هم ورسره لوړيږي. که تاسو ايالت ته له شمال څخه ننوځئ او د سويل پر لور درومئ، نو بيا د وتلو اعداد کوچني کيږي.







**<u>د بيړنې وضعيت د مرجع نښې</u>**

د بيړنې وضعيت د مرجعي نښې د ميل نښې دي چې د بهرنۍ اوږې په اوږدو کې ځای پر ځای شوي دي تر څو د سړک غاړه په نښه کړي او موټر چلوونکو ته د مسير موندنې او د بيړنيو وضعيتونو لپاره د هغوی د موقعيتونو په اړه معلومات ورکړي. د مرجع نښې د هر مايل په دويمه لسيزه کې واقع دي، څکه خو به موټر چلوونکي کولای شي ټل دغه نښې ووينې. دا نښې د سفر لوری او د مسير شميره څرګندوي.

د څوکۍ کمربندونه او د ماشوم څوکۍ وکاروئ

مخکې تر دې چې موټر وچلوئ، تل خپل د کمربندونه وتړئ او ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسوټول سورلی د څوکۍ له کمربندونو او د ماشوم له څوکیو څخه استفاده کوي. مطالعو په ډاګه کړئ ده، که چېرته تاسو د څوکۍ کمربندونه وتړلئ، نو د ترافیکي پېښې پر مهال ستاسو د ټپي کېدو او یا مړیني چانس خورا ډېر را ټیټیږي.

کمربندونه باید تل داسې وتړئ چې د ملا کمربند مو له نامه نه ښکته وي او د اوږو کمربند مو پر سینه تېر شوی وي. د اوږو کمربند باید هېڅکله داسې ونه تړئ چې هغه مو تر مټو لاندې او یا د ملا شا ته راشي. که ستاسو موټر د دوه برخیز کمربندسیسټم لرونکی وي، نو ډاډ ترلاسه کړئ چې هم د ملا او هم د اوږو کمربند وتړئ.

ان که ستاسو موټر هوایي کڅوړې (اېر بګونه) هم ولري، نو باید د څوکۍ له کمربند څخه ګټه واخلئ. که چېرته موټر په سټرېنګ، ډېشبورډ، یا د مخې ښیښې ولګېږي، نو دغه کڅوړې په دې صورتونو کې ستاسو محافظت کوي، مګر که چېرته له اړه یا شا ټکر وکړئ او یا مو موټر ورغړي، نو بیا په دې صورت کې مرسته نشي کولای. په دغسې حالاتو کې به هوایي کڅوړه تاسو د سټرېنګ تر شا خوندي نه کړي.

که چېرته یوه سورلۍ په سم ډول ناسته نه وي، نه کېدای شي چې د هوا د کڅوړو د را خلاصېدو په صورت کې سخته ټپي او یا ووژل شي. د لویو لارو د ترافیکو د خوندیتوب ملي اداره موټر چلوونکو ته سپارښتنه کوي چې داسې موټر چلوني ته کېني چې د هغه د سینې د هډوکي او سټرېنګ تر منځ لږ تر لږه لس انچه واټن وي. هغه ماشومان چې عمرونه یې 12 کاله یا تر دې کم دي، باید تل په شاتنۍ څوکې کې کېنول شي. هېڅکله د ماشوم د خوندیتوب څوکۍ چې مخه یې شا ته وي، په داسې مخکینۍ سیټ کې مه ږدئ چې هغه د هوا کڅوړې لري.

که تاسو د ماشوم د خوندیتوب د څوکۍ په اړه نورو معلوماتو ته اړتیا لرئ، نو اړیکه ټینګه کړئ: د ترانسپورت وزارت، د لویو لارو د خوندیتوب څانګه، وېب سایټ: **http://www.modot.gov/**؛ ټلیفون: (800) 800-BELT.

**د څوکۍ کمربند ـــ دا قانون دی**




د میسوري قانون له ټولو موټرچلوونکو او په مخکې سیټ کې له کېناستونکو سورلیو څخه غواړي چې یو مناسب او کلک کمربند وتړي. که څه هم ټول هغه مسافر چې د یوې منځنۍ کچې د موټر چلوني جواز لرونکي کس سره روان وي، نو باید په سمه توګه مهار شوي وي.

**<u>د ماشومو مسافرانو د خوندیتوب قانون</u>**

د قانون له مخې د مشخص عمر، وزن او قد لرونکي ماشومان باید په موټر کې د لېږدولو پر مهال د ماشومانو د لېږدولو د محافظت په سیستم، تقویتي څوکۍ او د خوندیتوب له کمربند سره خوندي کړای شي، مګر دا چې د دندې او یا ښوونځي په عامه بس کې سفر کوي.

**<u>د عمر، وزن او قد طبقه بندي</u>**

- له څلور کلنۍ څخه کم ـ هغه ماشومان چې عمر یې له څلور کلونو څخه کم دی، پرته له دې چې وزن ته یې وکتل شي، باید د یاد ماشوم لپاره مناسب د ماشوم د خوندي کولو له سیستم سره خوندي شي.
- له 40 پونډه څخه کم ـ هغه ماشومان چې وزن یې له 40 پونډه څخه کم دی، پرته له دې چې عمر ته یې وکتل شي، باید د یاد ماشوم لپاره مناسب د ماشوم د خوندي کولو له سیستم سره خوندي شي.

- له اته کلنی څخه ښکته یا چې وزن یې له 80 پونده څخه کم وي او یا له "4'9 څخه ټیټ وي ــ هغه ماشومان چې عمرونه یې لږ تر لږه څلور کاله خو له اته کلونو څخه کم وي، وزن یې لږ تر لږه 40 پونډه خو له 80 پونډه څخه کم وي، او قد یې هم له "4'9 څخه ټیټ وي، باید د ماشوم سورلۍ په سیستم او یا تقویتي څوکۍ کې خوندي شي چې د ماشومانو لپاره مناسبه وي.
- هغه ماشومان چې لږ تر لږه اته کلن وي، یا یې وزن له 80 پونډه څخه زیات وي او یا یې قد له "4'9 څخه لوړ وي ــ هغه ماشومان چې لږ تر لږه اته کاله عمر ولري، لږ تر لږه 80 پونډه وزن ولري یا هغه ماشومان چې له "4'9 څخه یې قد لوړ وي، باید د ماشومانو د کمربند او یا د داسې تقویتي څوکۍ په وسیله خوندي شي چې د ماشومانو لپاره مناسب وي.

د تقویتي څوکۍ د قانون په اړه د نورو معلوماتو لپاره د ترانسپورت وزارت ویب سایټ ته مراجعه وکړئ: **https://www .modot .org/child-safety-seats**.

**دفاعي موټر چلول**

د دې لپاره چې له ټپروټني څخه مخنیوی وشي، یا د بل چا د ټپروټني له امله له په ټکر کې ښکېل شئ، تاسو باید په دفاعي ډول موټر وچلوئ. د دفاعي موټر چلوونکي په توګه تاسو باید:

- خپلې سترګې په خوځښت کې وساتئ. هغه څه چې ستاسو په مخ کې او یا د سړک په څنډو کې پېښېږي، پام ورته کوئ او په هرو څو ثانیو کې خپل تر شا ساحه په عقب هېندارو کې ګورئ. را روانو موټرو ته ځانګړې پاملرنه کوئ. ډېری مخامخ ټکرونه د هغو موټر چلوونکو له امله رامنځته کېږي چې په بې باکۍ سره له مرکزي کرښې څخه تېرېږي.
- له نورو موټر چلوونکو څخه د تېروتني تمه ولرئ او داسې فکر وکړئ، که تېروتنه کېږي، نو تاسو به څه کوئ. د بېلګې په توګه کله چې یو موټر د درېدو نښې ته روان وي، اټکل مه کوئ چې هغه به ودرېږي. که چېرته هغه نه درېږي، نو تاسو غبرګون ته چمتو اوسئ. هېڅ وخت په قصدي ډول ټکر ونکړئ، ان که پلي لارویانو یا نور موټر تاسو ته د تېرېدو د تقدم حق هم درنکړي.
- پر ترافیکي نښو او سېګنالونو دا تکیه مه کوئ چې نور به ستاسو په مخه کې له تېرېدو څخه منع کوي. ځیني موټر چلوونکي ښايي ترافیکي سېګنالونه او نښې اطاعت نکړي. په تقاطع کې کیڼ او ښي لوري ته وګورئ، ان که نورو ترافیکو ته سورڅراغ یا د درېدو نښه هم روښانه شوی وي.

**د موټر چلونې پر مهال د بدن مناسب وضعیت**

دا چې تاسو څه ډول کېنئ او څه ډول سټېرېنګ نیسئ، دا ستاسو پر موټر چلولو اغېزه کوي. مناسب بدني وضعیت له تاسو سره مرسته کوي چې با خبره اوسئ او پر موټر مو ښېړ کنټرول ولرئ.

- خپل شا نېغه کړئ، عمودي او په څوکۍ کې آرام کېنئ.
- خپله څوکۍ په کافي اندازه نږدې کړئ تر څو په اسانۍ سره پېډلونو ته ورسېږئ، مګر دومره لرې کېنئ چې کله سټېرېنګ نیسئ، نو څنګلې مو باید ستاسو په مخه کې وي.
- دواړه پښې مو ځمکې ته ورسوئ تر څو کنټرول ولرئ.
- دواړه لاسونه مو پر سټېرېنګ کېږدئ.

**سټیرېنګ**

له مناسب ګریپ څخه کار واخلئ. کیڼ لاس مو د اووه او نهه بجو په موقعیت کې کېږدئ او ښي لاس مو د درې او پنځو بجو په موقعیت کې پر سټیرېنګ کېږدئ. دا حالت راحت دی او تاسو ته فرصت درکوي پرته له دې چې خپل لاسونه له سټیرېنګ څخه پورته کړئ ډېر یې وګرځوئ.

په سمه توګه ښه وړاندې سړک ته وګورئ، یوازې ستاسو د موټر مخېسړک ته مه ګورئ. د ترافیکو وضعیت ته ګورئ چې تاسو باید هلته له رسېدو څخه وړاندې سټیرېنګ تاو کړئ او که مو سرعت را کم کړئ.

کله چې څنډو ته ګرځئ، سټیرېنګ د لاس له پاسه لاس تخنیک په وسیله و ځرخوئ. سټیرېنګ یوازې د لاس په ورغوي مه څرخوئ، ځکه کېدای شي تاسو کنټرول له لاسه ورکړئ. کله چې تاسو را ګرځېدنه بشپړه کړه، نو سټیرېنګ په لاس سره سیده کړئ.

د سټیرېنګ د ویل د قفل کولو وسیله ـــ کله چې ستاسو موټر لا په حرکت کې وي، کلي ګاني د موټر د قفل کولو په ځای کې مه ږدئ. که چېرته تاسو هڅه وکړئ چې سټرېنګ وڅرخوئ، نو هغه به قفل شي او تاسو به پر خپل موټر کنټرول له لاسه ورکړئ.

**د نورو موټرو تعقیبول**

ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو د موټر او له تاسو څخه مخکې موټر تر منځ د خوندیتوب واټن وساتئ. تاسو د درېدو او را ګرځېدو لپاره یوه خوندي واټن ته اړتیا لرئ، تر څو له ټکر څخه مخنیوی وشي. له شا څخه ټکرونه ډېر عام دي. دا د هغو موټر چلوونو له امله را منځته کېږي چې په نورو پسې ډېر نږدې روان وي او کله چې دوی مخکې موټر په ناڅاپي توګه ودرېږ، نو دوی پر وخت سره نشي درېدای.

**درې دویم قانون**

ستاسو د تعقیبولو د خوندي واټن د اندازه کولو غوره لاره دا ده چې له "درې دویم قانون" څخه کار واخلئ. وړاندې سړک ته نږدې یو شی غوره کړئ که یوه نښه یا د ټلیفون ستنه. کله چې له تاسو څخه مخکې موټر ترې تېر شو، ورو له ځان سره حساب وکړئ، "یو سل او یو، یو سل او دوه، یو سل او درې". که چېرته تاسو هغه نښه شوي شي ته د حساب له ختمولو څخه مخکې ورسېدئ، نو تاسو مخکې موټر ته ډېر نږدې یاست.

**تر شا واټن**

دا تل اسانه نه وي چې د خپل موټر تر شا خوندي واټن وساتئ. مګر که چېرته تاسو خپل سرعت ثابت وساتئ او د سرعت د کمولو پر مهال له مخکې نه موټر چلوونکي ته سېګنال ورکړئ، نو له هغه سره به په خوندي واټن ساتلو کې مرسته وکړئ. د خوندیتوب دغه لارښوونې تعقیب کړئ:

- هڅه وکړئد سورلۍ د پورته کولو یا ښکته کولو لپاره له ترافیکو څخه بهر یو خوندي ځای ومومئ.
- که چېرته تاسو غواړئ خپل موټر په موازي ډول پارک کړئ او تر شا مو ترافیک را روان وي، نو خپل د ګرځېدو سېګنال روښانه کړئ، څنډې ته شئ او مخکې تر دې چې تاسو خپل موټر پارک کړئ، پرېږدئ چې موټر تېر شي.
- کله چې تاسو اړ یاست چې باید ډېر ورو موټر وچلوئ او له دې کار سره د نورو موټرو سرعت کمېږي، نو که چېرته خوندي وي د سړک غاړې ته شئ او هغوی ته اجازه ورکړئ چې تېر شي. په ځینو دوه کرښیزو سړکونو کې د بهر کېدو لپاره ځایونه شته چې تاسو کولای شئ ترې ګټه واخلئ. نور دوه کرښیز سړکونه ځینې وخت د مخکې کېدو لیکې هم لري.
- که چېرته تاسو د بل موټر چلوونکي له لوري ډېر نږدې څارل کېږئ یا درسره لګېږي او ښي لوري ته مو لیکه وي، نو ښي لیکې ته بې ځایه شئ. که چېرته ښي لوري ته کرښه نه وي، صبر وکړئ تر څو ستاسو په مخکې سړک صاف شي او خپل سرعت په تدریج سره ډېر کړئ. له دې سره به ستاسو تر شا موټر چلوونکی وهڅول شي چې ستاسو په څنګ کې موټر وچلوي. هېڅکله د دې لپاره په ناڅاپي ډول سرعت مه را کموئ تر څو ستاسو تر شا موټر چلوونکی ورټل شي. دا کار به یوازې د دې خطر زیات کړي چې د شا له لوري ټکر وکړئ.

**اړخ ته واټن**

تاسو باید د خپل موټر په دواړو اړخونو کې واټن پرېږدئ، تر څو د را ګرځېدو او یا لیکې د بدلولو لپاره فرصت ولرئ.

- په څو کرښیز سړک کې د نورو موټرو تر مخکې له موټر چلونې څخه ډډه وکړئ. ښایي کوم څوک ستاسو مسیر ونیسي یا خپله کرښه بدله کړي او ستاسو پر لور را وخوځېږي. وړاندې لاړ شئ یا د بل موټر شا ته شئ.
- ستاسو او د را روانو موټرو تر منځ چې هر څومره واټن ساتلی شئ، ویې ساتئ. په دوه کرښیز سړک کې د دې معنا دا ده چې د منځ پر کرښه باید ګڼه ګوڼه نشي. په عموم کې، ډېره خوندي لار دا ده چې د خپلې لیکې په مرکزي برخه کې موټر وچلوئ.
- هغو موټرو ته فرصت را منځته کړئ چې څو کرښیز سړک ته ننوځي. که چېرته تاسو تر څنګ کرښه کې موټر نه وي، نو هغه کرښې ته واوړئ.
- د خپل موټر او پارک شویو موټرو تر منځ اضافي واټن وساتئ. کېدای شي کوم څوک له پارک شوي موټر څخه را ووځي، یا د موټرو له منځ څخه راووځي، یا کېدای شي یو پارک شوی موټر بیرون را ووځي.

● پلیو لارویانو یا سایکل چلوونکو ته اضافي واټن ورکړئ، په ځانګړي توګه ماشومانو ته. کېدای شي هغوی په چټکۍ سره پرته له خبرداري ستاسو لیکې ته را واوړي. صبر وکړئ تر څو مخکې کېدل خوندي شي.


● که امکان لري، نو بالقوه خطرونه یو په وخت کې واخلئ. د مثال په توګه،که چېرته تاسو له یوه سایکل څخه مخکې کېږئ او له مقابل لوري څخه موټر را روان وي، نو سرعت مو کم کړئ، پرېږدئ چې موټر تېر شي تر څو وکولای شئ سایکل ته اضافي ساحه ورکړئ.

**د درېدو واټن**

ستاسو د درېدو واټن ستاسو د غبرګون جمع ستاسو د بریک کولو له واټن سره مساوي دی. که تاسو په چټکۍ سره موټر چلوئ، ډېر سترې یاست، د موټر بریکونه مو ښه نه وي، نو د خپل موټر د درولو لپاره به ډېر واټن ته اړتیا لرئ.

لاندې واټن مساوي دی ستاسو د غبرګونواټن جمع ستاسو د موټر د بریک کولو له واټن سره په بېلا بېلو سرعتونو کې. د غبرګون واټن هغه واټن دی چې تاسو د یوه خطر له لیدلو وروسته مخکې تر دې چې بریک ونیسي دا واټن وهئ. په لاندې جدول کې چې ښودل کېږي، د غبرګون واټن 1.5 ثانیې دی. تاسو باید څک اوسئ چې په یوه نیمه ثانیه کې غبرګون وښئ.

د بریک واټن هغه واټن دی چې تاسو یې له بریک نیولو څخه وروسته، مخکې تر دې چې ستاسو موټر په بشپړه توګه ودرېږي طی کوئ. په لاندې جدول کې چې ښودل کېږي د بریک نیولو واټن د هغو موټرو لپاره دی چې ښه بریکونه او ټایرونه لري، په ښه هوا او ښه سړک کې.




**د سړک پر وچه سطحه د موټرو د درېدو اوسط واټن چې نورو ته فرصت ورکوي تر څو پوه شي چې تاسو څه کوئ**

عموماً،په ټوله کې نور موټر چلوونکي له تاسو څخه تمه لري چې هغه څه ته دوام ورکړئ چې ترسره کوئ یې. کله چې تاسو غواړئ خپل لوری بدل کړئ او یا مو سرعت کم کړئ، باید هغوی ته سیګنال ورکړئ.

دا کار به هغوی ته وخت ورکړي تر څو غبرګون وښي چېتاسو څه کوئ.

**کله چې تاسو خپل لوری بدلوئ نو سیګنال ورکړئ.**

مخکې له دې چې خپله لیکه بدله کړئ، ښي یا کیڼ لوري ته وګرځئ، له ترافیکو سره یو ځای شئ او یا خپل موټر پارک کړئ، نو باید سیګنال وکاروئ.

● هر ځل چې تاسو خپل لوری بدلوئ، نو په سیګنال ورکولو ځان عادت کړئ. ان که تاسو په خپل شا و خوا کې کوم څه نه وینئ، هم باید سیګنال ورکړئ. دا اسانه ده چې داسې څوک له یاده وباسئ چې غواړي پوه شي تاسو څه کوئ.

● هر څومره ژر چې کولای شئ سیګنال ورکړئ. هڅه وکړئ له حرکت ترسره کولو څخه 100 فوټه مخکې سیګنال ورکړئ. که ستاسو او هغه ځای تر منځ چې غواړئ ورننوځئ نور سړکونه، د موټر لارې، یا د ننوتلو لارې وي، نو په تمه شئ تر څو له هغوی څخه تېر شئ او بیا سیګنال ورکړئ.

● که چېرته اټکل وي چې ستاسو او د هغه ځای تر منځ چې ورګرځئ، کوم موټر وي، نو صبر وکړئ چې له هغه څخه تېر شئ تر څو د ګرځېدنې لپاره سیګنال ورکړئ.

- کله چې تاسو را وګرځېدئ او یا مو لیکه بدله کړه، ډاډ ترلاسه کړئ چې خپل د ګرځېدو سېګنال بند کړئ. له وړې ګرځېدنې څخه وروسته به سېګنال په خپله بند نشي. که چېرته پخپله بند نشو، نو تاسو یې بند کړئ. که تاسو دا کار ونکړئ، بل موټر چلوونکی به فکر وکړي چې تاسو غواړئ بیاځلي وګرځئ.

**ستاسو د هارن کارول**

تر هغې چې هارن کولو ته اړ نشئ، مه یې کاروئ. که تاسو له اړتیا پرته هارن وکاروئ، نو ښايي د نورو موټر چلوونکو پام پر بله واړوي او د ترافیکي پېښې لامل شي. د هارن د کارولو لپاره یوازې یو دلیل شته: تر څو نورو موټر چلوونکو ته خبر ورکړئ. له هارن څخه نباید د غوسې او یا ناهلیی د څرګندولو لپاره کار واخیستل شي.

**د ”ورو پوک“ موټر چلول**

دا ستاسو لپاره د قانون خلاف دی چې په عادي شرایطو کې د سرعت له تعیین شوي حد څخه ورو موټر وچلوئ. که تاسو په بدو هوا حالاتو، ترافیکي ګڼې ګوڼې او یا ناسم سړک موټر چلوئ، نو کولای شئ چې د سرعت له کمې اندازې څخه ورو موټر وچلوئ.

که چېرته د سرعت تر ټولو کمه اندازه نه وي ذکر شوې، دا لا هم غیرقانوني ده چې دومره ورو موټر وچلوئ چې د ترافیکو جریان بند کړي. که تاسو اړ یاست چې ډېر ورو موټر وچلوئ او موټر ستاسو تر شا لیکه شوي وي، یو لوري ته شئ او اجازه ورکړئ چې له تاسو څخه مخکې شي. ډېری ترافیکي پېښې له دې امله رامنځته کېږي چې ورو موټر چلوونکي د نورو ترافیکو لاره بندوي. په یاد ولرئ چې ورو حرکت تل خوندي نه وي.

**کاربن مونو اکساید**

خبر اوسئ چې د کاربن مونو اکساید ګاز مو مسموم نه کړي. د موټر ماشین کاربن مونو اکساید ګاز تولیدوي او دا یو وژونکی ګاز دی. د دې لپاره چې د کاربن مونو اکساید مخنیوی وشي:

- په ګراج کې موټر روښانه مه پرېږدئ.
- کله چې خپل موټر پارک کوئ، نو په داسې حال کې یې روښانه مه پرېږدئ چې کړکۍ بندې وي.
- په پارک شوي موټر کې چې کړکۍ یې بندې وي، بخارۍ او ایر کنډېشنر مه کاروئ.
- کله چې بل موټر له نږدې تعقیبوئ، کړکۍ خلاصې مه پرېږدئ.
- د غږ له چوپ کوونکي او یا د اګزوز له خراب سیستم سره موټر مه چلوئ.

**د هوسۍ - موټر له ټکر څخه د مخنیوي لپاره لارښوونې**

تاسو کولای شئ د لاندې احتیاطي تدابیرو په ترسره کولو سره له هوسۍ سره د خپلې ښکېلتیا احتمال را کم کړئ:

- کله چې له داسې سیمو څخه تېرېږئ چې هلته له هوسیو سره د ټکر نښې لګېدلې وي، نو هلته ځانګړې احتیاط او پام کوئ.
- هوسۍ په ندرت سره یوازې سفر کوي. که چېرته تاسو وینئ چې یوه هوسۍ له سړک څخه تېرېږي او یا خبرېږئ چې کومې هوسۍ تکر کړی دی، نو په همدې خوا او شا کې نورې هوسۍ ګانې هم شته.
- په هغو ځایونو کې ځانګړې پاملرنه کوي چې هوسۍ پکې را ټولېږي، لکه کروندې، نهرونه او باغونه.
- له هوسیو سره ډېری ټکرونه په جنوري، مې او له کتوبر څخه تر ډسمبر پورې را منځته کېږي.
- د لوړ خطر وختونه له لمر پرېواته څخه تر نیمې شپې پورې وي او له لمر خاته څخه لږ وروسته او وړاندې ساعتونه هم دي.
- د هوا له تیاره کېدو څخه وروسته، که چېرته تاسو ته مخامخ ترافیک نه وي، نو له پیاوړې نور څخه استفاده وکړئ. لوړ نور به پر سړک او سړک ته څېرمه هوسۍ سترګې روښانه کړي او موټر چلوونکي ته به د غبرګون لپاره ډېر فرصت ورکړي.
- په ټکرونو کې له سخت زیان څخه د مخنیوي لپاره، ډاډ ترلاسه کړئ چې د موټر ټولو سورلو کمربند تړلی دی او ماشومان په مناسبه توګه د ماشوم د خوندي کولو په سیټ کې کېنول شوي دي.

- که چېرته تاسو وینئ چې د یوه ټکر مخنیوی ناشونی دی، نو مه منحرف کېږئ. له سرک څخه اوښتل او یا د مقابل لوري موټر مسیر ته تلل ښایي د زیانمنېدنې خطر لا ډېر کړي.
- مخکې له دې چې خپل سرعت په ناڅاپي ډول را کم کړئ، ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو تر شا نور ترافیک نشته. که چېرته پر بریک ډېر فشار راوړل شي، نو ښایي د موټر مخه ډېره ټیټه شي، د هوسۍ له پښو سره ټکر وکړي او د هوسۍ بدن پورته د سورلۍ د ناستې ځای ته ولوېږي.
- که تاسو په کوم ټکر کې ښکېل یاست:
  - د ټکر په اړه د قانون د پلي کولو ځایي اداري ته خبر ورکړئ؛
  - د پولیسو یو راپور ترلاسه کړئ (که اړتیا وي) تر څو ستاسو د بیمې د کمپنۍ لپاره د خسارې غوښتنه ثبت کړئ؛ او
  - د میسوري د ساتنې د ډیپارټمنټ له یوه استازي سره اړیکه ټینګه کړئ تر څو خبر ورکړئ چې ټکر په کوم ځای کې رامنځته شوی دی. دا به د هغو ساحو په پېژندلو کې مرسته وکړي چې له هوسۍ سره د ټکر پېښې پکې په تکراري بڼه را منځته کېږي.

**په بې پامۍ سره موټر چلول**

موټر چلول داسې یو مهارت دی چې بشپړې پاملرنې ته اړتیا لري تر څو په خوندي ډول خپل موټر وچلوئ او هغو پېښو ته ځواب ووایئ چې ستاسو په شا و خوا کې را منځته کېږي. په موټر چلونه کې ستاسو د ذهن او بدن تر منځ دوامداره او پېچلې همغږي موجوده وي. هغه پېښې او شیان چې تاسو په خوندي ډول موټر چلونې څخه منع کوي، دا د فکر ګډوډي ده. د فکر ټولې ګډوډیانې د موټر چلوونکي، سورلۍ او د لارویانو خوندیتوب په خطر کې اچوي. په دغه ډول فکري ګډوډیو کې لاندې موارد راځي خو تر دوی نه محدودېږي:

- پیغام لیکل
- موبایل او ځیرک ټیلیفون کارول
- خوړل او څښل
- له سورلیو سره خبرې کول
- د راډیو، CD او یا 3MP غږوونکي تنظیمول
- سینګار کول
- لوستل، د نقشو په ګډون؛
- د ویډیو کتل
- په انټرنټ کې پلټنې
- د مسیر موندنې له سیستم څخه ګټه اخیستل

دا چې د پیغام لیکل بصري، لاسي او د پېژندنې پاملرنې ته اړتیا لري، له همدې امله د موټر چلوونکي د فکر په بله کولو تر ټولو لوی عامل دی. هغه کسان چې عمرونه یې 21 کاله یا تر دې لوړ وي، د هغوی لپاره د موټر چلونې پر مهال د لیکلي یا برېښنایي پیغام، لوستل، لیکل او یا استول د قانون خلاف عمل دی.

**آیا ستاسو فکر بل لور ته اوړي؟**

- د ماشومانو، ملګرو او کورنیو ژویو تر منځ څه شی شریک دي؟ کله چې تاسو موټر چلوئ، نو دا ټول کېدای شي په ګواښونکې توګه ستاسو فکر بل لوري ته واړوي.
- خپلو ماشومانو ته روزنه ورکړئ چې موټر چلول یوه مهمه دنده ده او کله چې تاسو موټر چلوئ، نو باید پام کوئ. که چېرته غواړئ خپلو ماشومانو ته رسیدنه وکړئ، نو خپل موټر یوه خوندي ځای ته کړئ. هڅه مه کوئ چې د موټر چلونې پر مهال خپلو ماشومانو ته رسیدګي وکړئ.
- د ملګرو تجمع چې په لوړ غږ خبرې کوي، د موسیقۍ د انتخاب پر سر استدلال کوي او یا شوخي کوي، نو دا هم ستاسو د فکر د ګډوډولو لامل کېدای شي. استدلال او نور هغه بحثونه چې فکر ګډوډوي، باید په یوه خوندي او مناسب ځای کې ترسره شي، نه دا چې ستاسو د موټر چلونې پر مهال وشي.
- یو خلاص کورنی ژوی په موټر کې ډېر خطرناک تمامېدای شي. کله چې موټر چلوئ، نو خپل کورني ژوی د ژویو د لېږدولو آلې، د لېږدونې وړ ځالې او یا په ځانګړې توګه طراحي شوي مهار څخه په استفادې ځای پر ځای کړئ. کله چې موټر چلوئ، نو کورني ژوی ته مو اجازه مه ورکوئ چې پر ورنونو مو کېني.

**د څېږو بدلول کولای شي ستاسو فکر واړوي**

- د موټر د مسیر موندنې په سیستم کې د مطلوب موقعیت ځای پر ځای کول، د ښو سندرو لپاره د راډیو ګانو لټول، یا ستاسو د موټر د اقلیم کنټرولول هغه فعالیتونه دي چې ستاسو فکر ګډوډولای شي او کېدای شي چې له امله یې ټکر وکړئ او یا ټکر ته نږدې شئ.

په موټر کې د انټرنټ شتون او په ځیرک موبایل او نورو د لیږدو وړ آلو کې برېښنالیک ته لاسرسی د فکر ګډوډوالی زیاتوي او که چېرته په دغو فعالیتونو کې د موټر چلونې پر مهال ښکېل شئ، نو ستاسو د ټکر خطر به زیات شي.

- مخکې له دې چې موټر چلول پیل کړئ، د موټر کنټرولونه تنظیم کړئ (د اقیم، هېندارو، راډیو، څوکیو او نورو کنټرولونه).
- مخکې له دې چې موټر چلول پیل کړئ، خپل ایمېل، وایس مېل او نور د لیږدولو وړ وسایل وګورئ او یا یې هغه وخت وګورئ چې موقعیت ته ورسېدئ.
- د خپل ګرځنده ټلیفون ته اتومات پیغام تنظیم کړئ تاسو د موټر چلونې په حال کې یاست او بېرته به هغوی ته زنګ ووهئ.
- له عادي تمځایونو څخه د کنټرولونو د تنظیمولو لپاره ګټه واخلئ.
- له خپلې سورلۍ څخه غوښتنه وکړئ چې راډیو، د هوا کنټرول، د مسیر موندنې سیستم او داسې نور درته تنظیم کړي.

**کتل وژل کولای شي ...**

د موټر چلولو پر مهال له کړکۍ څخه د باندې کتل چې له څه نه مخکې کېږئ، نو دا کاربه ستاسو فکر په بله واړوي په ځانګړي توګه کله چې تاسو لاندې مواردو ته په ځیر وګورئ:

- د ترافیکي پېښې صحنه
- یو موټر څنډې ته کړای شوی وي
- د قانون د پلي کوونکي په وسیله
- یوه ښکلې منظره
- تبلیغاتي بېلبورډ
- د سړکونو نومونه او پتې
- د رغونې کار

تل پر خپل موټر چلونې تمرکز کوئ. دا ډېره مهمه ده چې په سړک کې څک اوسئ تر څو په خوندیتوب سره خپل مقصد ته ورسېږي.

**د ټایر فشار**

مخکې له دې چې موټر ته ننوځئ، خپل د ټایر هوا د توصیه شوي PSI په وسیله وګورئ (پونډ پر اېنچ مربع) چې د موټر د مالک په کتابچه او یا د موټر چلوونکي په لور د دروازې په اړخ کې موقعیت لري. د خپل psi د کتلو لپاره د ټایر له فشار معلوموونکي آلې څخه ګټه واخلئ. که چېرته ستاسو psi له هغې شمېرې څخه لوړ وي چې د موټر د مالک په کتابچه او یا د دورازې تر څنګ بکس کې ذکر شوې ده، نو هوا وباسئ تر څو له دې اندازې سره برابره شي. که چېرته تر دې کمه وي، نو هوا ور اضافه کړئ (یا د هوا له متخصص څخه مرسته وغواړئ) تر څو مناسبې اندازې ته ورسېږي.

کولای شئ د آج ژوروالی د پیني ټېسټ په وسیله اندازه کړئ. په هره میاشت کې یو ځل یا مخکې له دې چې یو اوږد سفر پیل کړئ، خپل د موټر ټایلون د سولیدو او زیانمنیدو له پلوه وګورئ. د سولیدنې اسانه لار دا ده چې پیني ټېسټ وکاروئ.

- یوه پیني راواخلئ او ابراهام لېنکلن مو د غټې ګوتې او
- د شهادت د ګوتې تر منځ کېږدئ.
- پر خپل ټایر یوه نقطه وټاکئ چې ښکاري هغه ځای به د آج تر ټولو ټیټه نقطه وي او د لېنکلن سر په یوه رخه کې ځای پر ځای کړئ.
- که چېرته د لېنکلن د سر کومه برخه په آج سره وپوښل شوه، نو تاسو د آج له ډاډمنې اندازې سره موټر چلوئ. که ستاسو د آج اندازه تر دې ښکته وي، (د اېنچ نږدې 32/2 مه برخه) نو د سړک د نامساعدو شرایطو په صورت کې به د سړک د نیولو لپاره ستاسو د موټر وړتیا کمه وي.

**کله چې د قانون د پلي کوونکو له لورې ودرول شئ، نو څه باید وکړئ او څه تمه به ولرئ**

د قانون د پلي کولو افسران ترافیک دروي ځکه هغوی ګوري چې ترافیکي سرغړونې او په ندرت سره د پولیسو پلټنې هم ترسره کېږي. د قانون د پلي کوونکي افسر له لورې درول ښايي یوه له سترس څخه ډکه تجربه وي، مګر که یوه شئ چې د درول کېدو په صورت کې څه وکړئ، دا به ستاسو، نورو موټر چلوونکو او د افسر د خوندیتوب په ډاډمنولو کې مرسته وکړي.

کله مو چې د خپل تر شا د بېړني وضعیت څراغونه ولیدل، ارام ودرېږئ، خپل د ګرځېدو سېګنال روښانه کړئ او هر څومره ژر او په خوندیتوب سره چې شوني وي د سړک څنډې ته شئ. ماشین او راډیو بند کړئ او تر هغې پورې په خپل موټر کې کېنئ چې افسر درته ووایي بیا ښکته شئ. لاسونه مو د موټر پر سټرېنګ کېږدئ تر څو په اسانی سره ولیدل شي. خپلو سورلیو ته ووایئ چې ارام کېني، په موټر کې پاتې شي او لاسونه په داسې ځای کې کېږدي چې په سمه توګه ښکاره شي. خپل ټول پام د ترافیکو افسر ته واړوئ. تاسو او ستاسو کومه سورلۍ نباید موبایل او ټلیفون وکاروئ. ناڅاپي حرکت مه کوئ او مه د موټر چلوني جواز او د موټر نور سندونه لټوئ ـ افسر ته په تمه شئ چې لارښووني درته وکړي. که چېرته په موټر کې درسره وسله (وسلې) وي، نو په لومړي پړاو کې افسر ته خبر ورکړئ.

که چېرته شپه وي، نو ستاسو له درېدو وروسته ښایي افسر ستاسو د موټر پر لور رڼا واچوي. کله چې ودرېدئ، د دې لپاره چې په لیدنه کې مرسته وکړئ، دنني څراغونه روښانه کړئ څومره ژر چې تاسو ودرېږئ تر څو افسر ستاسو د موټر منځ وګوري.

افسر به د معمول په څېر تاسو ته ستاسو د درولو لامل ووايي او د سفر په اړه به مو له تاسو څخه پوښتنې وکړي. که چېرته د فسر په تن یونیفورم نه وي، نو هغوی به تاسو ته د قانون د پلي کولو باور لیک وښیي او یا به تاسو له هغوی څخه وغواړئ چې درته ښکاره یې کړي. ټولې هغه لارښووني تعقیب کړئ چې افسر یې تاسو او یا ستاسو سورلیو ته درکوي. ښایي افسر له تاسو څخه د موټر چلوني جواز، د بیمې سند او یا د موټر د ثبت او راجسترېشن د سند د لیدلو غوښتنه وکړي. که چېرته سندونه ستاسو له لاسرسي څخه لرې وي، مخکې تر دې چې ترلاسه یې کړئ، افسر ته ووایئ چې هغه چېرته دي. که چېرته تاسو پوښتنې لرئ په ادب سره یې د وضاحت لپاره وپوښتئ. که چېرته افسر تاسو ته ووېل چې له موټر څخه ښکته شئ، نو په خوندیتوب سره له ترافیکو ګوښه شئ او لاسونه مو داسې ونیسئ چې په سمه توګه ولیدل شي.

کله چې افسر له تاسو سره خبرې اترې پای ته ورسوي، نو یوه اخطاریه یا ترافیکي ټکټ به درکړي چې ښایي جریمه هم پکې شامله وي. افسر به په معمولي توګه تاسو ته ووایي چې څه اقدام شوي. که تاسو پوښتنې لرئ، په ادب سره یې له افسر څخه وپوښتئ تر څو وضاحت درکړي. که تاسو د ټکټ درکولو په اړه د افسر له پرېکړې سره مخالف یاست، له هغه سره په استدلال کولو خبرې مه اوږدوئ. که چېرته د ټکټ درکولو له امله نیوکه لرئ، نو تاسو ته به په محکمه کې فرصت درکړل شي تر څو روښانه کړئ چې څه پېښ شوي دي. ستاسو له لوري د ترافیکي ټکټ منل او پرې لاسلیک کول پر ګناه ستاسو اعتراف نه دی؛ که چېرته تاسو پر ترافیکي ټکټ له لاسلیک کولو څخه ډډه وکړئ، نو ښایي د دې کار په پایله کې ونیول شئ. که تاسو باور لرئ چې افسر نامناسب چلن کړی دی، د هغه چلن مستند کړئ او په مناسب فرصت کې یې د هغه/ هغې اېجنسۍ ته په اړه راپور ورکړئ. د افسر او د قانون د پلي کوونکي اېجنسۍ نوم به پر ټکټ لیکل شوی وي، یا تاسو کولای شئ له هغه/ هغې څخه وغواړئ چې معلومات درکړي.

د ترافیکو د قانون پلي کول د ناخوندي موټر چلوني د بدلولو او د ترافیکي پېښو د کچې د را کمولو لپاره یوه اغېزناکه وسیله ده. که تاسو د یوې ترافیکي سرغړونې له امله کوم خبرداری یا ټکټ ترلاسه کوئ، د دې موخه دا ده چې د غیرقانوني او یا غیرخوندي چلند مخنیوی وشي. د ټولو لوریو ښې خبرې اترې کولای شي یو ترافیکي توقف د ټولو ښکېلو خواوو لپاره پر یوې خوندي تجربې بدل کړي.

که تاسو د ترافیکي توقف موضوع یاست، نو قانوني حقونه لرئ چې د اساسي او قوانینو له لوري درکړل شوي دي. په دې کې د نامعقولو پلټنو او توقیف څخه د ازادۍ حق، په زوره د خپل ځان د متهم له متهم کولو څخه د ازادۍ حق، چې په عام ډول ورته د چوپتیا د اختیارولو حق وایي او د وکیل لرلو حق. که تاسو د دې او نورو حقونو په اړه پوښتنې لرئ، هیله ده له یوه مجوز وکیل سره مشوره وکړئ چې په میسوري ایالت کې فعالیت لري.

په شپه کې موټر چلول

په شپه کې موټر چلول د ورځې پر مهال له موټر چلونې څخه ډېر ستونزمن دي. د مخې له څراغونو سره تاسو دومره واټن نشئ لیدلای لکه په ورځ کې چې یې وینئ او د سړک په غاړو کې ستاسو د لید ساحه محدودوي. د راتلونکو د څراغونو رڼا د سړک لیدل ډېر ستونزمنوي.

په شپه کې د موټر چلولو لپاره تاسو باید:

- ډاډ ترلاسه کړئ چې کړکۍ مو پاکې دي:
- د لمر له لوېدو څخه ½ ساعت وروسته له لمر ختو څخه ½ مخکې وخت پورې خپل د مخې څراغونه روښانه وساتئ.
- ډاډ ترلاسه کړئ چې د مخې څراغونه مو پاک دي او سم کار کوي. وخت پر وخت یې چېک کوئ چې سم کار کوي کنه.
- که چېرته تاسو ته مخامخ بله نقلیه واسطه نه وي، نو له تېزو څراغونو څخه کار اخلئ.
- خپل د مخې څراغونه د ډېر وخت لپاره مه روښانه کوئ. تاسو کولای شئ خپل د مخې د څراغونو په مرسته یوازې 350 فوټه واټن وګورئ. ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو په کافي اندازه ورو حرکت کوئ، تر څو د اړتیا په صورت کې ودرېږئ او یا وګرځئ.
- کله چې تاسو له مقابل لوري څخه را روانې واسطې ته 500 فوټه (نږدې یو بلاک) نږدې شوئ، نو له کمې روښنایۍ لرونکو څراغونو څخه ګټه واخلئ. کله چې تاسو په 300 فوټه واټن کې کوم بل موټر تعقیبوئ هم له کمې روښنایۍ لرونکو څراغونو څخه ګټه واخلئ.
- که تاسو د تعیینلوي پوسټ شوي سرعت په وروستي حد کې موټر چلوئ او ګولایي ته ورسیدئ، نو سرعت مو را کم کړئ.
- د څنډې له کرښې څخه د یوه لارښود په توګه ګټه واخلئ. که چېرته په څنډه کې کرښه نه وي، له مرکزي کرښې څخه د لارښود په توګه کار واخلئ.
- ویښ او څک اوسئ. که چېرته د ستړیا احساس کوئ، موټر مه چلوئ.
- په ځیر سره د لویې لارې نښې وګورئ، ځکه چې په شپه کې د هغوی لیدل ستونزمن دي.
- خلک او موټر چې د سړک په څنډو کې ولاړ دي، په احتیاط سره ورته وګورئ.

**د مخې د څراغونو کارول**

که چېرته د هوا حالات داسې وي، چې باید له ښیښه پاکونو څخه ګټه واخلئ، نو د مخې څراغونه مو وکاروئ.

**په ژمي کې موټر چلول**

په ژمي کې خپل د موټر له ښیښو، د مخې او شا له څراغونو څخه واوره او یخ لرې کړئ. ډاډ ترلاسه کړئ چې ښیښه پاکونه او د یخ ضد سیستم مو سم کار کوي. توپیر نه کوي هر څومره لرې چې ځئ، تر هغې مو چې ټوله واوره او یخ له خپلو ښیښو څخه لرې کړی نه وي، حرکت مه کوئ.

ستاسو موټر باید هغه ټایرونه ولري چې هغه په واورو کې د موټر چلونې لپاره مناسب دي. که تاسو داسې ټایرونه نلرئ چې په واورو کې د موټر چلونې لپاره مناسب وي، نو باید چینونه درسره ولرئ تر څو په بدهوا وضعیت کې خپل د موټر په ټایرونو پورې وتړئ. ان که تاسو د واورې لپاره مناسب ټایرونه او چینونه هم ولرئ، خو بیا هم نشئ کولای په واوره او یا یخ کې په عادي سرعت سره په خوندي توګه موټر وچلوئ. که چېرته پر سړک واوره او یخ وي، سرعت مو را کم کړئ او د خپل موټر د کروز د کنټرول له سیستم څخه ګټه مه اخلئ. کله چې پر واوره او یخ موټر چلولو پیلوئ، نو ورو او په سمه توګه یې پیل کړئ. که چېرته ستاسو ټایرونو په څرخېدو پیل وکړ، نو یو څو ځلې مخکې او وروسته لاړ شئ او په دې توګه ځان ته لاره هواره کړئ. که چېرته دې کار مرسته ونکړه، د ټایرونو په شا و خوا کې ځیره مواد واچوئ لکه مالګه، شګه او یا د پیشو خاوره. چا ته اجازه مه ورکوئ چې ستاسو د موټر ټایرونو ته مخامخ ودرېږي. ښایي ستاسو ټایرونه یخ او یا کوچنۍ تیږې و شیندي او زیان ورته ورسوي.

کله مو چې موټر روښانه کړ هڅه وکړئ داسې احساس وکړئ لکه په سړک کې چې یاست. د موټر چلونې پر مهال ورو بریک ونیسئ تر څو وګورئ چې سړک څومره ښویه دی، بیا وروسته د سړک له شرایطو سره سم خپل سرعت تنظیم کړئ.

کله چې پر واوره یا یخ موټر چلوئ، نو درول یې ستاسو ډېر وخت نیسي. له همدې امله هڅه کوئ چې ستاسو او له تاسو څخه مخکې موټر تر منځ یو خوندي واټن وساتئ، چې اندازه یې له اتو څخه تر لس ثانیو پورې وي.

کله چې غواړئ سرعت مو را کم کړئ او یا ودرېږئ، په نرمۍ او ارامۍ سره برېکونه ونیسئ. هېڅ وخت برېک ته ټکان مه ورکوئ ـ دا کار ښايي ستاسو د ښوېيدو لامل شي. پر ښویه سطحو برېکونه په ارامۍ سره په څو ځلې نیولو او بېرته خوشې کولو سره پمپ کړئ. که چېرته ستاسو موټر په قفل ضد برېک سیستم سره سمبال وي، نو په ځانګړو حالاتو کې د برېک کولو مناسبو لارو چارو لپاره د موټر د مالک لارښود ته مراجعه وکړئ.

په یاد ولرئ چې پلونه او هوايي لارې د سړک د نورو برخو په پرتله ژر یخ وهي او خبر اوسئ چې ان د پاک شوي سړک پر سطحه هم ښايي د یخ څو لکې پاتې وي.

که چېرته د څلورو متحرکونو ټایرونو موټر لرئ، نو پر یخ د څلورو متحرکونو ټایرونو څخه ګټه مه اخلئ. د څلورو متحرکو ټایرونو لرونکي موټر په اسانۍ سره پر یخ چپه کېدای شي. کله چېرته تاسو په څلور متحرکو ټایرونو کې د یخ په کومه ټوټه ور برابر شوئ، نو له اکسلېټر څخه خپله پښه پورته کړئ.

په یاد ولرئ، یخ او واوره .... ورو یې ونیسئ!

**د سړک لنده سطحه**

کله چې باران پیل شي، اوبه لا دوړو او تېلو سره په سړک یو ځای کېږي او یوه نرمه او غوړه لایه جوړوي. را لوېدلې پاڼې هم ښايي سړک ښویه کړي. لوند سړک کېدای شي ستاسو لپاره ستونزمنه کړي چې په ګولايي ګانو کې پر سړک پاتې شئ. همدارنګه ستاسو د موټر درول به هم ډېر وخت ونیسي. له همدې امله ډاډه اوسئ چې خپل سرعت را کم کړئ او د خپل او موټر او هغه موټر تر منځ یو وخوندي واټن وساتئ چې تر تاسو مخکې دی. پر لانده سړک د موټر د کنټرول له کروز سیستم څخه ګټه مه اخلئ. د کنټرول کروز سیستم په پرلپسې توګه ټایرونو ته ځواک ورکوي او که چېرته تاسو کشش له لاسه ورکړئ، نو ښايي پر موټر خپل کنټرول له لاسه ورکړئ.

**هایدروپلنېنګ**

په لندو سړکونو کې ښايي ستاسو ټایرونه له سطحې څخه پر اوبو وچلېږي. دې ته هایدرو پلنېنګ وايي او د کشش او کنټرول له لاسه ورکولو اته اشاره کوي. هایدرو پلنېنګ له 35 میله پر ساعت څخه په ټولو لوړو سرعتونو کې را منځته شي. په شدید باراني حالت کې چې کله سرعت 55 میله پر ساعت ته ورسېږي کېدای شي چې ټایرونه له سړک سره خپله اړیکه له لاسه ورکړي.

که فکر کوئ چې ټایرونه مو هایډروپلنېنګ دي، پښې مو له اکسلېټر څخه پورته او سرعت مو کم کړئ. برېک مه وهئ ځکه کېدای شي تاسو و ښویېږئ.

د دې لپاره چې له هایډوپلانېنګ څخه مخنیوی وشي:

- په خپل موټر کې ښه ټایرونه چې ژورې رخې ولري، وساتئ.
- ټایرونو ته مو په سمه توګه هوا ورکوئ.
- د بارانتوفان پر مهال او کله چې د سړک سطحه لنده وي، سرعت مو را کم کړئ.
- د خپل موټر د کنټرول له کروز سیستم څخه ګټه مه اخلئ.

**د قفل کېدو پر ضد برېک کولو سیستم ((ABS**

د څلورو ټایرونو ABS یو خوندي او د برېک کولو اغېزناک سیستم دی، کله چې په سمه توګه وکارول شي. دا په اضطراري شرایطو کې د برېک په صورت کې د ټایرونو له قفل کېدو څخه په مخنیوي سره د خوندیتوب یوه مهمه ګټه وړاندې کوي. که ستاسو موټر په

ABS سمبال وي، باید خبر اوسئ که چېرته په کلکه برېک ونیسئ ښايي د پایډل کې د نبض احساس وکړئ. پښه مو پر برېک وساتئ. د سټرېنګ پر مهال پر برېک کلک او پرلپسې فشار وساتئ تر څو د څلو ټایرونو ABS په سمه توګه کار وکړي.

په یاد ولرئ که چېرته ستاسو موټر د قفل ضد برېکونه لري نو لاندې کارونه مه کوئ:


- د برېکونو پمپ کول،
- د اداره کولو هېرول،
- له تخنیکي غږونو او یا د پایډل له ورو غږونو څخه خبر اوسئ. دا حالات عادي دي او تاسو ته اجازه درکوي تر څو پوه شئ چې ABS په سمه توګه کار کوي.

**ښوییدل**

د ښوویېدني کابو کول د مخکي او شا ټایرونو د موټر چلوونکو لپاره یو شان دي. له اکسلېټر څخه خپله پښه پورته کړئ، خو برېکونه مه نیسئ.

- په ارامۍ سره د خپل موټر سټرېنګ هغه لوري ته وڅرخوئ چې د موټر شا ټایرونه مو ور ښوییږي.
- محتاط اوسئ چې په چټکۍ سره برېک ونه نیسئ او نه را وګرځئ. برېک وهل او سټرېنګ ته ټکان ورکول یوازې وضعیت لا خرابولای شي.

**د ښوویېدو په مسیر تلل**



1. له ښوییدو مخکي
2. د شا ټایرونه ښي لوري ته ښوییږي
3. د مخي ټایرونه ښي لوري ته وګرځوئ
4. موټر مو بېرته مستقیم کړئ

غبار

په غبار کې د موټر چلول ډېر خطرناک دي. که تاسو اړ یاست چې په غبار کې موټر وچلوئ، نو تاسو باید:

- سرعت مو کم کړئ.
- څک او درېدو ته چمتو اوسئ.
- خپل د مخې څراغونو روښنايي کمه وساتئ. په غبار کې که چېرته ستاسو د څراغونو رڼا ډېره وي، نو تاسو به لږ واټن وګورئ.
- که غبار ډېرېږي او تاسو څه نه وینئ، موټر مو د سړک تر غاړې ودروئ. خپل څراغونه او د بېړني وضعیت اشاره روښانه پرېږدئ.

**د موټر د بېړنیو مواردو کابو کول**

په بېړني وضعیت کې د ټولو مهم اصل دا دی چې وارخطا نشئ. که تاسو ارام پاتې شئ، نو تاسو به په یاد ولرئ چې باید څه وکړئ. که تاسو برېښنايي سټرېنګ او یا قفل کېدونکی سټرېنګ لرئ، نو تر هغې چې په بشپړه توګه درېدلي نه یاست، موټر مو مه بندوئ.

د برېک خرابي: که چېرته ستاسو د برېک پایډل په ناڅاپي توګه پر سطحې پرېووت:

- د برېک پاډل په بیړه څو ځلي په کلکه کېکاږئ. که دا کار ونکړ ...
- خپل د بېړني وضعیت او یا پارکېنګ له برېک څخه کار واخلئ، خو په تدریجي توګه.
- ګېرونه او سرعت مو را کم کړئ او د درولو لپاره یو ځای وګورئ.
- ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو موټر د سړک پر غاړه دی.
- کله چې موټر ودرېده، د مرستې ترلاسه کولو لپاره اړیکه ټینګه کړئ. هڅه مه کوئ چې موټر مو ګاراج ته یوسئ.

د ټایر چاودل: که ستاسو د موټر ټایرو وچاودېد، تاسو به یو لوړ "bang" غږ او بیا تمپ، تمپ، تمپ واورئ. سټرېنګ به ټکان وخوئ او تاسو به د موټر کنټرول له لاسه ورکړئ.

- سټرېنګ کلک ونیسي.
- له اکسلېټر څخه خپله پښه پورته کړئ، خو برېکونه مه نیسئ.
- پرېږدئ چې موټر مو ورو شي او د سړک پر څنډه په بشپړه توګه ودرېږي.
- کله چې موټر درېدو ته نږدې شو نو برېکونه ونسئ.
- خپل د بېړني وضعیت څراغونه روښانه کړئ.
- ټایر یوازې په هغه وخت کې بدل کړئ چې خپل ځان په خطر کې وانه چوئ.

له سړک څخه بهر کېدل: که چېرته ستاسو د موټر ټایرونه له سړک څخه بهر شي، نو ښايي ښې لوري ته ورغړي.

- سټرېنګ کلک ونیسي.
- له اکسلېټر څخه خپله پښه پورته کړئ، خو برېکونه مه نیسئ. یوازې په هغه صورت کې په ارامه برېک ونیسئ چې ورته اړتیا وي.
- کله چې موټر ورو شو او تاسو پرې کنټرول حاصل کړ، که چېرته ستاسو پر لیکه ترافیک نه وي، نو بېرته سړک ته را وګرځئ.

د سټرېنګ خرابېدل: کله چې تاسو سټرېنګ را ګرځوئ او موټر مو ورسره نه را ګرځي:

- خپله پښه له اکسلېټر څخه پورته کړئ.
- پرېږدئ چې موټر مو پخپله ورو شي. تر هغې چې موټر مو درېدو ته نږدې شوی نه وي، برېک مه نیسئ، مګر دا چې دې کار ته اړ شئ.
- خپل د بېړني وضعیت څراغونه روښانه کړئ.

د مخې څراغونو خرابېدل: که چېرته ستاسو د موټر د مخې څراغونه بند شول:

- د ډایمر او مخې څراغ سویچ ووهئ، کېدای شي بېرته یې روښانه کړي. که یې بیا هم کار ونکړ ...
- د پارکېنګ څراغونه، د بېړني وضعیت فلشون کېږدئ او یا د را ګرځېدو سېګنال روښانه کړئ.
- له سړک څخه ووځئ، مګر د بېړني وضعیت فلشونه روښانه پرېږدئ.

د اکسلېټر بندېدل: که چېرته ستاسو اکسلېټر بند شو، نو تاسو باید:

- د خنثی حالت ته وګرځئ؛
- برېکونه ونیسئ؛
- نظر مو پر سړک وساتئ؛
- د خلاصون لار وګورئ؛
- نورو موټر چلوونکو ته د فلش او بېړني وضعیت د څراغونو په روښانه کولو سره خبر ورکړئ.
- هڅه وکړئ چې موټر په خوندي ډول له سړک څخه بهر کړئ؛ او
- که چېرته نور د خپل مسیر بدلولو ته اړتیا نلرئ او دریدلي یاست، نو ماشین مو بند کړئ. (له کلي سره غلي کول د ډېری موټرو سټرېنګونه قفل کوي.)

د لید بندېدل: که چېرته ستاسو بانټ په ناڅاپي توګه خلاص شوه، ښیښه پاکونه مو له کاره ولوېدل، یا کوم بل څه ستاسو د لیدنې مخه بنده کړه:

- ښیښه ټیټه کړئ تر څو هر څه چې ستاسو د لید مخه بندوي، له هغه څخه هاخوا وګورئ.
- خپل د بېړني وضعیت څراغونه روښانه کړئ.
- موټر مو د سړک غاړې ته کړئ.

**کله چې ستاسو پر لیکه تاسو ته مخامخ موټر را نږدې کېږي:**

- سرعت مو کم کړئ.
- خپل موټر ښي لوري ته کړئ او هارن ووهئ.
- کیڼي کرښې ته مه ګرځئ. بل موټر چلوونکی به هم بېرته خپلې لیکې ته ستون شي.

**د ربل پر کربنو درېدل:**

که چېرته يو ربل را نږدې کېږي:

- کمربند مو سست کړئ، له خپل موټر څخه ووځئ او د ربل له کربنو څخه لرې شئ.
- په هغه لوري ور منډه کړئ چې ربل ترې را روان دی. (که چېرته تاسو په هغه لوري وتښتئ چې ربل ور روان دی، نو کله چې ربل ستاسو له موټر سره ټکر وکړي ښايي پر تاسو يې کوچنۍ ټوټې ولګېږي.)
- که چېرته ربل نه ليدل کېږي:
- ښيښه مو ښکته کړئ او د ربل غږ ته غوږ ونيسئ.
- هڅه وکړئ چې موټر روښانه کړئ. که چېرته روښانه نشو...
- موټر مو په خنثی حالت کې واچوئ او له کربنو څخه يې بهر کړئ.

**د 12 او 15 سورليو د وان خونديتوب:**

د ملي ترانسپورت د خونديتوب ملي بورډ (NTSB) څرګنده کړې ده چې د 12 او 15 سورليو وانونه چې کله په هغه اندازه بارېږي چې ورته جوړ شوي دي يا له لسو تنو څخه ډېر کسان پکې لېږدول کېږي، نو په لوړه کچه ناثابت وي. NTSB توصيه کوي چې د 12 او 15 سورليو د وانونو چلوونکي بايد د دغه ډولو د موټرو د چلولو او اداره کولو لپاره ځانګړې روزنه ووينې. د 12 او 15 سورليو د وانونو د خونديتوب په اړه د نولو معلوماتو لپاره کولای شئ د NTSB ويب سايټ **http://www.ntsb.gov/Pages/default.aspx** ته مراجعه وکړئ.

د موټر چلول يو امتياز دی. دا مهارت او سليم عقل ته اړتيا لري. الکول، نشه يي توکي او ستړيا به ستاسو موټر چلوني ته زيان واړوي او دا ستاسو مسووليت دی چې کله د موټر چلوني لپاره په مناسب وضعيت کې نه ياست، نو بايد پوه شئ. د الکولو، نشه يي توکو يا درملو تر اغېز لاندې او يا د ستړيا پر مهال د موټر چلول کولای شي ستاسو ـــ، ستاسو د سورليو او نورو موټر چلوونکو لپاره مرګوني عواقب ولري.

د نشې په حالت کې موټر چلول د دې ارزښت نه لري چې تاسو خپل او د نورو ژوند له ګواښ سره مخ کړئ. حتی يوه لږه اندازه الکول هم ښايي ستاسو د موټر چلوني پر وړتيا اغېز وکړي. که تاسو غواړئ چې الکول وڅښئ، نو کوم بل څوک چې موټر نه چلوي ورته وواياست چې موټر وچلوي.

که چېرته تاسو د موټر چلوني پر مهال د الکولو څښلو په جرم ونيول شوئ، نو د ميسوري قوانين په دې اړه سخت دي. تاسو به جريمه شئ، جواز به مو له لاسه ورکړئ او ان زندان ته به لاړ شئ.

که چېرته تاسو د نشې په حالت کې موټر چلوئ او د کوم چا د ټپي کېدو او يا مړينې لامل شئ، نو ښايي تاسو:

- له دوه څخه تر اووه کلونو پورې په زندان کې تېر کړئ؛
- $5,000 جريمه ورکړئ؛ او يا
- د پنځو کلونو لپاره خپل جواز له لاسه ورکړئ.

کله چې تاسو د پوليس افسر له لورې په دې شک درول کېږئ چې ګوندې الکول مو څښلي دي، ښايي له تاسو څخه وغواړي چې د ازمېښت په توګه ځيني کارونه ترسره کړئ لکه له پوندو څخه تر پنځو پورې پر لاره تلل، په يوه پښه درېدل او داسې نور. دغه ازمېښتونه به له افسر سره مرسته په دې تصميم نيونه کې مرسته وکړي چې تاسو د تنفس، وينې او تشو بولو د کيمياوي معاينې په موخه ونيسي او کنه. د دې معاينې پايله ستاسو د وينې د الکولو د محتوا (BAC) د کچې په توګه پېژندل کېږي.

**اداري اقدامات**

که چېرته ستاسو د BAC کچه 08%. يا تر دې لوړه وي (د نبالغ لپاره 02%. يا تر دې زياته وي)، نو افسر به ستاسو جواز درڅخه واخلي او يو خبرداری به درکړي. دغه خبرداری تاسو ته وايي چې جواز به مو 15 ورځې وروسته وځنډېږي يا لغوه شي (او تاسو به د قانون له مخې نشئ کولای چې موټر وچلوئ). که چېرته افسر په خبرداری کې دا په ډاګه کړې وي، نو هلته ستاسو لپاره د موټر چلونې 15 ورځنی اجازه موجوده ده. خبرداری همدارنګه

تاسو ته اجازه درکوي تر څو د بيا کتنې غوښتنه وکړئ، يا که چېرته پر شرايطو برابر ياست، نو د موټر چلونې يو بېړنی 90 ورځنی امتياز (RDP) وغواړئ. که چېرته ستاسو پر غوښتنه بيا کتنه وشي، وروسته تر دې چې پرېکړه در واستول شوه، کولای شئ د 15 ورځو لپاره په قانوني بڼه موټر وچلوئ.

که چېرته تاسو د موټر چلونې لپاره چمتو نه ياست او موټر چلوئ، نو ښايي ستاسو پر وړاندې دوه ډوله اقدامات ترسره شي. اداري اقدامات دي او د محکمې له لوري د محکوميت اقدامات، چې له مخې يې بېلا بېل مجازاتونه ترسره کېږي.

This independent translation is not affiliated with the State of Missouri or any of its agencies.
دا خپلواکه ژباړه د ميسوري ايالت يا د هغې کومې اداري پورې تړاو نلري.

که چېرته تاسو د الکولو او یا نشه یي توکو تر اغېز لاندې د موټر چلولو پر مهال ونیول شئ، نو لاندې جدول هغه اداري اقدامات څرګندوي چې ښایي تاسو ورسره مخ شئ.

| اداري اقدام | د موټر چلونې د جواز ځنډېدل/ لغوه کېدل/ ردېدل | د دې لپاره چې خپل جواز بېرته ترلاسه کړئ |
|---|---|---|
| د جواز ځنډېدل | لومړئ سرغړونه- 90 ورځنۍ ځنډېدنه<br>• ښایي تاسو د موټر چلونې د 90 ورځنې او یا 60 ورځنې ځنډ پر شرایطو برابر یاست.<br><br>*دویمه سرغړونه - 90 ورځنۍ ځنډېدنه، د دویمې سرغړونې لپاره چې له 5 کلونو څخه وروسته را منځته شي<br>• ښایي تاسو د موټر چلونې د 90 ورځنې او یا 60 ورځنې ځنډ پر شرایطو برابر یاست. | په مهربانۍ سره<br>71 مخ<br>د<br>بېرت ترلاسه کولو د اړتیاوو لپاره وګورئ |
| د جواز لغوه کول | *دویمه سرغړونه د 5 کلنې دورې په لړ کې - د جواز یو کلن لغوه کول | |

*د بېرته ترلاسه کولو د وړتیاوو لپاره د اېګنېشن انټرلاک د آلې (IID) نصبولاړین دي.

**د محکمې د محکومیت اقدامات**

که چېرته تاسو یو ټکټ ترلاسه کړ او قاضي له دې امله پر وګنلئ چې د نشئ په حالت (DWI) کې مو موټر چلاوه یا مو په وینه کې 08%. یا تر دې زیات الکول (BAC) لرل، نو کله چې ټکټ ریاست ته واستول شي تر هغې وروسته به تاسو موټر و نه چلولای شئ. ستاسو جواز به ستاسو د موټر چلونې پخوانیو سوابقو ته په کتو سره تعلیق، لغوه یا رد شي او ستاسو سوابقو ته به ټکی اضافه شي. تاسو ته د میل له لارې خبر درکړل شي چې باید موټر چلول بس کړئ. په لاندې جدول کې د محکمې له لوري د محکومیت د اقداماتو لکه DWI یا BAC عواقب ذکر شوي دي:

| جرم | جریمې/ زندان | د موټر چلونې د جواز ځنډېدل، لغوه کېدل یا ردېدل | د دې لپاره چې خپل جواز بېرته ترلاسه کړئ |
|---|---|---|---|
| **BAC**<br>کله چې ستاسو په وینه کې 08%. یا تر دې زیات الکول وي، د موټر چلول<br>**DWI**<br>د نشې په حالت کې موټر چلول. | لومړئ جریمه- ځنډېدل<br>تر شپږ میاشتو پورې زندان.<br>تر 500$ پورې جریمه تادیه کول.<br>دویمه جریمه -تر یو کال پورې زندان تېرول. تر 1,000$ پورې جریمه تادیه کول.<br>درېیمه جریمه -تر څلور کلونو پورې زندان تېرول. تر 5,000$ پورې جریمه تادیه کول.<br>څلورمه جریمه -تر اووه کلونو پورې په زندان کې تېرول. تر 5,000$ پورې جریمه تادیه کول.<br>پنځمه جریمه -<br>د پنځو کلونو او 15 کلونو پورې زندان تېرول. | لومړئ جریمې -<br>90 ورځې تعلیق<br>• ښایي تاسو د موټر چلونې د 90 ورځنې او یا 60 ورځنې ځنډ پر شرایطو برابر یاست.<br>*دویمه سرغړونه - د یو کال لپاره د جواز لغوه کېدل.<br>*دویمه جریمهد 5 کلونو په منځ کې - د پنځه کلونو لپاره د جواز ردېدل.<br>یادښت: یوازې د 2009 کال د اګست د 28 نېټې یا له هغې را وروسته د محکومیت BAC د پنځه کلن رد لپاره کارول کېدای شي.<br>*درېیمه سرغړونه -د لسو کلونو لپاره د جواز ردول.<br>*درېیمه او تر هغې را وروسته جریمې- د لسو کلونو لپاره د جواز ردېدل. | په مهربانۍ سره 71 مخ<br>د بېرت ترلاسه کولو د اړتیاوو لپاره وګورئ |

**د میسوري د ناوړه ګټې اخیستنې او له لاسه ورکولو قانون**

که چېرته ستاسو عمر له 21 کلونو څخه کم وي، نو د لاندې مواردو د را منځته کېدو په صورت کې به ستاسو جواز د 90 ورځو لپاره در څخه واخیستل شي:

- د الکولو له نشې سره تړلې ترافیکي سرغړونه؛
- کله چې تاسو د موټر چلونې پر مهال الکول او یا نشه يي توکي له ځان سره ساتئ او یا یې کاروئ؛
- که چېرته د موټر چلونې جواز ته بدلون ورکړئ، اصلاح یې کړئ او یا یې ناسم وړاندې کړئ؛ یا
- که چېرته ستاسو عمر له 18 کلنۍ څخه کم وي او الکول لرئ یا یې کاروئ او د دویم ځل لپاره پر سرغړونه تورن یاست.

که چېرته ستاسو عمر 21 کاله یا تر دې لوړ وي او د موټر چلونې پر مهال الکور درسره وي یا یې کاروئ، نو د موټر چلونې جواز به مو د یو کال لپاره در څخه واخیستل شي. د دې لپاره چې خپل جواز بېرته ترلاسه کړئ، تاسو باید:

- 45$ فیس تادیه کړئ؛
- یو فورم واستوئ چې وښیي تاسو له ترافیکي متخلفینو څخه د آګاهۍ یو پروګرام (SATOP) یا دې ته ورته پروګرام بشپړ کړی دی.
- د دوه کلونو لپاره د بیمې ثبوت چمتو کړئ (SR-22 filing)؛ او
- د موټر چلونې بشپړه ازموینه له سره ورکړئ.

**هغه کوچنی چې په مالکیت کې وي (MIP) او د نشې اړوند نورې سرغړونې**

که چېرته ستاسو عمر له 15 کلونو څخه پورته او له 21 څخه کم وي، نو یوه ایالتي محکمه به ستاسو د موټر چلونې جواز د لاندې مواردو لپاره وځنډوي او یا لغوه کړي:

- د نشه کوونکي څښاک پیرل او یا د پیرلو هڅه؛
- د نشه کوونکو څښاکو لرل (مصرفول د لرلو په څېر دي)؛
- د نشې په حالت کې څرګندېدل لکه د **RSMo** په 577 .001 برخهکې چې تعریف شوی دی؛ یا
- په وینه کې د الکولو موجودیت (BAC) چې اندازه یې %02. یا تر دې زیاته وي.

لاندې جدول هغه عواقب په ګوته کوي چې یو ځوان کس له MIP او یا د نشې اړوندو نورو سرغړونو سره مخ کېږي.

| جرم | د موټر چلونې د جواز ځنډېدل/ لغوه کېدل | د دې لپاره چې خپل جواز بېرته ترلاسه کړئ |
|---|---|---|
| **MIP** په مالکیت کې کوچنی | لومړۍ جرم- 30 ورځنۍ ځنډېدنه<br>دویمه جرم- 90 ورځنۍ ځنډېدنه<br>دریيمه جرم- د یو کال لپاره د جواز لغوه کېدل. | 45$ فیس تادیه کړئ او له ترافیکي متخلفینو څخه د آګاهۍ په یو پروګرام (SATOP) یا دې ته ورته پروګرام کې ګډون وکړئ. که چېرته ستاسو د موټر چلونې امتیاز د یو کال لپاره لغوه شوی وي، باید د دوه کلونو لپاره د بیمې سند وښایاست (د 22-SR ډکول) او د موټر چلونې ازموینه بیا ځلي ورکړئ. |

**د بیمې سند**

که چېرته تاسو د DWI یا BAC له عواقبو سره مخ شوئ، نو له تاسو څخه به وغوښتل شي چې د موټر چلونې د جواز له بیرو سره د بیمې سند ډک کړئ. د بیمې د سند د ډکولو تر ټولو عام مېتود د 22-SR د بیمې ډکول دي.

د بیمې سند باید د موټر چلونې د جواز په بیرو کې په یوه دوسیه کې تر دوه کلونو لپاره وساتل شي. که چېرته تاسو د بیمې سند په دوسیه کې ونه ساتئ، نو د پاتې دوه کلونو لپاره به ستاسو د موټر چلونې جواز وځنډېږي، مګر دا چې د بیمې سند وړاندې او $20 فیس تادیه کړئ.

په دې اړه یوازې یوه استثنا موجوده ده: هغه کوچنیان چې په وینه کې یې %02. یا تر دې زیات الکول وي، نو اړتیا نلري چې په لومړۍ سرغړونه کې بیمې سند ثبت کړي.

د بیمې په اړه نور معلومات د دې لارښود په 13 څپرکي کې موجود دي.

**په وینه کې د الکولو د موجودیت (BAC) د کیمیاوي معاینې له سپارلو څخه ډډه کول**

که چیرته د پولیس افسر تاسو ودرولئ او تاسو له کیمیاوي ازمېښت څخه ډډه وکړه تر څو ستاسو BAC تشخیص شي، نو د موټر چلونې جواز به مو د یو کال لپاره در څخه واخیستل شي. که چیرته تاسو لاندې د اړتیا وړ موارد وسپارئ، نو ښایي د موټر چلونې جواز مو بېرته درکړل شي.

**د نشې اړوند سرغړونو له امله د اخیستل شوي جواز د بیرته ولکولو اړتیاوې**

ستاسو جواز به بېرته درکړل شي، که چیرته:

- 45$ فیس تادیه کړئ؛
- یو فورم واستوئ چې وښیي تاسو له ترافیکي متخلفینو څخه د آگاهۍ یو پروګرام (SATOP) یا دې ته ورته پروګرام بشپړ کړی دی.
- د دوه کلونو لپاره د بیمې سند چمتو کړئ (SR-22 filing)؛ او
- که چیرته تاسو د قانون د پلي کولو اړوند له یوې څخه زیاتې اړیکې لرئ، نو هغه موټر چې تاسو یې چلوئ د جواز د بیا ترلاسه کولو له نېټې څخه وروسته د وروستیو شپږو میاشتو لپاره په هغه کې د اېګنېشن انټر لاک یوه وسیله (IID) ولرئ.

**اېګنېشن انټرلاک**

اګنېشن انټرلاک آله (IID) یو داسې میخانیکي واحد دی چې د موټر له اګنېشن، هارن او د مخې له څراغونو سره وصل دی او د انسان په تنفس کې د الکولو غلظت اندازه کوي. IID له موټر چلوونکي څخه غواړي تر څو د موټر له روښانه کولو څخه مخکې د تنفس یوه نمونه چمتو کړي او د موټر چلولو پر مهال په منظم ډول دا چاره ترسره کړي.

که چیرته تاسو د نشې اړوند له یوې څخه زیاتې اړیکې ولرئ، چې ستاسو د موټر چلونې په سوابقو کې ښکاري، مخکې له دې چې ستاسو د موټر چلونې امتیاز بېرته درکړل شي نو تاسو باید په خپل موټر کې IID انسټال کړی وي. کله چې تاسو ته د موټر چلونې امتیا بېرته درکړل شي، نو تاسو باید له هماغې نېټې څخه وروسته تر شپږ میاشتو پورې IID په خپل موټر کې وساتئ او په وروستیو دريو میاشتو کې نباید هېڅ سرغړونه ولرئ. تاسو باید د الې د انسټالولو په بدل کې پیسې ورکړئ او هره میاشت یې باید د خدمت فیس هم تادیه کړئ. که چیرته تاسو ونشئ کړای چې IID وساتئ، نو ستاسو د موټر چلونې امتیاز به بیا ځلې وځنډېږي. تاسو به اړ یاست چې یاده اله په خپل موټر کې انسټال کړئ، سند یې د موټر چلونې د جواز بیرو ته واستوئ او مخکې تر دې چې د موټر چلونې امتیاز مو بېرته درکړل شي، 20$ د جواز د بېرته درکولو د فیس په توګه تادیه کړئ.

د موټر چلونې د جواز د ورکړې پر اړتیاوو سربېره، ښایي یوه محکمه نورې اړتیاوې هم وټاکي لکه: د DWI د لومړنی محکومیت لپاره د IID کارول؛ یا له شپږو میاشتو څخه د ډېرې مودې لپاره د یوې آلې کارول.

کله چې د قانون له مخې IID ته اړتیا وي، خو تاسو نه وي انسټال کړي، له دې امله ټکټ ترلاسه کړئ او د محکمې له لوري محکوم شئ، ستاسو د موټر چلونې امتیاز به د یوه کال لپاره لغوه شي. د دویمې سرغړونې په صورت کې به ستاسو د موټر چلونې امتیاز د پنځو کلونو لپاره واخیستل شي.

د تایید شویو اېګنېشن انټرلاکونو د آلو او د هغوی د انسټالوونکو د موندلو لپاره له

**https://www.modot .org/ignition-interlock** څخه لیدنه وکړئ یا د میسوري د ډیپارټمنټ ریاست ته په 3588-801-800 شمېره زنګ ووهئ.

**د الکولو او نشه يي توکو فزيکي او ذهني اغېزې**

الکول او نور نشته يي توکي په بدن کې داسې فزيکي او ذهني بدلونونه را منځته کوي چې موټر چلول ستونزمنوي. قضاوت، ليد، غبرګونونه او بيداري دا ټول د الکولو او نورو نشه يي توکو تر اغېز لاندې راتلای شي. د الکولو او نورو مخدره توکو تر اغېز لاندې موټر چلول خطرناک او غير قانوني دي. په ميسوري کې چې کله څوک د الکولو، غيرقانوني نشه يي توکو، تجويز شويو درملو، ناتجويز شويو درملود مخدره توکو څخه زيات درمل او د دوی د ترکيب تر اغېز لاندې موټر چلوي، نو ښايي په DWI (د نشې په حالت کې موټر چلول) تورن شي. د هغو نشه يي توکو (قانون د تجويز شويو، ناتجويز شويو او غير قانوني درملو تر منځ توپير نه کوي) کارول د قانون خلاف کار دی چې ستاسو د موټر چلولو وړتيا تر اغېز لاندې راوي. په ميسوري کې د DWI لپاره جريمې دقيقاً يو ډول دي، پرته له دې چې وکتل شي چې ستونزه د نشه يي توکو له امله را منځته شوې ده او که د الکولو له امله. هغه کسان چې پر DWI محکوم شوي وي، سزا يي تر شپږو مياشتو پورې زندان او تر $500 پورې نغدي جريمه، همدارنګه د موټر چلولو د امتياز له لاسه ورکول دي. الکولو د ځينو او يا نشه يي توکو د کارولو پر مهال موټر چلوونکی، سورلۍ، او نور کسان چې په سړک کې وي، له ګواښ سره مخ کوي. هيله ده د اختلال پر مهال له موټر چلولو څخه ډډه وکړئ او خپل ځان او نور خوندي کړئ.

**الکول**

الکول کولای شي مغز او بدن په کلکه مختل کړي او دا کار د موټر چلولو لپاره ناخوندي دی. الکول غبرګونونه ورو کوي او د غبرګون وخت زياتوي، دا د موټر چلوونکي لپاره ناخوندي کوي چې د ناسمو حالاتو لپاره په بيړه غبرګون وښيي. الکول پر ليد اغېز پرېباسي،پشمول د سترګو د عضلاتو فعاليت ورو کوي، د سترګو په ليد کې بدلون راولي او په شپه کې په ليد کې اختلال را منځته کوي. الکول د نيم ويده والی، د تمرکز د کموالي او د توجه د کمېدو لامل شي. الکول کولای شي همغږي مختل کړي، د درک کچه را کمه کړي او د منطقي تصميم نيونې وړتيا را کمه کړي. که چېرته ستاسو په وينه کې د الکولو (BAC) کچه 0.08% يا تر دې لوړه وي، نو د موټر چلول غيرقانوني دي (0.04% د سوداګريزو موټرونو د چلولو او 0.02% له 21 کلنۍ څخه ښکته عمر لرونکو کسانو لپاره ده). که چېرته ستاسو عمر له 21 کلنۍ څخه کم وي، نو ستاسو لپاره د الکولو لرل او اخيستل غير قانوني دي. په ياد ولرئ: ان يو ځل الکول څښل هم کولای شي په ډېرو مواردو کې ستاسو په خوندي موټر چلونه اغېز کولای شي، دوه ځلي الکول څښل کولای شي تاسو په وينه کې د الکولو معين حد ته ورسوي.

**تجويز شوي او مقدار څخهډير درمل**

په ياد ولرئ چې ټول درمل، که هغه تجويز شوي وي او که د مقدار څخهډير، په بالقوه توګه خطرناک دي او کولای شي موټر چلونه مختل کړي، ان که مو په مستقيمه توګه هم اخيستي وي. له خپل ډاکټر او يا فارمسېسټ سره وګورئ او که نه پوهېږئ چې ايا د درملو خوړل پر موټر چلولو اغېزه کوي کنه، نو د درملو د خبرتيا کاغذ ولولئ. دا ستاسو مسووليت دی چې د هغو درملو پر اغېزو پوه شئ چې خورئ يې. هغه د مقدار څخه زياتدرمل چې تاسو د سرماخوردګی او حساسيتونو لپاره اخيستي وي کولای شي تاسو ته خوب درولي او د موټر چلولو پر وړتياوو مو اغېز وکړي. کېدای شي د پيپ او وزن کمولو ټابلېټونه د لنډې مودې لپاره موټر چلوونکی څک کړي. بيا وروسته کېدای شي چې د شخص د عصبانيت، سرګنګسی لامل شي او تمرکز ونه ساتلای شي. دا پر ليد هم اغېز کولای شي. هر هغه درمل چې انسان ته خوب راولي سر يې ګنګسوي، نبايد له موټر چلولو څخه مخکې وخوړل شي. درمل مه ګډوئ، مګر دا چې د ډاکټر له لوري درته لارښوونه شوې وي. هغه درمل مه خورئ چې د کوم بل چا لپاره تجويز شوي وي. دا کار خطرناک او غيرقانوني دی. يوازې هغه درمل وکاروئ چې درته تجويز شوي دي. له خپلو درملو سره الکول مه کاروئ (که تجويز شوي وي او يا مقدار څخه زيات). هغه درمل چې يو ځای خوړل کېږي يا له الکولو سره يو ځای کارول کېږي چې خطرناک تمامېدای شي. ځينې درمل غيرمتوقع جانبي اغېزې لري، کله چې له الکولو سره وخوړل شي. ډاډ حاصل کړئ چې تاسو لېبل لوستلی دی او د هغو درملو پر جانبي اغېزو پوهېږئ چې کاروئ يې.

**چرس**

چرس تر الکولو وروسته په دویمه درجه د موټرو په ټکر کې ښکېل دي. ان د درملو چرس هم په 2020 کال کې د میسوري د رایه ورکوونکو له لوري اغېزناک ګڼل شوي وو، د چرسو تر اغېز لاندې د موټر چلول قانوني او خوندي نه دي.
چرس کولای شي د پېژندنې عمل تر اغېز لاندې راولي، د وخت او واټن اټکلول مختل کړي او د همغږۍ کچه را کمه کړي. څېړنومطالعاتو ښودلې ده چې چرس پر موټر چلوونکو اغېزه کوي، د موټر چلونې لیکه ورته پراخه ښکاري، د غبرګون وخت یې کمزوری وي، او سړک ته سم پام نه کوي. له الکولو سره یو ځای د چرسو کارول پر موټر چلوونکو لا ډېر اغېز کوي، سړک ورته لا ډېر پراخ ښکاري.

**د موادو په مصرف کې اختلال**

د موادو د کارولو اختلالات هغه مهال را منځته کېږي چې کله د الکولو یا نشه یي توکو اوسني کارول په کلینیکي او عملي ډول د مهمو اغېزو لامل شي، لکه د روغتیایي ستونزې، معیوبیت، یا په کارځای، ښوونځي او یا کور کې د خپلو سترو مسوولیتونو په ترسره کولو کې پاتې راتلل. د موادو د مصرفولو اختلالات خلک په لویو خطرونو کې اچوي، هغوی په سترو موټروټکر کې د خپل ځان او نورو د مرګ - ژوبلې لامل کېږي. که تاسو احساس کوئ چې د موادو د مصرف اختلالات لرئ، ستاسو لپاره مرسته د لاسرسي وړ ده. اوس مهال، ډېری امریکایي درملنه کیږي چې د موادو د مصرف اختلالات ولري، اوس یې درملنه په بریالیتوب سره کېږي. د SAMHSA () ملي ټلیفوني کرښې ته په 1-800-662-HELP (4357) اړیکه ټینګه کړئ او تاسو ته نږدې د درملنې عرضه کوونکی ومومئ. دا یوه وړیا او محرمه ټلیفوني کرښه ده چې د کال په 365 ورځو کې په 24 ساعته ډول د لاسرسي وړ ده.

د روږدیتوب یو له سترو وړاندویونکو څخه له وړاندې استفاده کول دي. که چېرته یو څوک چې مغز یې په بشپړه توګه وده نه وي کړې، مضر مواد او یا هغه درمل وکاروي چې په غیرقانوني بڼه ترلاسه شوي وي، نو د منفي اغېزو پر وړاندې ډېر زیانمنونکي دي. یو ځوان شخص چې مغز یې بشپړه وده نه وي کړې، د هغه مشر کس په پرتله ژر او په چټکۍ سره زیانمنېږي چې مغز یې بشپړه وده کړې وي. له دې امله، یو ځوان شخص ژر د موادو پر کارولو روږدی کېږي.

موټر چلول یو امتیاز دی، نه حق. که چېرته تاسو ترافیکي قوانین مراعات نکړئ، ښایي د موټر چلوني امتیاز له لاسه ورکړئ. کله چې تاسو کومه ترافیکي سرغړونه وکړئ، په داسې حال کې چې موټر مو روان وي، ډیپارټمنټ خبرتیا ترلاسه کوي او ستاسو د موټر چلوني په سوابقو کې نمره اضافه کوي. دا د فوټبال یا بسکټبال د لوبې په څېر نه دی ـ تاسو دغه نمرې نه غواړئ. کله چې ډېرې نمرې ترلاسه کړئ، نو کېدای شي خپل د موټر چلوني امتیاز له لاسه ورکړئ.

د هغو نمرو شمېر چې تاسو یې ترلاسه کوئ، هغه ستاسو په محکومیت پورې اړه لري. د بېلګې په توګه، که چېرته تاسو په لوړ سرعت سره موټر وچلوئ، نو ښایي چې دوه یا درې نمرې ترلاسه کړئ (دا په محکمې پورې اړه لري چې، د ښاروالۍ، ښارګوټي او یا ایالت په کڅې ده). که چېرته تاسو دترافیکي ټکر پر مهال د پېښې له صحنې څخه په وتلو محکوم شئ، نو ښایي 12 نومرې درکړل شي او د موټر چلوني امتیاز به مو لغوه شي.

لاندې له ایالتي قانون څخه د سرغړوونو څو بېلګې او د هغوی اړوند نمرو اندازه ښودل شوې ده:

| سرغړونه | د نمرو اندازه |
|---|---|
| سرعت | 3 نمرې |
| په بې پروایۍ او بې احتیاطۍ سره موټر چلول | 4 نمرې |
| په آګاهانه ډولیو غیر مجوز موټر چلوونکي ته اجازه ورکول چې ستاسو موټر وچلوي | 4 نمرې |
| داسې جنایت چې یوه نقلیه وسیله پکې ښکېله وي. | 12 نمرې |
| د موټر چلوني د جواز ترلاسه کول د ناسمو معلوماتو په ورکولو سره | 12 نمرې |
| له یوه ځنډیدلي او یا لغوه شوي جوازچلوونکي سره د موټر چلول | 12 نمرې |

**د نمرو ترلاسه کول: عواقب یا پایلې**

که چېرته تاسو په12 میاشتو کې 4 نمرې ترلاسه کړئ، نو ډیپارټمنټ به تاسو ته د نمرو د ترلاسه کولو یوه مشاوره ترلاسه کړي.

که چېرته تاسو په 18 میاشتو کې 8 یا تر دې زیاتې نمرې ترلاسه کړي، نو ستاسو د موټر چلوني امتیاز به وځنډول شي. په 18 میاشتو کې د 8 نمرو د ترلاسه کولو عواقب په لاندې ډول دي:

- لومړۍ ځنډېدنه — 30 ورځې
- دویمه ځنډېدنه — 60 ورځې
- درېیمه (یا متعاقبه) ځنډېدنه — 90 ورځې

ستاسو د موټر چلوني امتیاز به د یوه کال لپاره لغوه شي، که چېرته تاسو ترلاسه کړئ:

- په 12 میاشتو کې 12 یا تر دې ډېرې نمرې
- په 24 میاشتو کې 18 یا تر دې ډېرې نمرې
- په 36 میاشتو کې 24 یا تر دې ډېرې نمرې

دا په دې پورې اړه لري که چېرته ستاسو د موټر چلوني د جواز ځنډېدنه له الکولو سره تړاو لري، که داسې وي نو د امتیاز د بېرته ترلاسه کولو لپاره بېلابېلې اړتیاوې دي.

که چېرته د امتیاز ځنډېدل او یا لغوه کېدل له الکولو سره تړاو نلري، نو تاسو باید:

- د بیمې سند (SR-22) واستوئ؛ او
- د امتیاز د بیا ترلاسه کولو $20 فیس تادیه کړئ.

د نشې اړوندې نمرې له امله د امتیا د ځنډېدو یا لغوه کېدو لپاره، تاسو باید د امتیاز د بیا ترلاسه کولو اړین موارد وسپارئ چې په 71 مخ کې ذکر شوي دي.

This independent translation is not affiliated with the State of Missouri or any of its agencies.
دا خپلواکه ژباړه د میسوري ایالت یا د هغې کومې اداري پورې تړاو نلري.

د بیمې د سند (SR-22) د سپارلو په اړه جزئیات په 13 څپرکي، الزامي بیمه کې موندلای شئ.

**ستاسو د موټر چلوني له سوابقو څخه نمرې څه ډول لرې کیږي**

کله چې ستاسو د موټر چلوني امتیاز بېرته درکړل شو، ډیپارټمنټ ستاسو د نمرو ټوله کچه 4 ته را ټیټوي. هر کال چې تاسو له نمرې ترلاسه کولو پرته موټر چلوئ، ډیپارټمنټ به ستاسو نمرې را کموي.

- له یوه کال څخه وروسته - د پاتې نمرو له یوې څخه دریمه برخهته را کمېږي.
- له دوه کلونو څخه وروسته - پاتې نمرې نیماییته را کمېږي.
- له درې کلونو څخه وروسته - نمرې صفر ته را کمېږي

سره له دې چې نمرې به صفر ته را ټیټې شي، خو ځینې مشخص محکومیتونه به ستاسو د موټر چلونې په سوابقو کې د تل لپاره پاتې شي.

**نور عواقب یا پایلې**

په داسې حال کې موټر چلول چې جواز مو ځنډېدلی او یا لغوه شوی وي

که چېرته په داسې حال کې موټر چلوئ چې جواز مو ځنډېدلی وي، ښایي ستاسو د موټر چلوني امتیاز وروسته ستاسو تر محکومیت څخه د یو کال لپاره لغوه شي. که چېرته ستاسو جواز لغوه شوی وي او موټر چلوئ، نو ښایي په جرم محکوم شئ او جواز مو بیا ځلې د یو کال لپاره لغوه شي.

**د ترافیکي سرغړونې له امله محکمې ته نه حاضرېدل ((FACT**

که چېرته تاسو د ترافیکي سرغړونې له امله په محکمه کې حاضر نشئ، نو محکمه به تاسو ته ستاسو د نه سرغړونې په اړه خبر درکړي. محکمه به تاسوته 30 ورځې وخت درکړي تر څو د موټر چلوني د جواز بیرو (DLB) ته تر خبر ورکولو مخکې جریمه تادیه کړئ. که چېرته تاسو د 30 ورځو په لړ کې مطابقت ونکړئ، نو محکمه به DLB ته ستاسو د ناکامۍ خبر ورکړي او ستاسو د موټر چلوني امتیاز به ژر تر ژره وځنډېږي.

که چېرته له تاسو سره دا کار وشي، ستاسو د موټر چلوني جواز به تر هغې پورې وځنډېږي چې بیرو لاندې موارد ترلاسه کړي:

- هغه سند چې وښیي ټکټ مو تادیه کړی دی؛ او
- د امتیاز د بیا ترلاسه کولو $20 فیس.

که چېرته ستاسو جواز د FACT لپاره ځنډېدلی وي، نو تاسو به خپل د موټر چلوني امتیاز په یو له دوه لارو ترلاسه کړی شئ.

- د موټر چلوني د امتیاز د بېرته ترلاسه کولو د اړتیا وړ موارد د موټر چلوني د جواز د بیرو پوسټ بکس ته واستوئ. P.O. Box 3950, Jefferson City, Missouri 65105-3950.
- د موټر چلوني د امتیاز د بېرته ترلاسه کولو اړین موارد د موټر چلوني د جواز د بیرو مرکزي دفتر ته راوړئ، 470 West High Street, Jefferson City, Missouri, in Room 301. کاري ساعتونه د سهار له 7:30 څخه د مازدیګر تر 5:00 بجو پورې دي. له دوشنې څخه تر جمعې پورې (له رخصتیو پرته).

ستاسو موټر ته د عنوان ورکول

که چېرته تاسو د میسوري اوسیدونکي یاست نوی موټر پیري، یا نوینوي اوسیدونکی چي میسوري ته راغلي یاست، 30 ورځي وخت لرئ، تر څو د موټر چلوني د جواز ځايي اداري ته ورشئ او خپل حقوقي مسوولیتونو ته پام وکړي تر څو ستاسو موټر ته عنوان ورکړل شي.

عنوان یو سند ته چي ښیي موټر ستاسو ملکیت دي. کله چي تاسو موټر پیرئ، باید په 30 ورځو کي د عنوان لپاره درخواست وکړئ. که مو په 30 ورځو کي درخواست ونکړ، نو تاسو باید یوه جریمه تادیه کړئ.

تاسو کولایشئ د جواز په هره اداره کي د عنوان لپاره نوملیکنه وکړئ. د عنوان لګښت به $8.50 وي او تاسو به اړ یاست چي $6.00 د پروسي د فیس په توګه تادیه کړئ. تاسو باید د پلورني ټول ایالتي او سیمه ییزې مالیات تادیه کړئ. د پلورني د تادیي وړ مالیاتو د اندازې په اړه د جواز له یوې اداري سره په (573) 526-3669 شمېره اړیکه ټینګه کړئ او یا له **http://dor .mo .gov/** وېب ساټی څخه لیدنه وکړئ او د پلټني په باکس کي "sales tax calculator" ته ننوځئ.

کله چي تاسو عنوان ته نوم لیکنه کوئ، نو یو رسید به ترلاسه کړئ. تاسو به خپل عنوان د مېل له لارې له ډیپارټمنټ څخه ترلاسه کړئ.

عنوان یو ډېر مهم شخصي سند دی. عنوان مو په موټر کي مه ساتئ.

**د عنوان د ترلاسه کولو لپاره څه ته اړتیا لرئ.**

د نویو او کارول شویو موټرو لپاره اړتیاوې توپیر لري، همدارنګه د هغو موټرو لپاره چي په میسوري او له میسوري څخه بهر پیرل شوي وي. د دې حالاتو لپاره د اړتیاوو یوه شرحه په لاندې ډول ده.

**په میسوري کي پیرل شوي موټرونه**

- په میسوري کي نوي پیرل شوي موټر — معامله کوونکی به تاسو ته د عنوان یو غوښتنلیک او د جوړوونکي د مبدا بیانیه (MSO) درکړي. MSO ښیي چي موټر نوی دی او راجستر شوی نه دی. تاسو (پیرودونکی) او معامله کوونکی باید د MSO پر شا د اوډومیټر ښوونډونکي برخه ډکه کړئ.
- کارول شوی موټر چي په میسوري کي پیرل شوی وي – تاسو باید له پلورونکي څخه په سمه توګه تعیین شوی یو عنوان ترلاسه کړئ (د شرحي لپاره لاندي برخه وګورئ) چي وښیي دا موټر تاسو پیرلی دی. که چېرته تاسو له پیرونکي څخه یو کاریدلی موټر وپیره، باید د عنوان یو بشپړ شوی درخواست هم ترلاسه کړئ. د 2011 او تر هغې را وروستیو موډلونو موټرو لپاره د عنوان په شا کي د اوډومیټر یوه مناسب څرګندوونکي ته اړتیا ده، تر هغې چي د موټر عمر شلو کلونو ته ورسېږي. هغه عنوان چي تاسو ته ټاکل شوی، که چېرته له ایالت څخه بهر وي، نو تاسو باید د هویت یوه شمېره او د کیلو متر د شمېر (ID/OD) تایید درکړي چي د پلټني د یوه مجوز تمځای په وسیله بشپړ شوی وي.

**له ایالت څخه بهر پیرل شوي موټرونه**

- نوی موټر چي له ایالت څخه بهر پیرل شوی وي — تاسو باید د پلورونکي بل یا د پلور بل او له ایالت څخه بهر پلورونکي د MSO ټاکل شوی فورم ترلاسه کړئ. تاسو (پیرودونکی) او پلورونکی باید د MSO پر شا د کیلو متر د شمېر ښووندونکي برخه ډکه کړئ.

- <u>کارول شوی موټر چې له میسوري څخه بهر پیرل شوی وي —</u> تاسو باید له پلورونکي څخه په سمه توګه تعیین شوی یو عنوان ترلاسه کړئ (د شرحې لپاره لاندې وګورئ) یا باید له پلورونکي څخه بیا تعیین شوی عنوان ترلاسه کړئ. که چېرته ایالت کوم عنوان نه غواړئ، تاسو باید د پلورنې بېل او په ایالت کې د یاد موټر د راجسترېشن وروستی تصدیق پاڼه ترلاسه کړئ. د 2011 او تر هغې را وروستیو موډلونو موټرو لپاره د اوډومیټر یوه مناسب څرګندوونکي ته اړتیا ده، تر هغې چې د موټر عمر شلو کلونو ته ورسېږي. هغه عنوان چې تاسو ته ټاکل شوی، که چېرته له ایالت څخه بهر وي، نو تاسو باید د هویت یوه شمېره او اوډومیټر (ID/OD) تایید درکړي چې د پلټنې د یوه مجوز تمځای په وسیله بشپړ شوی وي.

**په سمه توګه تعیین شوي عنوانونه**

په سمه توګه تعیین شوي عنوان کې لاندې معلومات د تعیینولو په ساحه کې بشپړ شوي وي:

- د پیرودونکي نوم او پته؛
- د اوډومیټر لوستنه، که موجوده وي؛
- د موټر پیر بیه؛
- د پیرلو نېټه؛
- د حق لرونکي نوم، که موجود وي؛
- د ټولو پلورونکو لاسلیک او پرېنټ نوم؛ او
- د پیرونکیپرېنټ نوم او لاسلیک، که موجود وي.

**پخوا زیانمن شوي موټرونه**

د هغو موټرونو د عنوانولو په اړه په (573) 526-3669 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ چې د ژغورنې، پرزه کولو او بیا ترمیمولو لپاره پیرل کېږي او یا د دې لپاره لاندې پتې ته لیک واستوئ:

د میسوري د عوایدو ریاست د موټرو بیرو

Missouri Department of Revenue
Motor Vehicle Bureau
301 West High Street, Room 370
P.O. Box 100
Jefferson City, Missouri 65105-0100

**د کیلو متر د شمېر لوستل**

کله چې تاسو یو موټر پیرئ یا یې پلورئ او د موټر موډل 2011 یا تر دې نوی وي او د موټر عمر له 20 کلونو څخه کم وي، نو پلورونکی باید د عنوان پر تخصیص تاسو ته د کیلو متر لوست ولیکي. که چېرته موټر نوی وي، د کیلو متر لوست باید پر MSO وي. دواړه هم پیرونکی او هم

پلورونکی باید د خپل نوم په لیکلو او لاسلیک سره وهل شوی واټن تایید شي. په ځینو مواردو کې ښایي د کیلو متر د شمېرنې لپاره یوې جلا بیانیې ته اړتیا وي.

**ستاسو د موټر راجستر کول**

که چېرته تاسو د میسوري اوسیدونکي یاست، باید خپل موټر په میسوري کې راجستر کړئ. که چېرته تاسو نوي میسوري ته راغلي یاست، وروسته تر هغې چې د میسوري استوګن شئ، باید په 30 ورځو کې خپل موټر راجستر کړئ.

که چېرې تاسو د میسوري نوي اوسیدونکي یاست، باید خپل له ایالت څخه بهر عنوان وسپارئ او د میسوري عنوان لپاره نوم لیکنه وکړئ. که چېرته ستاسو عنوان د کومې مالي ادارې په مالکیت کې وي

او نشي کولای تاسو ته له ایالت څخه بهر عنوان درکړي، تاسو باید د مالي ادارې یوه بیانیه چمتو کړئ چې ښيي عنوان به د موټر ښښتن ته ورنکړل شي او یو له لاندې درې غوراویو څخه،

له ایالت څخه د بهر عنوان د مخ او شا کاپي چې د متقاضي نوم پرې د موټر د مالک په توګه او د مالي ادارې نوم پرې د حق لرونکي په توګه ذکر شوی وي؛ له ایالت څخه بهر عنوان د کاپلي رسید د متقاضي نوم د مالک او د ادارې نو د حق لرونکي ادارې په توګه څرګندي، البته دا په هغه صورت کې چې له ایالت څخه بهر عنوان د داسې ایالت وي، چې هغه ایالت الکترونیکي عنوانونه ورکوي؛ یا له مالي ادارې څخه بیانیه چې په سر کې یې لیکل شوي چې عنوان د الکترونیکي عنوان لرونکي ایالت له لوري ورکړل شوی دی.

کله چې تاسو خپل موټر په میسوري کې راجستر کوئ، نو د میسوري د جواز پلېټ او د کال ټب چې په پلېټ کې ځای پر ځای دی، ترلاسه کوئ.

تاسو کولای شئ خپل موټر د جواز په هره اداره کې راجستر کړئ. که چېرته تاسو د سورلۍ موټر راجستر کوئ، نو د راجستر کولو فیس مو د موټر د هارس پاور د مالیې پر اساس دی. که چېرته تاسو کوم سوداګریز موټر راجستر کوئ، نو د راجستر کولو فیس به یې د زون او ناخالص وزن پر اساس وي. د پروسې د اجرا کولو یو اضافي فیس هم د پلې کېدو وړ دی.

بنایي تاسو پر شرایطو برابر یاست چې د خپل موټر لپاره دوه کلن راجسترېشن ترلاسه کړئ. که چېرته په یوه جفت کال کې (لکه 2018) ستاسو موټر د جفت کال موډل وي، نو تاسو کولای شئ د دوه کلونو لپاره یې راجستر کړئ. د دې برعکس، که چېرته د یوه طاق کال په جریان کې (لکه 2019) ستاسو د موټر د کال موډل طاق وي، نو تاسو کولای شئ چې د دوه کلونو لپاره یې راجستر کړئ. که داسې نه وي، نو یوازې د یوه کال لپاره راجسترېشن د لاسرسي وړ دی.

**هغه څه چې تاسو د خپل د موټر په راجستر کولو کې ورته اړتیا لرئ**

تاسو باید د خپل موټر د راجسترېشن تر پای ته رسېدو یوه میاشت مخکې په خپل مېل کې د تجدید یوه خبرتیا ترلاسه کړئ. که مو خبرتیا ترلاسه نکړه، لا هم د قانون له مخې مکلف یاست چې د خپل د جواز پلېټونه تر پای ته رسیدووراندې تجدید کړئ.

د دې لپاره چې د تجدید د خبرتیا له ترلاسه کولو څخه ډاډ حاصل کړئ، نو که چېرته بې ځایه کېږئ،په یاد ولرئ خپله پته تازه کړئ. تاسو کولای شئ **mvbmail@dor.mo.gov** ته بریښنالیک واستوئ او په هغه کې خپل بشپړ نوم، پخوانۍ او نوې پته، ستاسو د موټر چلوونکي د جواز شمېره یا ستاسو د ټولنیز امنیت د شمېرې وروستي څلور عددونه او ستاسو د موټر د جواز د پلېټ شمېره (شمېرې) ولیکئ.

د تجدید په خبرتیا کې به تاسو ته هغه د اړتیا وړ موارد لیکل شوي وي، چې تاسو د خپل موټر د راجسترېشن د تجدید لپاره ورته اړتیا لرئ. ډاډ ترلاسه کړئ چې لېست ولولئ او د اړتیا وړ اسناد د جواز اداري ته درسره راوړئ. د اړتیا وړ سندونه لاندې ذکر شوي دي، خو ټول بنایي پر تاسو تطبیق نشي.

- له ډیپارټمنټ د تجدید خبرتیا، د تېر کال د راجستریشن رسید یا د خپل عنوان یوه کاپي.
- د شخصي ملکیت د تادیه شوي مالیې رسید یا ستاسو د تېرې دورې د راحسترېشن لپاره له هغه ښارګوټي څخه د نه ارزونې یوه بیانیه چې پکې اوسېږئ (یا د سنټ لویس ښار). (که چېرته تاسو یو کال راجسترېشن درلود، نو د تېر کال رسید مو وښایاست. که چېرته تاسو د دوه کلونو راجسترېشن درلود، نو د تېرو دوه کلونو رسید مو وښایاست.)
- د بیمې اوسنی د هویت کارت یا د مالي مسوولیت کوم بل ثبوت (د تفصیلي معلوماتو لپاره 13 څپرکي ته مراجعه وکړئ).
- د خوندیتوب اوسنی تصدیق پاڼه یا د شین کوریزو ګازونو د خپرولو ارزونه چې په تېرو 60 ورځو کې ترسره شوې وي، که چېرته د تطبیق وړ وي (د نورو معلوماتو لپاره 14 څپرکي ته مراجعه وکړئ).
- د سم راجسترېشن او پروسې د ترسره کولو فیس.

نکته! تاسو همدارنګه کولای شئ خپل پلېټونه په انلاین بڼه هم په **http://dor.mo.gov/motorv/plates/** کې تجدید کړئ. که چېرته تاسو د دغه هوسا غوراوي لپاره پر شرایطو برابر یاست، نو د تجدید په خبرتیا کې مو د شخصي هویت یوه شمېره (PIN) لیکل کېږي.

**د موټر د پلورنې نور معلومات**

د ایالتي قانون له مخې تاسو مکلف یاست چې د خپل موټر یا بلې نقلیه وسیلې په اړه د پلورنې د یوې راپور (5049 فورم) په بشپړولو او د جواز ادارې ته په استولو سره د 30 ورځو په موده کې خبر ورکړئ.

**د جواز غلا شوې پلېټونه او ټېونه**

که چېرته محضري سوګند پاڼه لاسلیک کړئ چې څرګندوي ستاسو پلېټونه او ټېونه غلا شوي دي، نو د ایالتي قانون له مخې تاسو کولای شئ چې په کال کې دوه ځلي په وړیا ډول خپل غلا شوي پلېټونه او ټېونه تبدیل کړئ (د پروسې $6.00 فیس د پلي کېدو وړ دی).

**ورک شوي یا خراب شوي عنوانونه، پلېټونه یا ټېونه**

که چېرته ستاسو د جواز پلېټ (پلېټونه)، ټېب (ټېونه) یا عنوان ورکویا ویجاړ شو، باید د بدیل لپاره یې درخواست وکړئ. د عنوان د بدلولو لګښت $8.50 دی؛ د پلېټونو د بدلولو لګښت $8.50 دی او د ټېونو د یوه سېټ د بدلولو فیس هم $8.50 دی. د پروسې د اجرا کولو یو اضافي فیس $6.00 هم د پلي کېدو وړ دی.

**شخصي شوي او ځانګړي شوي د جواز پلېټونه**

تاسو اختیار لرئ چې د خپل موټر لپاره د جواز شخصي شوي او ځانګړي پلېټونه ترلاسه کړئ. د راجسترېشن پر عادي فیس سربېره، ښایي د شخصي شوي جواز یو اضافي فیس هم له تاسو څخه وګرځول شي. کولای شئ د شخصي شویو او ځانګړو د جواز پلېټونو په اړه معلومات په انلاین بڼه ومومئ:

**http://dor .mo .gov/motorv/plates/specialty .php.**

اساساتایالتي قانون له ټولو موټر چلوونکو او مالکانو څخه غواړي چې د مسوولیت د بیمي یو ډول ولري. د مسوولیت بیمه د بیمه کوونکي هغه قانوني مسوولیت ته پوښښ ورکوي چې نورو کسانو یا د هغوی ملکیتونو ته د اوښتو زیانونو په پایله کې ورته متوجه کېږي. دې ته مالي مسوولیت وایي.

د موټرونو مالکان مکلف دي چې د موټر چلوني د جاز د پلېټ اخیستلو او یا بیا نوي کولو لپاره د نوم لیکنې پر مهال د بیمې سند وښیي. ډېرې لارې موجودې دي چې له مخې یې کولای شئ د بیمې سند چمتو کړئ. هغه لاندې ذکر شوي دي.

- ستاسو د اوسنۍ بیمې د اصلي سند یوههویت کارت کاپي چې د بیمې د کمپنۍ له لوري مو درکړل شوی وي؛
- ستاسو د موټر د مسوولیت د بیمي د پالیسۍ یوه کاپي یا د صحافي بیمه؛ (یوه موقتي پالیسي)
- د بیمي یو تادیه شوی رسید چې د پالیسۍ معلومات څرګندوي؛
- د ځان د بیمي یوه تصدیق پاڼه چې د ډیپارتمنټ له لوري درکړل شوې وي؛
- یو ID کارټ چې د تضمین او یا امنیتي کاغذونو د سپارلو پر مهال ریاست درکړی وي؛ یا
- لاسي الکترونیکي آله.

ډېری موټر چلوونکي د مسوولیت بیمه د بیمې د کمپنۍ او یا استازي له طریقه ترلاسه کوي، مګر د مسوولیت بیمې نور ډولونه هم شته.

- د خپل ځان لپاره بیمه: د دې لپاره چې خپل ځان بیمه کړئ، تاسو باید له 25 څخه ډېر موټرونه ولرئ او وښایاست چې د خپلو موټرو د خسارې جبران کولای شئ. د ځان د بیمي یوه تصدیق پاڼه به د ډیپارتمنټ له لوري درکړل شي.
- تضمین پاڼه، امنیتي سپرده، نورې د معاملې وړ بها لرونکي کاغذونه: د قرضې د پاڼو، تضمین او یا امنیت له لارې ځان بیمه کړئ، نو باید په ریاست کې د $75,000 (د املاک د ضمانت په صورت کې $150,000) په ارزښت ضمانت، تصدیق یا وثیقه ثبت کړئ. ریاست به د ځاني بیمي یو تصدیق د بیمې د سند په توګه درکړي.
- نغده: ښایي د $75,000 په اندازه نغدي ضمانت د دولت خزانې ته وسپارل شي.

د ځان د بیمي یوه تصدیق پاڼه به د ډیپارتمنټ له لوري درکړل شي.

**د اړتیا وړ پوښښ لږ تر لږه کچه**

کله چې ستاسو د عملونو په پایله کې نورو ته ځاني یا مالي زیان ورسېږي، نو د مسوولیت بیمه د هغې پر وړاندې ستاسیو قانوني مسوولیت ته پوښښ ورکوي. د قانون له مخې د اړتیا وړ د پوښښ تر ټولو کچه په لاندې ډول ښودل شوې ده:

- د بدني زیان لپاره هر کس ته $25,000؛
- د بدني زیان لپاره هر ټکر ته $50,000؛ او
- د مالي زیان په صورت کې هر ټکر ته $25,000.

د قانون له مخې همدارنګه تاسو مکلف یاست چې د بدني زیان په صورت کې هر شخص ته $25,000 او د بدني زیان په صورت کې هر ټکر ته $50,000 نابیمه شوی پوښښ ورکړي.

**ستاسو د بیمې ساتل**

کله چې تاسو یو موټر له اداري سره راجستر کوئ، باید فورم لاسلیک کړئ چې ښيي تاسو بیمه لرئ او بیمه به مو په موټر کې وساتي.

تاسو باید د بیمې ثبوت په خپل موټر کې وساتئ. که چېرته د قانون د پلي کولو افسر له تاسو څخه ثبوت وغواړي او تاسو يې ورنه کړئ او نه ښودلای شئ، نو تاسو ته به یو ټکټ درکړي.

ریاست به هر وخت له تاسو څخه غواړي تر څو خپل د بیمې سند ورته وښایاست. که چېرته تاسو ټکر وکړ او د بیمې سند مو پر وخت ونه ښود، نو ریاست به له تاسو څخه وغواړي چې ثابت کړئ چې تاسو بیمه لرئ.

**د بیمې په ساتلو کې ناکامي**

بیمه مهمه ده. که چېرته تاسو د بیمې په ساتلو کې پاتې راشئ نو دا کار یو لړ عواقب لري ـــ یوازې دا نه ده چې تاسو بهدیرې پیسې مصرف کړي د ټکر کولو په صورت کې زیان وکړئ، مګر تاسو ښایي د موټر چلونې جواز او د جواز پلېټونه هم له لاسه ورکړئ.

که چېرته ریاست پوه شي چې تاسو خپله بیمه نه ده ساتلې، نو د پوست له لارې به د ځنډېدو خبرتیا ترلاسه کړئ. که چېرته تاسو بیمه ونلرئ، له دې امله ښايي د موټر چلونې جواز او د جواز پلېټونه در څخه واخیستل شي یا وځنډول شي. د دې لپاره چې خپل جواز او د جواز پلېټونه بېرته ترلاسه کړئ، نو مشخص کارونه دي چې تاسو يې باید ترسره کړئ.

| د ځنډېدنو تعداد | له تاسو سره څه کېږي |
| --- | --- |
| یوه ځنډېدنه | ستاسو د موټر چلونې جواز او یا د جواز پلېټونه به تر هغې پورې وځنډېږي چې تاسو: <br>– 20$ فیس تادیه کړئ. <br>– د بیمې ثبوت بشپړ کړئ. تاسو باید دا د درې کلونو لپاره ترسره کړئ. |
| دوه ځنډېدنې (له یو بل څخه په دوه کلونو کې) | ستاسو د موټر چلونې جواز او یا د جواز پلېټونه به تر 90 ورځو پورې وځنډېږي. تاسو باید همدارنګه: <br>– 200$ فیس تادیه کړئ. <br>– د درې کلونو لپاره د بیمې ثبوت بشپړ کړئ. |
| درې (یا تر دې ډېرې) ځنډېندنې | ستاسو د موټر چلونې جواز او یا د جواز پلېټونه به تر یو کال پورې وځنډېږي. تاسو باید همدارنګه: <br>– 400$ فیس تادیه کړئ. <br>– د درې کلونو لپاره د بیمې ثبوت بشپړ کړئ. |

د بیمې د سند د ډکولو تر ټولو عام مېتود د SR-22 د بیمې له لارې ډکول دي. د SR-22 د ډکولو لپاره د خپل بیمې له کمپنۍ او یا استازي سره اړیکه ټینګه کړئ. که چېرته تاسو ونه کولای شئ د درې کلونو لپاره بیمه وساتئ، نو ستاسو د موټر چلونې جواز او د موټر د جواز پلېټونه به بیا ځلي وځنډېږي.

**په ترافیکي پېښه کې د اوښتي زیان د خسارې په تادیه کې پاتې راتلل**

که چېرته په ترافیکي پېښه کې تاسو پړ یاست او د هغه اوښتي زیان خسار ورنکړئ چې تاسو يې لامل شوي یاست، ستاسو د موټر چلونې جواز او یا د موټر د جواز پلېټونه به د یو کال لپاره وځنډېږي. که چېرته تاسو لاندې کارونه ترسره کړئ، نو د یوه کال په جریان کې به تاسو ته بېرته خپل امتیاز درکړل شي:

- 20$ فیس تادیه کړئ؛ او
- د عوایدو د ریاست د موټر چلونې د جواز بیرو ته ثبوت واستوئ چې زیانونه مو ګاللي دي.

This independent translation is not affiliated with the State of Missouri or any of its agencies.
دا خپلواکه ژباړه د میسوري ایالت یا د هغې کومې اداري پورې تړاو نلري.

**ترافیکي پېښې**

ترافیکي پېښه هغه ده چې تاسو د موټر چلونې پر مهال خپل ځان ته، بل چا ته او یا ملکیت زیان اړوئ. په مسوولانه ډول او محافظه کارۍ سره د موټر چلول کولای شي ستاسو لپاره د ترافیکي پېښې شونتیا را کمه کړي، مګر په ټوله کې هېڅ شی هم د دې مخنیوی نشي کولای. ان که تاسو له یوه پارک شوي موټر سره هم ټکر وکړئ، نو صحنې څخه مه ځئ. د ترافیکي پېښې له ساحې څخه وتل جرم دی. که چېرته تاسو ټکر وکړ، نو باید:

- وداربېږئ! که یې امکان وي، خپل موټر له سړک څخه بهر کړئ، په ځانګړې توګه هغه وخت چې د بلې ټکرونه احتمال موجود وي.
- که څوک ژوبل شوي وي، مرسته ورسره وکړئ. هڅه وکړئ چې ټپي شوی شخص هوسا کړئ، مګر هغهیا هغه مه خوځوئ. امبولانس ته زنګ ووهئ.
- پولیسو ته زنګ ووهئ.
- که چېرته ترافیکي پېښه په شپه او یا خرابه هوا کې را منځته شوې وي، نورو ترافیکو ته د خبرداري ورکولو لپاره له اشارو، څراغونو او فلشونو څخه استفاده وکړئ.
- په پېښه کې له ښکېلو کسانو سره لاندې معلومات تبادله کړئ:
    - نوم؛
    - پته؛
    - د موټر چلونې د جواز شمېره، د موټر د پېژندنې شمېره (VIN) او د جواز د پلېټ شمېره؛ او
    - ستاسو د بیمې د کمپنۍ نوم او د پالیسي شمېره.
- تر هغه وخته پورې هلته پاتې شئ چې د قانون پلې کولو یو افسر تاسو ته ووایي چې کولای شئ د پېښې له ساحې څخه وتلای شئ.
- خپل د بیمې کمپنۍ سرهژر تر ژره اړیکه ونیسئ، ان که په پېښه کې تاسو پړ هم نه واست.

**"اداره یې کړئ او روښانه یې کړئ"**

که چېرته تاسو په کومه کوچنۍ ترافیکي پېښه کې هم ښکېل یاست، یو له لومړنیو فکرونو چې ښایي تاسو ته درشي هغه دا دی چې خپل موټر وخوځوئ او کنه. ځواب هو دی.

یو ایالتي قانون چې لس کاله مخکې نافذ شوی دی، داسې حکم کوي چې په کوچنیو او له ځاني زیان پرته پېښو کې ښکېل موټر باید له سړک څخه بهر کړای شي. د میسوري د ترانسپورټ ریاست له یوه لس کلن یادښت څخه په ګټې اخیستنې سره موټر چلوونکو ته ور یادوي چې "اداره یې کړي او روښانه یې کړي" تر څو ډاډ حاصل شي چې ترافیکي پېښې یوې لوړې کچې ته ونه رسېږي. دغه اداره همدارنګه په سنټ لوییس او کنساس ښارونو کې نښانونه لګوي او پرې لیکي چې "اداره یې کړئ او روښانه یې کړئ".

که چېرته تاسو په کومه کوچنۍترافیکي پېښه کې ښکېل یاست او دا پېښه ځاني زیان نلري، نو تاسو اړتیا لرئ خپل موټر د سړک غاړې او یا کوم بل نږدې موقعیت ته ولېږدوئ. هره دقیقه کې چې یو موټر په خالي لاره درېږي او د ترافیکو کرښه ماتوي، دغه موټر په څلور دقیقو کې بیا تر نورو ترافیکو رسېږي.

دغه قانون چې د "Move It" په قانون هم مشهور دی، د دې چانس را کموي چې موټر په دویمه ترافیکي پېښه کې ښکېل شي، چې په میسوري کې د 18 مړینې لامل کېږي.

**د ترافیکي پېښې د راپور ډکول**

تاسو د مشخصو شرایطو له مخې اړ یاست چې د ترافیکي پېښې یو راپور په ریاست کې ثبت کړئ. د ایالتي قانون له مخې د ترافیکي پېښې راپور باید په

30 ورځو کې ثبت شي. ان که ترافیکي پېښه د پارکېنګ په لاټ کې هم را منځته شوې وي، یا حساب روښانه شوی وي، نو تاسو باید د موټر چلونې د جواز بیرو ته یو راپور ورکړئ، که چېرته:

- پېښه په میسوري کې را منځته شوې وي؛
- د پېښې له رامنځته کېدو څخه له یوه کال نه کم وخت تېر شوی وي؛

- هغه کس چې په پېښه کې ښکېل و، د مسوولیت بیمې پوښښ نلري؛ او
- دوه یا ډېرو کسانو ته داسې مالي زیان اوښتی وي چې اندازه یې له 500$ څخه لوړه وي، یا کوم بل کس ټپي او یا مړ شوی وی.

په نورو شرایطو کې، ښایي له تاسو څخه و نه غوښتل شي چې د پېښې په اړه راپور ورکړي، مګر ښايي تاسو وغواړئ چې په اړه یې راپور ورکړئ. که چېرته په پېښه کې له 500$ څخه زیات مالي زیان نه وي اوښتی، مرګ او ژوبله نه وي را منځته شوې، خو په پېښه کې داسې موټر چلوونکی ښکېل وي، چې بیمه نلري، نو تاسو کولای شئ چې راپور ورکړئ. اداره

به یوازې وکولای شي د بیمې د ساتنې لپاره د هغه موټر چلوونکي پر وړاندې اقدام وکړي چې بیمه نلري.

تاسو کولای شئ د موټر د ټکر راپور (**Form 1140**) د اداري له وېب سایټ څخه ترلاسه کړئ، همدارنګه ګولای شئ ستاسو د بیمې له کمپنۍ او یا استازي او یا د جواز له کومې اداري څخه یې ترلاسه کړئ.

کله چې تاسو د پېښې راپور بشپړ کړ، کولای شئ د پوست له لارې یې اداري ته واستوئ.

د میسوري د موټر چلونې د جواز بیرو
Missouri Driver License Bureau
301 West High Street — Room 470
پوسټ بکس Box 200
Jefferson City, Missouri 65105-0200
فکس: (573) 526-7365

**ترافیکي پېښه - د رغونې او ساختماني، کار، یا بېړنې وضعیت ساحه**

که تاسو په یوه ترافیکي پېښه کې ښکېل یاست او د لویې لارې له کارکوونکي یا بېړني وضعیت ته له ځواب ویونکي چې سره د رغونې په ساحه کې کار کوي، په کاري یا د بېړني وضعیت په ساحه کې وي، او ټکر ورسره وکړئ، نو ښایي ستاسو د موټر چلونې امتیاز د **RSMo .304 .585 .6** او 304 .894 .6 برخو مطابق لغوه شي.

د خونديتوب ارزوني

د ډېری موټرو د راجستر کولو او بیا تجدید لپاره د خونديتوب ارزونو ته اړتيا ده. ځینې استثناآت شته چې په راتلونکي برخه کې پرې بحث کېږي.

په 10 څپرکي کې پر دې بحث شوی دی چې تاسو بايد د موټر چلوني لپاره په مناسب موډ کې یاست. کټ مټ همداسي ستاسو موټر هم بايد د چلېدني په موډ مناسب موډ کې وي.

ستاسو د موټر د خونديتوب ارزونه د راجسټرېشن د دوه کلونو لپاره ښه ده، تر هغې چې تاسو خپل موټر وپلورئ. هغه موټر چې د موډل کال يې جفت وي (لکه 2018) بايد و ارزول شي چې د راجسټرېشن موده يې د جفت تقويمي کلونو په جريان کې پای ته رسېږي. هغه موټر چې د موډل کال يې طاق وي (لکه 2017) بايد و ارزول شي چې د راجسټرېشن موده يې د طاق تقويمي کلونو په جريان کې پای ته رسېږي. د پلټنې هر رسمي مرکز ښايي د پلټنې لپاره حد اکثر 12$ (د موټر سايکل د پلټنې لپاره تر 10$) فيس واخلي.

که چېرته ستاسو موټر د اروني له پړاو څخه تېر شي، د ارزوني يا پلټنې مرکز به تاسو ته د پلټنې يو تصديق درکړي چې د سند په توګه يې وښاياست. دغه سند د 60 ورځو لپاره ښه دی. که چېرته تاسو د ميسوري له يوه پلورونکي څخه موټر پيرلی وي او پلټنه د موټر له پيرلو څخه مخکې په 60 ورځو کې ترسره شوې وي، نو تاسو ته د ميسوري د پلورونکي له لوري درکړل شوی سند د 90 ورځو لپاره ښه دی.

ستاسو د موټر د راجسټرېشن د تجديد خبرتيا به له تاسو سره مرسته وکړي تر څو تشخيص کړئ چې ستاسو د راتلونکي تجديد لپاره پلټنې ته اړتيا ده او کنه.

**د اړتيا وړ توکو کې استثناوې**

د موټرو لاندې ډولونه د خونديتوب له ارزولو څخه مستثنی دي:

- هغه موټر چې د جوړېدو له کال څخه وروسته پرې له لسو کلونو کم تېر شوي وي او له 150,000 مايلونو څخه کم ګرځېدلي وي، د خونديتوب له پلټنې څخه مستثنی دي. په دې کې هغه موټر هم شاملېږي چې له ايالت څخه بهر عنوان لري. بېلګه: د 2017 کال موډل موټر چې مايلېج يې له 150,000 مايله څخه کم وي، نو دغه موټر به په 2027 کال کې د خونديتوب د پلټنې څخه مستثنی وي.
- ټول ټرېلرونه.
- هغه موټرونه چې د ايالتونو تر منځ سوداګرۍ کې ښکېل دي او د ميسوري د ترانسپورت له رياست سره راجستر دي.
- هغه موټرونه چې د جوازونو تاريخي پلېټونه څرګندوي.
- هغه موټرونه چې د کباړ، نجات يا بيارغوني لپاره پلورل شوي وي.
- هغه موټرونه چې يوه پلورونکي پر بل پلورونکي پلورلي وي.
- د کم سرعت لرونکي موټر او هغه چې د **RSMo** په <u>304 .029 برخه کې تعريف شوي دي</u>.
- هغه موټر چې د 26,000 پونډو يا تر دې ډېرو لپاره راجستر شوي دي، او له 12 مياشتو څخه د کمې مودې لپاره راجستر شوي دي. يادښت: د تجديد په خبرتيا کې به د پلټنې لپاره د اړينو مواردو يو لېست موجود وي؛ مګر که چېرته اداره راجسټرېشن د اپرېل مياشتې پر لومړۍ يا تر هغې وروسته صادروي، نو بيا پلټنې ته اړتيا نشته.

که چېرته ستاسو موټر په پورته ذکر شويو استثناوو کې نه راځي، نو کېدای شي اړتيا وي چې د خونديتوب يوه پلټنه تېره کړي. د پلټنې هر مجوز مرکز کولای شي ستاسو د موټر د خونديتوب ارزونه ترسره کړي. مجوز سټېشنونه به هغه نښې څرګندې کړي چې په 54 مخ کې ذکر شوي دي. د خپل موټر د خونديتوب د پلټنې د اړينو مواردو لپاره د خپل موټر د راجسټرېشن د تجديد خبرتيا ولولې.

**د اړتیا وړ تجهیزات**

برېکونه ـــ برېکونه باید په سم کاري وضعیت کې وي.

د مخې څراغونه ـــ ستاسو مورټر باید لږ تر لږه دوه د مخې سپین څراغونه ولري چې په سمه توګه کار کوي.

د شا څراغونه ـــ ستاسو موټر باید لږ تر لږه دوه د شا څراغونه او غبرګوونکي ولري چې په سمه توګه کار وکړي او نور موټر چلوونکي وکولای شي چې له 500 فوټه واټن څخه یې ولیدلای شي.

د سېګنال ورکولو آلي ـــ ستاسو موټر باید فعالي د ګرځېدو اشارې او د برېک څراغونه ولري چې په اصلي توګه د تولیدوونکي له لوري انسټال شوي وي.

د سټرینګ میکانیزم ـــ ستاسو د سټرینګ میکانیزم باید نه ډېر خلاص وي او نه ډېر تړلی.

ټایرونه او ویلونه ـــ ستاسو په موټر کې نباید کاره یا نامتجانس ټایرونه وي.

د خوندیتوب ښیښې ـــ که چېرته ستاسو موټر د 1936 کال د جنورۍ له 1 نېټې څخه را وروسته جوړ شوی وي، نو دا باید په ټولو کړکیو کې د خوندیتوب ښیښې ولري.

د مخې ښیښه ـــ ستاسو د موټر د مخې ښیښې د لید ساحه نباید په بد ډول ماته وي.

د لید کموونکي توکي ـــ ستاسو د موټر د مخې پر ښیښه نباید داسې څه وي چې ستاسو د لیدو وړتیا را کمه کړي، له هغو لېبلونو او سټېکرونو څخه پرته چې د قانون یا مقرراتو له لوري پرې لګېدلي وي او له هغو معلوماتو نښو پرته چې معمولاً د مخې ښیښې په پورته برخه کې د تولیدوونکي له لوري لګېدلي وي.

د مخې ښیښه پاکونه ـــ ستاسو د موټر د مخې ښیښه پاکونه باید په سمه توګه کار وکړي.

د سیټ کمربندونه ـــ که چېرته ستاسو د سورلۍ موټر د 1964 کال د جون له 30 مې نېټې څخه وروسته جوړ شوی وي، نو دا باید په مخکیني سیټ کې د سیټ دوه کمربندونه ولري.

هارن ـــ ستاسو موټر باید داسې هارن ولري چې سم کار وکړي او نور موټر چلوونکي او پلي لارویان یې واوري.

د اګزوز سیستم ـــ ستاسو موټر باید د اګزوز یو پایپ، د غږ خپه کوونکی او ټېل پایپ ولري.

هېنداري ـــ که چېرته ستاسو موټر له 1967 کال څخه را وروسته جوړ شوی وي، نو هرو مرو باید دننه او بهر د عقب هېنداري ولري.

د هوا د ککړتیا د کنټرول آلي ـــ که چېرته ستاسو موټر له 1967 کال څخه وروسته جوړ شوی وي او ډیزلي موټور نلري، نو باید د هوا د ککړتیا د کنټرول آلي ولري.

د ککړتیا د کنټرول دغه آلي باید په اصلي بڼه د تولیدوونکي له لوري په موټر کې انسټال شوي وي.

د نفتو سیستم ـــ د نفتو د سیستم ټول لینونه، پایپونه، تړونې او ټانکۍ باید په سمه توګه وصل شوي وي او هېڅ لیک ونلري.

د ختې موانع ـــ هغه لارۍ چې وروستي ګلګیرونه نلري، وزن یې له24,000 څخه ډېر ثبت شوی وي، باید د ختې موانع ولري.

بمپرونه ـــ د سورلۍ د موټرو بمپرونه له ځمکې څخه پورته د اندازه ګیرۍ په لوړه کچه کې له 22 انچونو څخه نباید تجاوز وکړي. د سوداګریز موټر د بمپرونو لوړوالی د موټر د ناخالص وزن له مخې تعیینېږي.

**د قانون له مخې نور اړین تجهیزات**

د خوندیتوب د پلټنې د ترسره کولو پر اړینو تجهیزاتو سربېره، د میسوري قانون د لاندې تجهیزاتو غوښتنه کوي:

د جواز (راجستریشن) پلیټونه ـــ د میسوري د قانون له مخې ټول پلیټونه باید په خوندي توګه په موټر کې ونښلول شي او ټولې هغه برخې یې باید روښانه او پاکې وي چې د قانون پلې کوونکې اداري یې پلټي. که چېرته ستاسو د جواز د پلیټ په شا و خوا کې چوکاټونه وي، MSHP تاسو ته در یادوي چې چوکاټونه نباید د پلیټونو کومه برخه وپوښي.

<u>که چېرته تاسو دوه پلیټونه ترلاسه کوئ</u>، نو یو باید د خپل موټر په مخه او بل یې په شا کې ونښلوئ.

<u>که چېرته تاسو کوم ټریلر یا موټرسایکل لرئ</u>، نو یوازې یو پلیټ به ترلاسه کړئ، چې باید د نقلیه وسیلې پر شا وي.

<u>که چېرته تاسو له 12,000 پونډو څخه زیاته وزن لرونکې مجوزه لارۍ لرئ</u>، نو یوازې یو پلیټ به ترلاسه کړئ، چې باید د لارۍ په مخه کې ونښلول شي. که چېرته تاسو دویم پلیټ غواړئ، دا باید په ځانګړې توګه وغوښتل شي. تاسو باید اصلي پلیټ د خپلې لارۍ په مخه کې ونښلوئ او که چېرته دویم پلیټ درکړل شوی وي، باید د لارۍ په شا یې ونښلوئ.

د جواز د پلیټ څراغ ـــ ستاسو موټر باید یو سپین پلیټ ولري چې د شا پر پلیټ ځلیږي تر څو په دې توګه پلیټ له 50 فوټه واټن څخه ولیدل شي.

را وتنې ـــ که چېرته ستاسو د موټر پر شاتنۍ برخه له پنځه فوټو څخه د زیاتې اندازې لپاره کوم څه را ځړیږي، نو ځانګړو تجهیزاتو ته اړتیا لرئ. د ورځې په اوږدو کې د راتلې برخې په پای کې باید یو سور بیرغ یا داسې ټوټه چې اندازه یې لږ تر لږه 16 انچه مربع وي. د را وتنې په وروستۍ برخه کې باید یو سور څراغ وي، له لمر لوېدو څخه ½ نیم ساعت وروسته تر لمر خاته یو ساعت مخکې پورې باید روښانه وي.

د بکسل سیم ـــ کله چې تاسو بل موټر بکسل کوئ، نو ستاسو او د هغه بل موټر تر منځ 15 فوټه واټن موجود وي. دواړه موټر باید د لمر له لوېدو څخه ½ ساعت وروسته له لمر ختو څخه ½ مخکې وخت پورې خپل څراغونه روښانه وساتي.

د ورو تلونکي موټر نښه ـــ له لمرې لوېدو څخه تر لمر خاته½ مخکې پورې چې هر موټر په 25 میله پر ساعت او یا تر دې ورو حرکت کوي، باید د "ورو تلونکي موټر" نښه ولري (3 څپرکي ته مراجعه وکړئ). نښه باید د موټر پر شا منځ ته نږدې له سړک څخه څلور فوټه یا تر دې پورته وي. نښه باید روښانه او غبرګوونکې وي.

د واورې لپاره مېخ لرونکي ټایرونه ـــ ستاسو موټر باید یوازې د نومبر له 1 د اپرېل تر 1 نېټې پورې د واورې لپاره مېخ لرونکي ټایرونه ولري.

د ښیښو رنګول ـــ د شا او اړخونو پر ښیښو رنګ او د لمر ضد سکرین موادو لګولو ته اجازه شته (د مخېدروازې کړکې ښیښې ته چې له65% څخه زیاته رڼا بنده کړي، اجازه نشته).

**د شین کوریزو ګازونو بهر کول**

د سنټ لویس ښار او سنټ لویس، سنټ چارلېس، فرانکلېن او جفرسون ښاګوټو استوګن موټر چلوونکي هم باید د شین کوریزو ګازونو د بهر کولو له مخې و ارزول شي. ځینې استثناوې شته چې په راتلونکي مخ کې ذکرشوې دي.

د شینو کوریزو ګازونو په اړه د هغو معلوماتو لپاره چې په دې لاربښود کې نه دي ذکر شوي، له 1-866-623-8378 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ یا د طبیعي سرچینو له وېب سایټ څخه لیدنه وکړئ

**http://dnr.mo.gov/** او د دروازې د موټر د پلټنې د پروګرام (GVIP) پلټنه وکړئ.

د شین کوریزو ګازونو د بهر کولو پلټنه د دوه کلونو لپاره ترسره کېږي. لکه د خوندیتوب د پلټنې په څېر، هغه موټرونه چې د موډل کال یې جفت وي او د راجسترېشن وخت یې په جفت تقویمي کال کې پای ته رسېږي. هغه موټرونه چې د موډل کال یې طاق وي د راجسترېشن دوره یې په طاقو کلونو کې پای ته رسېږي، نو باید په طاقو کلونو کې وپلټل شي.

ټول موټرونه باید د پلورنې پر مهال د شین کوریزو ګازونو د بهر کولو له مخې وپلټل شي، پرته له دې چې د موډل کال ته یې وکتیل شي (لاندې د استثناآتو لېست ته مراجعه وکړئ). نوي او هغه موټرونه چې عنوان یې د لومړۍ پلورنې وي، د موټر د موډل د کال او په هغه پسې بل کال کې چې له 6,000 مایله څخه کم ګرځېدلي وي له دې پلټنې څخه مستثنی دي.

**د اړتیا وړ توکو کې استثناوې**

د موټرو لاندې ډولونه د شین کوریزو ګازونو د بهر کولو له اروزولو څخه مستثنی دي:

- نوي موټرونه چې پخوا عنوان ورکړل شوی نه وي، د موډل د کال په جریان او په هغه پسې بل کال کې په دې شرط چې ملکیت یې بدلون نه وي کړی.
- 1995 او تر هغې زاړه په ګاسولینو چلیدونکي موټر.
- 1996 او تر هغې زاړه په ډیزلو چلیدونکي موټر.
- هغه موټرونه چې د تولیدوونکي ناخالص وزن (GVWR) یې له 8,500 پونډو څخه پورته وي.
- نوي موټرونه چې له تولید څخه وروسته د موډل په کال پسې د څلورو کلونولپاره عنوان او راجستر شوي نه وي، په لومړنی دوه کلنه پلټنه کې یې له 40,000 میله څخه کم ګرځیدلي وي.
- هغه موټرونه چې د خوندیتوب د دوه کلنو پلټنو تر منځ له 12,000 میلونو څخه کم ګرځي
- هغه موټر چې له ګاسولینو، ایتانول او ډیزلو پرته په بل ډول سون توکو چلېږي.
- هغه موټرونه چې تاریخي پلېټونه، د ښوونځي بسونه، شاټل بسونه، موټرسایکلونه، درې ټایره موټر سایکلونه او یا د سرک پلېټونه څرګندوي.
- په ګاسولینو چلیدونکي کم سرعته موټرونه یوازې په فرانکلین ښارګوټي کې.
- هغه موټرونه چې په یوه اغېزمنه شوې ساحه کې راجستر شوي وي (د سنټ لویس ښار او د سنټ لویس، سنټ چارلېس، فرانکلین او جفرسون ښارګوټي) مګر د 24 پرلپسې میاشتو لپاره له دې ساحې څخه بهر پاتې شوي او چلیدلي وي.

که چیرته تاسو د E ټولګي جواز لپاره نوم لیکنه کوئ، نو لاندې معلوماتو ته اړتیا لرئ. د سوداګریز موټر چلوونکي په توګه تاسو باید د سوداګریزو موټرو د قوانینو په ګډون د میسوري ایالت ټول قوانین مراعات کړي.

**یادښت:**

- ټولې اندازې او وزنونهحدود چې لاندې ذکر شوي دي د موټر په بار کې راځي.
- ټول محدودیتونه چې د ایالتونو تر منځ او یا ځانګړو تعیین شویو لویو لارو ته اشاره کوي د ایالتونو تر منځ لارې او یا لویې لارې څخه تر لس میلې پورې سړکونه پکې شاملېږي.
- اندازې، وزنونه او استثناوې چې په دې څپرکي کې ذکر شوې دي یوازې د میسوري ایالت د لویو لارو لپاره دي.

**د لوړ والي د اندازې محدودیتونه (له ځانګړې اجازې پرته)**

- له سوداګریزې ساحې څخه بهر* د یوه موټر د ارتفاع لوړه کچه په مشخصو لویو لارو کې او له هغوی ور هاخوا په لس مایلو کې ........................................................................ 14’
- په سوداګریزه ساحه کې د یوه موټر د لوړوالي اعظمي کچه .............................................. 15’
- په ټولو لویو لارو کې د لوړوالي اعظمي کچه ........................................................... 13½’

**سور**

- د هر موتر حداکثر سور........................................................................... 8½’

*سوداګریزه ساحه ـــ سوداګریزې ساحې یوازې هغه دي چې 75,000 تنه یا تر دې زیات اوسیدونکي ولري. د ښار له حدودو څخه بهر د یو مایل واټن او د هرو 50,000 اوسیدونکو لپاره یو مایل واټن او ور څېره سیمې په سوداګریزه ساحه کې راځي، پرته له:

- د سنټ لویس ښار په سوداګریزه ساحه کې له ښار څخه بهر 18 مایله هم راځي.
- د کنساس ښار په سوداګریزه ساحه کې د ښار له پولو څخه بهر 12 مایله واټن او د هاریسونویل ښار هم راځي.
- د سپرینګ فیلډ، سنټ جوزف او کولمبیا سوداګریزه ساحه یوازې دوه مایله د ښار له حدود څخه بهر ده.
- د ایالتونو تر منځ لویو لارو په سوداګریزه ساحه کې له ښار څخه یوازې دوه مایله وتلې سیمې راځي.

**اوږدوالی**

- د هر یوه موټر حداکثر اوږدوالی ........................................................................ 45’
- د هر بس اویا بې مسیره بریښنایي واګون حداکثر په اوږدوالي کې
- له یو فوټ مخکې او یو فوټ وروسته محافظتي بمپر څخه پرته ............................................ 45’
- د ټراکټور لارۍ او یا نیمه ټریلر حد اکثر اودوالی
  - د ایالتونو تر منځ او ځانګړو تعیین شویو لویو لارو کې د نیمه ټریلر اوږدوالی (په احد اکثر اودوالي کې بار نه شاملېږي)........................................................................ 53’
  - په نورو ټولو سړکونو کې ........................................................................ 60
- د ټراکټور لارۍ، نیمه ټریلر او د ټریلرونو د مجموعي (دوه برابره) حداکثر اوږدوالی
  - د ایالتونو تر منځ او ځانګړو تعیین شویو لویو لارو کې د نیمه ټریلر یا ټریلر اوږدوالی (ټولیز حداکثر اودوالی نه)........................................................................ 28’
  - په نورو ټولو سړکونو کې ........................................................................ 65’
- د لاریو او ټریلرونو او د موټرو د نورو ټولو مجموعو حداکثر اوږدوالی
  - د ایالتونو او نورو مشخصو لومړنیو لویو لارو کې ................................................ 65’

This independent translation is not affiliated with the State of Missouri or any of its agencies.
دا خپلواکه ژباړه د میسوري ایالت یا د هغې کومې اداري پورې تړاو نلري.

- په ټولو سړکونو کې مجموعي اوږدوالی ............................................................. 55’
- د موټرو د لېږدوونکو او کښتیو د لېږدوونکي حداکثر اوږدوالی
  - پنځم معمولي ټایر — 75’ نښلیدونکي واحدونه پر
  - سټینګرسټیرډ سربېره — 75’ 3’ مخکې تر 4’ وروسته اوېزان.

- پر زین سورو لاریو حد اکثر اودوالی (د ایالتونو تر منځ او په مشخصو لویو لارو کې دوه برابره او یا درې برابره)........................................................................................... 97’

د موټرو لېږدوونکي ښایي دومره بار ولېږدوي چې د هغوی د قانوني اوږدوالي له حد څخه تېرېږي. بار نباید د موټر مخکې تر درې او شا ته له څلورو انچونو څخه زیات تېر شي.

**استثناوې**

د کروندې ماشینونه چې ځنې وخت په لنډو واټنونو کې چلول کېږي؛

هغه موټرونه چې په موقتي ډول د کروندې ماشینونه لېږدوي؛

هغه معامله کوونکي چې د کروندې ماشینونه د ترمیم لپاره لېږدوي؛

هغه موټرونه چې په موقتي ډول د سړک جوړوني ماشینونه او یا د سړک توکي لېږدوي؛ او

- هغه موټرونه چې نور غیرفعال موټرونه د جوړلو لپاره پر لویو لارو کې په ځان پسې را کاږي. په استثناوو کې د ایالتونو تر منځ لویې لارې نه شاملېږي.

**د وزن محدودیتونه (له ځانګړې اجازې پرته)**

ښایي د پله د ون حدود د سړک له وزن څخه متفاوت وي. که چېرته پل د وزن متفاوت حد ولري، نو هلته به ذکر شوی وي.

| | |
|---|---|
| په هر اکسل کې حد اکثر وزن | پونډونه |
| • د ایالتونو تر منځ حداکثر مجاز وزن | 20,000 |
| • په سوداګریزه ساحه کې حداکثر مجاز وزن | 22,400 |
| • په نورو مسیرونو کې حداکثر مجاز وزن | 22,000 |
| په هر پرلپسې اکسل کې حد اکثر وزن | پونډونه |
| • ایالتونو تر منځ حداکثر مجاز وزن | 34,000 |
| • نورو مسیرونو کې حداکثر مجاز وزن | 36,000 |
| حد اکثر ناخالص وزن | پونډونه |

ربښتینی ناخالص مجاز وزن د لومړي او دویم اکسل تر منځ په واټن پورې اړه لري. په سوداګریزه ساحه کې د حداکثر مجاز وزن د معلومولو لپاره د اکسلونو تعداد په 22,400 پونډونو کې ضرب کړئ. د میسوري په لویو لارو کې د مجاز وزن حد اکثر اندازه 80,000 پونډه ده، پرته له هغو پلونو څخه چې د کم وزن اندازه یې پکې لیکلې وي.

- د ایالتونو تر منځ، په لومړنیو او نورو تعیین شویو لارو کې د ناخالص وزن حداکثر اندازه — 80,000

**د اضافه وزن او اضافه وزن اجازې**

تاسو کولای شئ له دې شمېرو سره په اړیکې نیولو سره د اضافه ابعادو او اضافه وزن د اجازې لپاره درخواست وکړئ

1-800-877-8499 یا له (573) 751-2871 سره یوازې د کورنیو اړیکو لپاره، اویا:

د میسوري د ترانسپور د اداري د موټرو د لېږد له برخې سره اړیکه ټینګه کړئ.

Missouri Department of Transportation, Motor Carrier Services Unit
P.O. Box 893
Jefferson City, MO 65102
Fax: (573) 751-7408

د زیاتې کچې او زیات وزن د اجازې ترلاسه کولو لپاره:

- ستاسو د موټر بار باید د کمېدو وړ نه وي؛
- تاسو باید د مالي او ځاني خسارې بیمه ولرئ؛ او

- باید د اجازې یو فیس تادیه کړئ.

**د موټر د مسیر نقشه**

د میسوري د موټرونو د مسیر نقشه د میسوري د ټرانسپورټ په اداري کې د لاسرسي وړ ده. دا نقشه هغه د ایالت له لوري مشخص شوي مسیرونه په ډاګه کوي چې د لويي کچې او درانه وزن لرونکي موټر پرې تګ را تګ کولای شي. تاسو کولای شئ د نقشې د ترلاسه کولو لپاره له 1-866-831-6277 سره اړيکه ټينګه کړئ او یا:

د میسوري د ټرانسپور د اداري د موټرو د لېږد له خدمتونو سره اړيکه ټينګه کړئ

Missouri Department of Transportation, Motor Carrier Services

P.O. Box 893

Jefferson City, MO 65102

Fax: (573) 751-7408

**contactus@modot.mo.gov**

د موټر لېږدوني د خونديتوب فدرالي اصول

میسوري د موټر لېږدوني د خونديتوب ايالتي اصولو له 390 څخه تر 397 برخې د ایالت د قانون په توګه منلې دي. له همدې امله، هغه موټر چلوونکي او موټر چې د ایالتونو تر منځ ګرځي باید دغه اصول مراعات کړي، له لاندې استثناوو پرته:

- سوداګریز موټرونه چې د 26,000 پونډه GVWR یا GCWR وزن ولري. یا له GVWR 26,001 څخه کم وزن ولري، مګر دا چې خطرناک توکي یا سورلۍ لېږدوي.
- هغه سوداګریز موټرونه چې د 60,000 پونډه یا تر دې کم ناخلص وزن لپاره جواز ورکړل شوی وي او یوازې د جامدو ضایعاتو د لېږدولو لپاره کارول کېږي.
- هغه سوداګریز موټرونه چې د 42,000 پونډه یا تر دې کم وزن لپاره مجوز ورکړل شوی وي او د کروندې لپاره کارول کېږي او د جواز په پلېټ کې په "F" سره ښودل کېږي لکه د **RSMo** له 301 .030 برخې سره سم چې اجازه ورکړل شوې ده ،مګر دا چې له کیمیاوي سرې پرته نور خطرناک توکي ولېږدوي.

**د خطرناکو توکو لېږدو**

که چېرته تاسو خطرناک توکي لېږدوئ، نو موټر مو باید د متحده ایالاتو د ټرانسپورټ وزارت له عملیاتي اړتیا او اصولو سره سمون ولري.

**د بېړني وضعیت تجهیزات او سپکنالونه**

کله چې د ایالت په دننه کې موټر چلوئ، د میسوري قانون له تاسو څخه د لاندې مواردو لپاره بېړني تجهیزات نه غواړي:

- هغه موټرونه چې د 42,000 پونډو یا له هغې څخه کم وزن لپاره مجوز شوي وي یا له "F" پلېټ سره ښودل کېږي؛
- د جامدو خځلو لېږدوونکي چې د 60,000 پونډه یا تر دې کم وزن لپاره جواز ورکړل شوی وي؛ او
- هغه سوداګریز موټرونه چې د 12,000 پونډه یا تر دې کم وزن لپاره جواز ورکړل شوی وي.

کوم بل سوداګریز موټر چې د ایالت تر منځ او یا ایالت تر منځ سوداګرۍ لپاره کارول کېږي چې د 12,000 پونډه یا تر دې زیات وزن لپاره اجازه ورکړل شوې وي، باید د بېړني وضعیت لاندې تجهیزات له ځان سره ولېږدوي:

- یو عدد د اور وژني وژونکی. د اور وژني کپسول باید د ثبت شویو لابراتوارونو له لوري د B:C 5 یا تر دې په لوړه کچه ارزول شوی وي.
- د هر ډول او اندازې لپاره یو یدکي فیوز یا بله د ډېر بار لپاره خوندي کوونکي وسیله، که چېرته آلې د بیا تنظیم شویو هغو له ډلې څخه نه وي.
- د خبر ورکولو د آلو له لاندې ترکیبونو څخه یو:
  - درې فلېرونه (د سوزېدو وړ مایع مشعل)، درې فیوزونه او دوه سره بیرغونه. دغه ترکیب نباید د هغو موټرو له لوري و لېږدول شي چې چاودېدونکي یا د اور اخیستنې وړ توکي لېږدوي یا د اور اخیستو وړ اېکسپرېس شوی ګاز د موټور د سون توکي په توګه کاروي.
  - درې سرهالکتروینکي څراغونه او دوه سره بیرغونه.
  - درې دوه لوریز د بېړني وضعیت سره غبرګوونکي مثلثونه.

**د سوداګريزو نقليه وسايلو په اړه معلومات**

پر سوداګريزو نقليه وسايلو باندې بايد لاندې معلومات په واضح ډول څرګند شي؛

- د مالک نوم؛
- د هغه ځای پته چې وسيله ترې چلول کېږي او هغه شمېره چې چلوونکي ته د وسايلو د چلونې د خدمتونو له لوري ورکړل شوی وي. (USDOT 123456 MO)؛ او
- پر هرې سيمه ييزې نقليه وسيلې د "Local" کليمه ليدل کېږي. د کرايي لپاره لېږدوونکي بايد خپله USDOT شمېره چې د "MO" په توروو تعقيبېږي، څرګنده کړي.
- ستاسو موټر اړتيا نلري چې پورته معلومات وښيي، که چېرته:
- که چېرته د 36,000 پونډه يا تر دې کم وزن لپاره جواز ورکړل شوی وي؛ او
- په عادي ډول د سوداګريزو موخو لپاره نه کارول کېږي.

د واټن تعقيبکه چېرته تاسو کوم بس يا لارۍ چلوئ، نو نبايد بل بس يا لارۍ له 300 فوټو څخه په کم واټن کې تعقيب نکړئ. مګر که چېرته تاسو په کومه سوداګريزه يا استوګنيزه حوزه يا د مخکې کېدو په حال کې ياست، نو کولای شئ چې تر 300 فوټه څخه يې نږدې تعقيب کړئ. تل له هغه موټر سره يو د خونديتوب واټن وساتئ چې له تاسو څخه مخکې روان وي. ستاسو د موټر د اوږدوالي د هر لس فوټه لپاره

ستاسو او ستاسو تر مخه موټر تر منځ لږ تر لږه يوه ثانيه واټن وساتئ. د بېلګې په توګه، که چېرته تاسو يو 40 فوټه موټر چلوئ، نو ستاسو او ستاسو تر مخه موټر تر منځ څلور ثانيې واټن وساتئ.

**له رېل پټلۍ څخه تېريدل**

تاسو بايد د رېل له کرښو څخه له 15 تر 50 فوټه مخکې ودرېږئ، که چېرته تاسو يو له لاندې موټرو څخه چلوئ:

- هغه نقليه وسيله چې د کرايي په بدل کې سورلۍ لېږدوي؛
- د ښوونځي بسونه
- هغه نقليه وسيله چې ويجاړوونکي، اوس اخيستونکي، چاوديدونکي يا زهري مواد لېږدوي؛ يا
- هغه نقليه وسيله چې د اور اخيستونکو يا ويجاړوونکو مايع توکو لپاره په لويه کچه کارول کېږي، که بار وي او يا خالي.

که چېرته د رېل کومه نښه نه وي، نو تاسو کولای شئ له کرښو تېر شئ.

**د بار خوندي کول**

د دې لپاره چې له موټر څخه مو بار ښکته ونه لوېږي، بايد خوندي يې کړئ او يا خوندي کوونکی پوښ پرې کش کړئ.

**شا ته پاتې کېدل**

کله چې يو موټر را ګرځي، د شا ټايرونه د مخې له ټايرونو څخه لنډ مسير طی کوي. هر څومره چې د مخې او شا ټايرونو تر منځ واټن ډېر وي، هماغومره، د هغوی د مسيرونو تر منځ توپيرو لوېږي. د دې لپاره چې شا ته پاتې کېدل جبران شي، هر څومره چې ممکن وي هماغومره لرې له ښي لوري څخه کيڼ لوري ته را تاو شئ. هر څومره لرې چې ممکنه وي، له کيڼ لوري څخه ښي لوري ته را وګرځئ.

**د تلې مرکزونه**

ټولې نقليه وسيلې بايد د تلې په مرکزونو کې ودرېږي، پرته له هغو څخه چې د 18,000 پونډه يا تر دې کم وزن اجازه ورکړل شوې وي يا د قانون له مخې په کومه بله بڼه مستثنی شوی وي او يا د سولې يو افسر ورته لارښوونه وکړي.

**نږدې څارونکي**

د دې لپاره چې له يوه نږدې څارونکي سره له ټکر څخه مخنيوی وشي، تاسو بايد:

- سرعت مو کم کړئ. د لوړ سرعت په پرتله په کم سرعت کې له نږدې څارونکي سره ټکر کول ښه دي.
- په ناڅاپي توګه له را ګرځېدو يا درېدو څخه ډډه وکړئ او له وړاندې په سمه توګه سيګنال ورکړئ.

- ستاسو د موټر او له تاسو څخه مخکې موټر تر منځ واټن ډېر کړئ. دا کار به له تاسو سره مرسته وکړي چې له ناڅاپي درېدو څخه مخنیوی وکړئ.
- د شا څراغونه او یا د بریک اشاري د نږدې څارونکي پر لور مه روښانه او مړې کوئ. کله چې خپل سرعت کموئ او یا درېږئ، نو ښايي نږدې څارونکی مو د بریک پر څراغونو باور ونکړي.

**د سر د پاسه ساحه**

تل ډاډ ترلاسه کړئ چې د خپل موټر د پاسه کافي ساحه لرئ.

- داسې اټکل مه کوئ چې په پلونو او د ګذرونو لاندې لیکل شوې ارتفاعات تل سم دي.
- ټول سیمونه، نښې، ونې او هوا کشونه چېک کړئ.

**نرمې سطحې**

ډاډ ترلاسه کړئ چې سطحه ستاسو د موټر د وزن پر وړاندې مقاومت کولای شي. له لاندې مواردو څخه خبر اوسئ:

- د پارکېنګ لاټونه؛
- هوار سړکونه او د پارکېنګ ساحې، په ځانګړې توګه کله چې لمدې وي؛ او
- د رغوني ساحې

**له ترافیکو څخه د تېرېدو او یا ور ننوتو ساحې**

ستاسو د اکسلېټر اندازه ستاسو د موټر وزن ته په کتو متفاوته ده. او له سړک څخه د تېرېدو وخت هم ستاسو د موټر له اوږدوالي څخه اغېزمنه ده. د کوچني موټر په پرتله له سړک څخه د لوی او درانده موټر تېرېدل لویې ساحې ته اړتیا لري.

| | |
|---|---|
| الکول، نشه يي توکي او موټر چلونه | 68-73 |
| سايکلونه | 31-33 |
| د نابينايانو د پوهاوي فنډ | 12 |
| د خونديتوب بوټر نښان | 12-13 |
| په وينه کي الکول(BAC) | 68-72 |
| د ماشوم محدوديتونه | 55-56 |
| د سوداګريز موټر چلوني جواز (A، B يا C ټولګي) | 5, 10 |
| سوداګريز موټرونه | 88-92 |
| له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ | 2, 96 |
| د پلي لارويانو کرښي او د درېدو ليکي | 42-43 |
| دفاعي موټر چلول | 56-62 |
| د ماشوم محدوديتونه (والدين/ سرپرست) | 14 |
| په بې پامۍ سره موټر چلول | 60-61 |
| د موټر چلوني جواز (F ټولګی) | 4 |
| د موټر چلوني جواز نوي کول | 5-8, 10-11 |
| د موټر چلوني د جواز قيود | 9 |
| د موټر چلوونکي د محرميتقانون (.DPPA) | 13 |
| د موټر چلوني ازموينه | 18-21 |
| د موټر چلوني په ازموينه کي ناکامېدل | 21 |
| د موټر چلوني د جواز مثنی (ورک شوی، غلا شوی او يا خراب شوی) | 11 |
| بېړني وضعيتونه | 40-41 |
| د بېړني وضعيت موټرونه | 23, 27 |
| د شين کوريزو ګازونو د بهر کولو کتني | 86-87 |
| تصديقات | 9-10 |
| ازموينه | 18-21 |
| کله بايد ازموينه ورکړئ | 18 |
| چېرته بايد ازموينه ورکړئ | 18 |
| د اعتبار پای ته رسېدل، جواز | 10-11 |
| فيسونه | 8 |
| د ترافيکي سرغړوني له امله محکمي ته نه حاضرېدل (FACT) | 75 |
| د اجازو/ جوازونو فيسونه | 8 |
| مالي مسوولیت | 78, 80-83 |
| د څارني واټن | 57-58, 91 |
| د ګومارني لپاره جواز (E ټولګی) | 4-5, 18 |
| د موټر چلوني بشپړ جواز (له 21 کلنی څخه ښکته) | 4, 16-17 |
| د جنازي مراسم | 33 |
| د فارغ التحصيل د موټر چلوني قانون (GDL) | 15-17 |
| لاسي سېګنالونه | 24 |
| پر لويه لاره موټر چلول | 37-41 |
| د لويې لارې هيپنوتېزم | 40 |
| جواز مو څه ډول له لاسه ورکوو | 14 |

| | |
|---|---|
| پلټنه (د نقلیه وسیلې خوندیتوب) | 84-87 |
| د زده کړې اجازه پاڼه | 3, 15 |
| بیمه (ډولونه) | 80 |
| د منځنی کچې جواز | 4, 15-16 |
| "DHH" نښان د کڼو او په سختی سره | |
| اوریدونکو متقاضیانو لپاره | 12 |
| جوازونه (ډولونه) | 4-5 |
| د جواز چیک لیست | 17 |
| د جواز د پلېټونو | |
| ورکول | 79 |
| شخصي شوي او ځانګړي شوي | 79 |
| د خځلو اچول | 34 |
| الزامي بیمه | 80-83 |
| طبي مراجعه | 9 |
| د موټر چلونې د نظامي جواز نوي کول | 11 |
| د میسوري د استوګنې پته | 6-7 |
| کوچني موټرسایکلونه | 31-33 |
| موټر سایکلونه | 28 |
| د موټرسایکل چلونې د زده کړې اجازه لیک | 3-4 |
| د موټرسایکل جواز (د M ټولګی) | 5 |
| د نوم بدلوني | 8 |
| د موټر نه چلولو جواز/ د هویت کارت (ND) | 5 |
| د پلورنې خبرتیا | 79 |
| د عضوی، سترګې او نسجونو د ورکوونکو معلومات | 11-12 |
| پارکېنګ | 35-36 |
| د سړک د سطحې نښې او معنا ګانې یې | 42-43 |
| پلي لارویان | 30-31 |
| د دایمي معلولیت نښان | 13 |
| اجازه لیکونه (ډولونه) | 3-4 |
| د الکولو او نشه يي توکو فزیکي او رواني اغېزې | 72 |
| د نمرې سیستم | 74-75 |
| د بیمې سند | 70-71, 75, 80-81 |
| اړین سندونه | 6-8 |
| د ارشد اوسیدونکو لپاره د اړینو سندونو | |
| استثناوې | 6-7 |
| د جواز او یا اجازه لیک د ترلاسه کولو اړتیاوې. | 5-6 |
| په سړک کې غوسه | 33-34 |
| د سړک د نښو ازموینه | 19 |
| ګردې تقاطع ګانې | 26-27 |
| د سړک اصول | 22-27 |
| د خوندي موټر چلونې لارښوونې | 55-62 |
| د خوندیتوب او تجهیزاتو اړینې پلټنې | 84-86 |
| د ښوونځي د بس معلومات | 23-24 |
| د څوکۍ کمربندونه | 55-56 |

د انتخابي خدمت راجسترېشن 14
د موټر پلورل 79
د سړک شریکول 28-34
د موټر چلونې ځانګړي شرایط 63-67
د درېدو واټنونه 58
ستاسو د جواز ځنډېدل او یا لغوه کېدل 14
ټبونه (ورک شوي، خراب شوي یا غلا شوي) 79
له نږدې څارنه 57, 91-92
د ټایر فشار 61
ترافیکي پېښې
- څه باید وکړئ 82-83
- د ترافیکي پېښې راپور ورکول 82-83

د ترافیکو افسران 43
ترافیکي سېګنالونه 43-45
ترافیکي نښې 45-51
- رنګونه 45
- شکلونه 45
- ډولونه 46-54

U-راګرځېدل 25
د موټر بېړني حالات 65-67
د نقلیه وسیلې راجسترېشن 78
نقلیه وسیلې ته عنوان ورکول 76-78
د هویت تصدیق 6-8
د قانوني وضعیت تصدیق 6
د ټولنیز امنیت د شمېرې تصدیق 7
د پخواني پوځي عنوان 13
بصري ازموینه 18-19
- د لید ازموینې کې ناکامي 19

د رایې ورکوونکي نوم لیکنه 14
وېب سایټ 2
کله چې د قانون د پلي کوونکو له لوري ودرول شئ
- نو څه باید وکړئ او څه تمه به ولرئ 61-62

لیکلي ازموینه 18

| د موټر چلوني د جواز پوښتني | د تليفون شمېره |
|---|---|
| عمومي معلومات | (573) 751-1887 |
| د اونۍ په 7 ورځو کي 24 ساعته خپلکاره معلومات | (573) 526-2407 |
| د نقليه وسيلي پوښتني | |
| عمومي معلومات | **(573) 526-3669** |
| د ايالتي لويې لاري گشت | |
| Troop A, Lee’s Summit | (816) 622-0800 |
| Troop B, Macon | (660) 385-2132 |
| Troop C, Weldon Spring | (636) 300-2800 |
| Troop D, Springfield | (417) 895-6868 |
| Troop E, Poplar Bluff | (573) 840-9500 |
| Troop F, Jefferson City | (573) 751-1000 |
| Troop G, Willow Springs | (417) 469-3121 |
| Troop H, St. Joseph | (816) 387-2345 |
| Troop I, Rolla | (573) 368-2345 |
| د ايالت په کچه پر لويو لارو گشت وړيا بېړنۍ خدمت | |
| د مرستي شمېره | 1-800-525-5555 يا<br>موبايل *55 |

# خونديتوب ستاسو پر اوږو دی

له 1931 څخه راهیسي MSHP 31 سرتېري د دندې پر مهال وژل شوي دي. له هغوی څخه اته تنه افسران له داسې موټر سره په ټکر کې ووژل شول چې موټر چلوونکی یې پر اختلال اخته شوی و او یا یې پام نه کاوه. په میسوري کې دترافیکي ټکرونو لومړۍ درجه لامل د موټر چلوونکي بې احتیاطي ده. په مهربانۍ سره خپل سرعت کم کړئ او د سړک تر غاړې ولاړو موټرو چې خپل د بېړني وضعیت څراغونه یې لګولي وي، ورو تېر شئ. دا قانون دی



د قانون (د **RSMo** 304. 022 برخه) له موټر چلوونکو څخه غواړي چې د لارې حق ورکړي، په بېړه موازي حرکت وکړي او هر څومره لرې چې امکان لري ښي لوري ته د لويې لارې په څنډه کې ودرېږي، تر هغې پورې هلته پاتې شي چې د بېړني وضعیت موټر تېر شي، مګر دا چې د پولیسو یا ترافیکو د افسر له خوا بل ډول لارښوونه ورته وشي.

پر قانون يوه بیاکتنه چې د 2017 کال د اګست په 28 مه نېټه نافذه شوه، له موټر چلوونکو څخه غواړي چې د بېړني وضعیت يوې ولاړې نقلیه وسیلې ته د نږدې کېدو په صورت کې چې سور څراغ او یا سره او آبي څراغونه یې روښانه کړي وي، یا یې ژېړ او ژېړ او سپین څراغونه روښانه کړي وي:

(1) په احتیاط سره تېر شي او د لارې حق ورکړي، که دا کار شونی وي،د خونديتوب او ترافيکي شرایطو په پام کې نیولو سره نو له خپلې کرښې څخه دې بلې هغې ته واوړي چې ولاړ موټر ته نږدې نه وي، که پر داسې سړک روان وي چې لږ تر لږه څلور کرښې لري او په یوه لوري یې له دوه کرښو څخه کمې نه وي چې له ولاړې واسطې سره نږدې تللې وي؛ یا

(2) که چېرته د کرښو بدلول غیرخوندي او یا ناشوني وي، نو په احتیاط سره تېر شئ او د موټر سرعت مو را کم کړئ، د سړک حالاتو ته په کتو له خوندي سرعت سره حرکت وکړئ.

له دې برخې څخه سرغړونه لومړی درجه تخلف ګڼل کېږي.

This independent translation is not affiliated with the State of Missouri or any of its agencies.
دا خپلواکه ژباړه د میسوري ایالت یا د هغې کومې اداري پورې تړاو نلري.

# ماشوم  یرته

وګورئ مخکې له دې چې

---

## د هغو کسانو په یاد کې
## چې د میسوري په سړکونو کې یې
## د دندې پر مهال خپل ژوند له لاسه ورکړی دی.

---



This independent translation is not affiliated with the State of Missouri or any of its agencies.
دا خپلواکه ژباړه د میسوري ایالت یا د هغې کومې اداري پورې تړاو نلري.